

شاعر:
حاجي محمداسحاق امانزی
په نغمو کې وير
Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په نغمو کي وير

شعري ټولګه

شاعر :

محمد اسحق امانزی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب ټول حقوق د شاعر سره خوندي دي.

# د کتاب پېژندنه


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | : په نغمو کي وير |
| شاعر | : محمداسحق امانزی |
| خپروونکی | : خپله شاعر |
| د چاپ کال | : ۲۰۱۲ ع = ۱۳۹۱ش |
| چاپ شمېر | : ۵۰۰ ټوکه |
| کچه | : ۵۰/ ۱۳×۲۱ سانتي متره |
| مخونه | : ۳۰۰ |
| انلاین چاري | : مختار احمد احسان - د لراوبر ډاټ کام برېښنايي کتابتون |

www.Larawbar.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کتاب لړلیک

1. نباغلي الحاج محمد اسحاق امانزي ته
2. په نغمو کې ویر/ اټک یوسفزی
3. په نغمو کې ویر/ زرغونه عطا ژواک
4. په نغمو کې ویر/ امانزی

**عمومي شعرونه**

5. زه کوچي یم
6. پښتو ژبه
7. هویت
8. هوش
9. هنر
10. نوبهار
11. جنګ
12. نغارې
13. نصیب
14. نبض
15. منطق
16. ملهم
17. معما
18. لېونیه
19. لمبې
20. کوچۍ
21. عبادت
22. عالم
23. کفن
24. ګله
25. ګل او بلبل

(c) ketabton.com: The Digital Library



26. صباح
27. غمونه
28. غروب
29. عيان
30. عندليب
31. عمر
32. علم
33. عقل
34. عدالت
35. ظالمان
36. طالع
37. شعارونه
38. شپول
39. سوله
40. سلام
41. سکاره
42. سرمايه
43. ستم
44. سباوون
45. ښايست
46. سالنګ
47. زور
48. زوال
49. ږوند
50. رنځور
51. رنځ
52. رمز
53. رازونه
54. د زړه راز
55. خطا

(c) ketabton.com: The Digital Library



56. خاوند
57. څوک
58. حق
59. څراغ
60. جوهر
61. جمال
62. توان
63. تقدير
64. تشبث
65. تسکين
66. تجلا
67. تاوان
68. پيوستون
69. بيان
70. بلبلان
71. بډايي
72. باور
73. اوښکي
74. امانت
75. افغان
76. ارمان
77. ورک پسرلی
78. هډونه
79. مرغۍ
80. مخ پر غرو
81. متولي
82. کمال
83. ګلان
84. ګروم
85. غلبلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



86. صفا
87. ډېوه
88. ډېر عمر
89. د ميني هوسۍ
90. دصبر کاسه
91. خبري
92. جام
93. تنور
94. تر سهاره
95. پسرلی
96. اشعار
97. د ارغنداب رود ته
98. د چرخي پله زندان
99. ميوند
100. الهام
101. غرق
102. بهار
103. پردی ستم
104. خوب ليدل
105. د ولس ږغ
106. زما وطنه
107. ميراث
108. مينه نسته
109. ننګ
110. وطنه
111. ګل

**وطني شعرونه**

112. نوی عصر
113. سمندره
114. سمسور

(c) ketabton.com: The Digital Library



115. زمونږ خاوره
116. زما ښکلې کندهاره
117. د ولس مینه
118. پارلمان
119. کوهکه
120. کندهار ته
121. ارغنداب

**ازاد او نیمه ازاد شعرونه**

122. پخې خبرې
123. تاریکه وه
124. لوی اختره
125. زه باران یم
126. توره شپه
127. تا ته وایم (پ) ...
128. ځلوریزې
129. توان په توان
130. فکرونه
131. چاربیتې

**کورنې شعرونه**

132. نورصباح جانې
133. مراکو
134. ښه نیت
135. سرباز
136. ولیجان
137. غمیزه

**رنګارنګ شعرونه**

138. ویر
139. ګونګې ژبه
140. سېلابونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



141. سپوږمۍ
142. زنګاوات
143. ژوندون
144. د ژوند ثمره
145. د ليلې دښت
146. عالمان
147. خپل جهان
148. د چوپان ږغ
149. بوډا
150. خوب
151. جنګسالار
152. دانا
153. پيمان
154. خوشبخت
155. کاروان
156. سوز
157. ډېوه
158. فلوم
159. فشار
160. فرياد
161. قناعت
162. حکمت
163. غم
164. قول
165. پوهه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ښاغلي الحاج محمد اسحق خان امانزي ته

شاعر نه يم اما د شعر په درياب کی د ۴۰ کلونو را په دېخوا لامبوزن يم.

هر هنر د الله ﷻ يوه تحفه او داد دئ چی چا ته ئې ور په نصيب کي، په حديث شريف کي را غلي دي: [الشعراء تلاميذاالرحمن] ترجمه: شاعران د الله ﷻ شاګردان دي. هر څوک نه د شعر استعداد لري او نه په شعر کي د زړه خواله او د زړه براس ايستلای سي، ځکه دا نه يو آسانه کار دئ او نه ئې هر څوک تر عهدې وتلای سي. درويش درانی د وطن پیاوړی او نازکخياله شاعر وايي:

دغــه هــنر آســانه مــه بوله درويشه ياره
د زړه په سرو وينو وينځل د غزل توري غواړي

هـــر کس نبرد چاشــنی درد محبت
اين آتش بی رنګ نسوزد همه کس را

شاعر همېشه ډير بااحساسه او بادرده وي چي خپل سپېڅلي احساسات د خپلو اشعارو له لاري خپلو اوربدونکو ته ډالۍ او وړاندي کوي او د اولس تازه او زاړه دردونه، تاريخ، کارنامې، برياوي، خوښۍ، ناخوالي او د کاميابۍ او خوشالۍ په وخت کي ساقي، پيمانې، د محتسب سره ټکر، بزم او رزم، او د خلوت په دنيا کي ئې بيا د الله ﷻ ذکر په ياد او د قلم په ژبه تر خوله راباسي او د خپلي خيالی نړۍ رنګيني افسانې د تصور په رنګينه دنيا کي تصوير کوي. ښاغلی عبدالرحمان پژواک صاحب وايي: "هر شاعر ځان ته يو جهان دئ چي يوازي دی ئې جهانبان دئ. شعر راز دئ او په راز باندی خبري کول په زړه باندي تجاوز او په روح باندي تېری دئ، زه پر شعر باندی انتقاد ګناه ګڼم".

دا هغه اوصاف دي چي ما د ښاغلي الحاج محمداسحق امانزی په شعرونو کي احساس او درک کړه. نوموړی زما د ډېرو پخوانيو يارانو څخه دئ او په مسلکي لحاظ د عالی تحصيلاتو خاوند يو موفق نظامي شخصيت دئ. د مهاجرت په دوره کي ئې په ۲۰۰۹ کال کي د اشعارو په ليکنه لاس پوري کړ او ژر تر ژره ئې هغه برياوي په لاس راوړې چي ما ئې اميد نه درلود، چي زه په خپل وار ورته د دې برياوو مبارکي وايم. يوه خبره د يادولو وړ بولم چي د ډېر پياوړی، ځوان ليکوال او شاعر ښاغلي اجمل جان اټک يوسفزي لارښودني او مرستي د ښاغلي امانزي په مورد کي د ډېرو د ستايلو او قدر وړ بولم چی زه په خپل وار مننه ورڅخه کوم او کور ودانی ورته وايم.

د ښاغلي امانزي دا دوهمه شعری ټولګه ده چي په چاپ رسېږي، زه په خپل وار ورته د دې ټولو برياوو مبارکي وايم او د خدای ﷻ د دربار څخه ورته کامل صحت غواړم. پر قلم دې برکت وی.

په درناوی
عبدالرحمن رحمانی
د ۱۳۹۰ کال د مرغومي ۲
ډنمارک

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په نغمو کې ویر

(شاعر لکه هنداره)

په رشتیا چي شعر هنر او ادب دئ، مګر شعر او شاعري کسب او علم نه دئ چي د یو کتاب او د یوې ښوونځي او یوې پوهنځي په لوستلو دي خامخا لکه انجینري، نجاري، ډاکټري د ادبي فنونو په زده کړه دي سړی کسبي شاعر هم سي.

ورځ تر بلي روښانه کېږي چي د شعر سرچینه یوازي او یوازي الهام دئ او د غه الهي ورکړه په هغه چا کېږي چي د زړه سمندر ئي له انساني میني او عاطفې څخه ډک وي.

هر انسان ورته لکه په هنداره کي چي خپل ځان ښکاري او د خپل صورت او زینت د برابرولو په خاطر پر خپل سر لاس را تېر کړي او یا که پر خپل مخ یا غاړي لاس تېروي.

که څه هم خلګ او عام ولس شاعران په یو چا، یو کلي، یو قوم اویو ولس پوري تړلي بولي خو شاعران بیا ځانونه د ټول عالم دردمن او خواخوږي ګڼي:

په خپل قام او په خپل ځان چي زړه خوږېږي
د دې دور پـر انســـــان مي زړه خـــــوږېږي
چي د هــــر چـــا په غـــم تل راســــره ژاړي
په خپل زړه او خپل ګربوان مي زړه خوږېږي

د شاعر فکر لکه د اسمان لمني چي ابتداء او انتها نه لري دهرچا په درد اوغم کي دهرچا سره ژاړي نو ځکه شاعردهر چادی او هرڅوک خپل ګڼي٠

شاعر تل مینه غواړي، امن غواړي د خالق په ملکیت کي انسان ته رنګ او خوند غواړي چي د دغو دردمنو انسانانو له جملې څخه یو هم ښاغلی حاجي محمد اسحق امانزی دئ، که څه هم زده کړي ئې د ژوند په بله برخه کي تر سره کړي دي او له مسلکي پلوه یو نظامي سرتېری دئ مګر پر مظلومو انسانانو باندي د ظالمانو تېریو دومره دردولی چي د الهام شاپیرو ورته دا ټول توري (په نغمو کي ویر) له درده ورکړي او دا دئ له ښه شامته ښاغلي امانزي د الهام دا امانت تر موږ راورساوه.

د ښاغلي امانزي په دغو ادبي ملغلرو کي به ځیني فني نیمګړتیاوي وي مګر بې له شکه وینو چي ارمان او پیغام ئې ډېر دروند او د قدر وړ دئ.

د اما نزي د شعر چینه دي لکه د ښکلي ارغنداو شنه باغونه تل همدا سي سمسوره او شېرازه اوسي.

امین

اجمل اټک یوسفزی

ناروې د اوسلو ښار

۲۰وری۱۳۹۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په نغموکي وير

شعر هغه الهام دئ چي د انسان د احساس بيان پکښي نغښتی وي، دا احساس د نظم او يا د نثر په ډول بيانېږي.

زما په اند شعر د انسان له احساسه راوتلي شغلې دي چي د نړۍ پر نورو برخو رڼا خپروي، خو کله نا کله هم په خپلو شغلو نړيوالو ته رنګينه او خوندوره دنياګۍ جوړوي. شعر د انسان د ودي او پرمختيا سره وده کړې او د پرمختيا پړاوونه ئې تېر کړي او تېروي ئې. هغه شعرونه د منلو او خلکو له پاره د قدر وړ بلل کېږي چي د ذهنو په اړولو او ويښتيا کي ونډه ولري بېلګي ئې د دې شاعرانو په اشعارو کي وينو:

خوشحال خان خټک داسي وايي:

د افــغان په ننګ مي وتــړله تــوره
ننګيالی د زماني خوشحال خټک يم

يا رحمان بابا وايي:

لکه زه چي سخندان او هنرمند يم
بل به نه وي سخــندان او هنرمند

يا په اوسنيو شاعرانو کي سليمان لايق:

هغه ځــوان چي د وطن په درد ســوځېږي
که ســل ځله پر مخ لــوېږي پورته کېږي
مــا تري سـل ځله قربان او صــدقه کړې
چي د مرګ په پوله ناست وي لا خوځېږي

يا عبدالباري جهاني:

ځوانه دا څوک يې چي ګــولۍ اوروې
د خــپل نيکه او خـــپل ابــا پر کلي
دې هــديره کي دي خــپلوان پراته دي
څوک ئې پرون څوک ئې پخوا ويشتلي

د وطن د غېږي څخه ليری پروت دردېدلی شاعر محمد اسحاق امانزی يو د هغو شاعرانو څخه دئ چي په اشعارو کې درد او بغاوت ليدل کېږي، دی په يو شعر کي چي ژوندون ئې سر ليک دئ داسي وايي:

تازه پاني د ژوندون مي مړاوي کېږي
ښــه پوهــېږم چي کرار کرار رژېږي

او کله بيا د وطن شنو دښتنو ته سفر کوي او يادونه ئې داسي تازه کوي:

زړه شپېلۍ مي راپيدا کړئ چي باغو ته ځمه
د پسرلي نســيم چلــېږي خــپل رمو ته ځمه

او ځيني وختونه شاعر خپل د خوب په تعبير ځان ته تسلي ورکوي او وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي رنځـــونه د وطن په پام کي نه وي
معلومدار چي د دښمن د لاس اله سو

د دردونو خوږمن شاعر د شهید ماشوم له حاله د خپل احساس زهیري نارې داسي غواړي د نړیوالو وغوږو ته ورسوي، همدا ډول امانزی صاحب د هیواد په ټولو ناخوالو کي ځان خوږمن احساسوي او غواړی د شعر په ژبه د ټولو کړاوونو څخه پرده پورته کي او بیا ځي د کوچیانو د کږدۍ پلو ته او د هغوی د حاله غواړي ځان او نور د شعر په ژبه خبر کړي:

په دښـــتو کي مو خېمې دي زه کوچی یم
پر ښېدیا مي ورځي شپې دي زه کوچی یم
لوی ښتنه فضل غواړم
مـــینه نشـــته زه تل ژاړم

د امانزي صاحب شعرونه ځکه خوند لري چي د ټولني درد او غم پکښي نغښتی دئ او غواړي چي ورته هغه لاري ولټوي چي د زخمونو له پاره ملهم وي.

د شاعر د دې انساني او لوړ لید له پاره د ده په نورو ادبي کارو کي هم د ډېرو بریاوو تمه لر.

زرغونه عطا ژواک

جرمني
۲۰۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په نغمو کي وير

په نغمو کي وير زما د شعرونو دوهمه ټولګه په داسي وخت کي خپرېږي چي د پرد ېسۍ پېټي مي پر شا او د پلرني ټاټوبي څخه خورا ډېر ليري په داسي يوه خاوره کي ژوند کوم چي بشر دوستي، انسانيت او د خلګو مهربانه زړونه ئې په نړۍ کي نظير نه لري او د طبيعت داسي ښکلا لري چي د هر ترې تنده پکښې ماتېدلای سي سربېره پر جګو غرونو، شنو درو، ښکلو ښکلو ابشارونو، ګڼو ځنګلونو، ښايسته سمندري ساحلونه، په زرګونو لوی او کوچنۍ جزيرې هم لري حتی په شمالي سيمو کې داسي تفريحي سيمې سته چي د دوبي شپې مياشتي ورځ او لمر پر ځلېږي مګر په ژمي کي شپې مياشتي شپه او توره تاريکه وي. له دې سره جوخت ټول په دې پوهېږو چي ګران هيواد افغانستان د تاريخ په يوه داسي ستونزمن، پېچلي او خواشينوونکي پړاو کي رانغښتی چي ګوټ ګوټ ئې د بې رحمانه جنګي اور په لمن کي سوځېږي، چي هر کور او کلي ترېنه زيانمن سوی او هيڅ داسي ځوک نسته چي د دې اور څخه په امن کي پاته سوی وي. د هيواد دننه او دباندې د بااحساسه او دردمنو افغانانو زړونه ئې رنځور کړي، ويني ترې ځاځي چي غلبلې ئې د مځکې د کرې تر هر کنج او کناره پوري رسېدلي دي.

يوازي افغانان دي چي د دغي تباه کوونکي غميزې په غم کي سوځي، دوی د نړۍ په هر ګوټ کي چي ژوند کوي ارام نه دي کښېنستلي او خپل ګران ولس، هيواد او وطن مرستي ته ئې د خپل توانه سره سم وردانګلي، ځوک ليکني کوي، ځوک شعرونه وايي او ځوک ويناوي کوي څو وکولای سي له دې لاري نه يوازي خپل بلکي د نورو اړوند کسانو روحي او له درد ه ډک غمونو ته ارامش او تسکين وبخښي. زه هم د دغو افغانانو له ډلي څخه يو کس يم چي ژوند په ناروې هيواد کي کوم، مګر چرت، فکر او احساس مي تل د ګران هيواد او خپل ولس سره تړلی په ټولو دردونو ئې دردمن يم او د خپل نيمګړي توانه سره سم مي خپل د زړه او فکر احساسات د قلم په ځوکه په يوه شعري ټولګه کي اظهار کړي څو وکولای سم خپل د زړه درد نورو هيوادوالو ته بيان او ورسره غمشريکي وکړم. دا دئ اوس دوهم ټوک (په نغمو کي وير ) تر سرليک لاندي خپلو خلګو ته ډالۍ کوم. لکه چي پخوا مي هم ليکلي وه زه مسلکي ليکوال او شاعر نه يم که چيري زما د شعرونو په ټولګه کي تخنيکي نيمګړتياوي موجودي وي هيله لرم په خپلي پوهي او علميت سره ما وبخښي زه مخکي له مخکي ستاسي د احسان ممنون يم.

په دې اړوند د پښتو ژبي د درانه، قدرمن ليکوال، ژورنالست او پيژندل سوي تاند شاعر ښاغلي اجمل اټک يوسفزي او د کندهار، کندهاريانو او افغانانو زړونو ته نژدې نامتو هنرمند محترم استاد عبدالرحمن رحماني صاحب څخه د زړه له کومي مننه کوم چي د دې ټولګي په راهنمايي ، تصحيح او نېکو مشورو سره ئې د خپلو هيڅ رنګ ادبي مرستو سپما نه ده کړې او ما ته ئې د ليکلو داسي ډاډمن توان رابخښلی چي زه ئې په کامله توګه تر احسان لاندي او متشکر يم.

همدارنګه د محترمي خور زرغونه عطا ژواک د راډيو افغانستان پخوانۍ نطاقي، ژورنالستي او اديبي څخه اظهار د سپاس کوم چي لکه خپل مهربانه پلار ارواښاد مرحوم محمددين ژواک غوندي چي د پښتو ژبي نامتو اديب، ليکوال او شاعر وو د هغه په شان خپل ښه نيت او نېکي هيلي د هيڅا څخه و نه سپموي او غواړي د هغه مرحوم لاره تعقيب کړي او زما د ټولګي په اړوند ئې خپلي ځرګندوني تاسو هيوادوالو ته ډالۍ کړي دي زه بيا هم د دوی څخه ډېره ډېره مننه کوم.

په درنښت

محمد اسحق امانزی

ناروي/۱۰ اپريل ۲۰۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عمومي شعرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زه کوچی یم

په د ښتو کي مو خېمې دي زه کوچی یم

پر ببېديا مي ورځې شپې دي زه کوچی یم

لوی څښتنه فضل غوا ړم

مېنه نسته زه تل ژا ړم

درې ورې مي چارې دي زه کوچۍ یم

رحم وکړې چي رنځور یم

خپلي خاوري کي منصور یم

د بابا مېني سپېرې دي زه کوچی یم

پښتون زما سکنی ورور دئ

لر تر بره زما کور دئ

ښکلي ښکلي يې شېلې دي زه کوچی یم

ابا سین ته زه کوچېږم

د امو سره اوسېږم

پسرلي کي مي مېلې دي زه کوچی یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه يوازي به خوارېږم

هم پرتا باندي کړېږم

تر ستم لاندي مي شپې دي زه کوچی يم

نن چي زه په اور سوځېږم

لا به څومره نور وريتېږم

شاوخوا مي غلبلې دي زه کوچی يم

د کوشان په دبدبو کي

د پښتو په سلسلو کي

هره خوا زما ريښې دي زه کوچی يم

د هندوکش د غره سرونه

د پامير غرونه دښتونه

پلني پلني مي خېمې دي زه کوچی يم

کوچ په شا وهم مزلونه

ګزومه ټول واټونه

زما د تورو ازانګې دي زه کوچی يم

ګوره واوره پښتون وروره

زه او ته د پښتون کوره

راپسې ډېري ګيلې دي زه کوچی يم

(c) ketabton.com: The Digital Library



راسه لاس په لاس کې ورکړو

د يووالي لار مو سپر کړو

هره خوا توري تيارې دي زه کوچی يم

کله ګرځم په کابل کې

شپې کومه په زابل کې

د پلرو مې هديرې دي زه کوچی يم

رېغ راپورته د سوري کړئ

جوړ همت د ابدالي کړئ

د ميرويس مو ښې جرګې دي زه کوچی يم

پېښور مې د کور غېږه

کندهار مې د مور غېږه

پېغلې نجونې زرغونې دي زه کوچی يم

تور ماتم د مغوليا نو

جوړ قانون د ځنګليا نو

مخ ته نوي د سيسې دي زه کوچی يم

څوک رمې را څخه غلا کړي

نور کښېنتونه مو تالا کړي

د هر چا پر ما حملې دي زه کوچی يم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعا وکړئ مومنانو

د قومونو عالمانو

د وحد ت ښې نتیجې دي زه کوچی یم

په هر ځای کي جوړي شخړي

ټولي لاري دی تړلي

د د ښمن راته پلمې دي زه کوچی یم

راځئ ملا وتړو خپله

سر مو جارکړو یو تر بله

په یووالي کي فایدې دي زه کوچی یم

خپل منځي دبوال به وران کړو

ټول به یو کورګی ودان کړو

زړې د کرښو مفکورې دي زه کوچی یم

امانزیه زړه به ښا د کړو

د پښتون کور به آباد کړو

د اولس دا فیصلې دي زه کوچی یم

۱۹ دسمبر ۲۰۱۱ع

ناروي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پښتو ژبه

مور مي ما ته پښتو ژبه ده ښودلې
لا ما شوم وم ما خبري په کولې
په خال پوخوسوم روان د پښتو کور ته
په ګونګۍ ژبه ورتلم د پښتو لور ته
زما د ژبي قلم مخ پر غوړېدو سو
تکلم مي د هر شي په پوهېدو سو
ما شروع کړې لیک او لوست په پښتو ژبه
ځکه اوس راته افضله خپله ژبه
د پښتو ژبي ویاړ مي په نصیب دئ
فکر کړه مهربان راته حبیب دئ

✶✶✶

چي مي زړه ته پښتو ژبه را ډېوه سوه
د وجود په هر سلول کي مي خپره سوه
سر مي جار اولاد مي جار تر پښتو ژبي
زما تر مرګه پر زړګي مي نوشته سوه
ما چي مالګه ده څکلې د خپو ژبو
په خوندونو کي پښتو راته خوږه سوه
سر تر پا یه ده کامله په خپل توان کي
ځکه ما ته د خپل مور په مرتبه سوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لوستلو د کتاب کې ئې لذت سته
افتخار ئې د بابا نيکه شمله سوه
که څوک ستا په ارزښتونو پوره پوه سي
ډېر باور دئ تاريکه ځني ګوښه سوه
د جهان په تمدن کې ځان سمبال کړه
ستا په زده کړه پښتو ژبه معجزه سوه
ژبه هم په علميت پوري تړلې
علميت که ځلوې ښه وسيله سوه

***

زه پوهېږم ته کړېږې ښه پرېمانه
په خپل وس باندي ځورېږې ښه پريمانه

تل پرتا د ښمنانو سترګي سرې دي
هره ورځ د ظالمانو دسيسې دي
په تاريخ کي ښه څرګنده دا بيان دئ
سل په سل کي مې دا فکر دا ګومان دئ
د لستوني ماران هم سته په بغل کي
ډله ډله د تهمت وي په درشل کي
تا ته نا ست دي دښمنان بيا په خزه کي
چي ته ورانه دوی به ګرځي په مزه کي
اې پښتونه غيرتمنده په خبرو نه شل کېږې
په عمل کي فکر وکړه سوال په ډله ښه حل کېږي
خيري وبا سئ د زړو نه دعقدې خبري پرېږده
اساسي خبري نوري د ګيلې خبري پرېږده

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قدرت خاوندان پام نه کړي و تا ته
خپل مقام په تا ساتي نه ګوري شا ته

* * *

هر پښتون چي په پښتو ژبه هو وکړي
خپل د سر په قرباني هغه پوره کړي
په پښتو د هو ويل قوي قانون دئ
نذير نشته په جهان که يې پرتله کړي
کا کړي پښتو خو نوره هم غښتلې
که څوک غواړي يو وار بيا دې تجربه کړي
چا چي کړې وي پښتو په يو مطلب کي
مطلب سر ته رسوي يا مرګ پرده کړي
نن چي هر پښتون مين پر خپل پښتو دئ
د بابا ميراث دي سترګو ته رانجه کړي

* * *

زما ژبه چي پښتو وي زه پښتون يم
که مي ژوند پر ختمېدو وي زه پښتون يم
سپلنی تر خپلي ژبي او پښتو سم
که مي لار پر هديرو وي زه پښتون يم

* * *

افغاني ځوانان په تا باندي وياړېږي
پښتني پېغلې ملالي را يادېږي
تاريخ موږ ته ښه څرګنده راښودلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتو تر نامه وینې قربانېږي

***

اوس اظهار د پښتو کېږي په جهان کې
عملي پېژندل کېږي په بیان کې
ضرورت سته پښتانه په خپله پوه سي
څرګند رول یې را ښکارېږي په ښه شان کې

***

دښمنانو ته څرګنده ښه پیغام دئ
د پښتو ژبه پخه که ورته پام دئ
نا مرا د ه هلي ځلي بې فا یدې دي
په وروري کې تهمت مه کوه الزام دئ

***

هدایت مو وړ ته راکړی سید جمال الدین افغان دئ
پردی ژبه زده کول یو ښه کمال د ده بیا ن دئ
خپله ژبه هیرول بې کمالي ده
پورته اوره که دې دېر باور په ځان دئ

***

پښتنو کور مو ا باد نن په پښتو کړی
غلیما ن غواړي جوړ سوی کور دې وران کړي
نن د چال او چالبازۍ خبري دېري
که لاس بر سي تا په ځا ن پوري حیران کړي
سیاسي تجاران ستا ناري وهي تل
په خیرن زړه خرخول دي په یو آن کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپـــل د لاســـه همېشـــه پـــه زړه زخمـــي يـــې
پـــه پيســـو دي خرڅـــوي کـــا ر د نـــاځوان کـــړي
خپلـــه ژبـــه دي ســـاته بيـــداره اوســـه
پښـــتو ژبـــه بـــه دي لـــوړ نـــا م او نښـــا ن کـــړي
تجربـــې راتـــه ښـــودلې دښـــمنا ن د ژبـــي ثـــوک دي
ســـته نـــاوړه پلانونـــه د پښـــتون فرهنـــګ ويـــران کـــړي
د پښـــتون يـــوه پښـــتو ده چـــې تـــر مرګـــه پـــر ولاړ وي
امـــانزی چـــې پښـــتو غـــواړي خپـــل وجود بـــه تـــر قربـــان کـــړي

ناروي ۲۵ مارچ ۲۰۱۱ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هویت

که د ښه قلم خاوند یې خطرات نوشته کېږي
خپل هویت څرګند وای سي څوک په شعر که پوهېږي
لر په سوچ د خپل وطن سه کمبودي د هري لوري
خلک ډېر ورته محتاج دي چې اذهان په تنویرېږي
پرېږده ډېره دورنګي نن خپل اصلي مخ دي ښکاره کړه
هغه وکړه چې ضرور دي څه چې ستا په وسه کېږي
هیڅ ته خبرېږې نه په خپله نه قلم په لاس کې اخلې
جګ پر لوړه غونډۍ ناست یې صرف بیان در ته رسېږي
ظالم جانه سد دي خلاص کړه شرارت کې ګټه نسته
مرسته وکړه د اخلاصه چې د زړه په مینه کېږي
ترازو په لاس کې واخله د انصاف سترګې بینا کړه
خپل سرحد دي برملا کړه مور ته هر څه معلومېږي
خپل ژوندون ته فکر وکړه ټول عبث در ځنې تېر سو
کوم کارونه چې دي کړي لاس دي تش مخ په تورېږي
سر دي کښته که ګرېوان ته مه ګډېږه ډېر بې ځایه
برخه ستا به د دې کار وي امانزي ته نه رسېږي

ناروي ۲۸ مارچ ۲۰۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هوش

هوشه ولي لېونی يې د زړګي ثخه جلا سوې
ستاسي دواړو يوه لاروه ته نن ولي بې وفا سوې
مصلحت په منځ کي نسته د ارمان لاري مو دوې کړي
زړګی تل په اور سوځېږي ته د غم سره پخلا سوې
پردیسي د وطن ګوره هره ورځ پر ده حمله يي
ته اوچت کړې پروازونه د نژدې نه په خندا سوې
دیدنۍ د غم وګوره چي پر زړه باندي تېرېږي
ستا قسمت چي ورسره وي بیا هم هلته په هاها سوې
ارمان يو د وطن مينه لوړ هدف ستاسي په ګډه
امانزی به وي خوشحاله که ته زړه ته همنوا سوې

۰۴ سپتمبر ۲۰۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هنر

روزمره چاري سمبال په سعادت کړه
ځان په کسب او کمال باندي عادت کړه
هنر زده کړه ډېر هوسا به يې په ژوند کي
بې هنره فکر هيڅ نه وي په خوند کي
بې کماله به محتاج د بل د لاس وي
پرابلمونه به قطار زړه په وسواس وي
مور او پلار که د اولاد خيرخواهي غواړي
ډېر ضرور بله ډېوه د پوهې غواړي
که ثوک هڅه د تعليم کړي امانزيه
ثمره به يې مثبته وي لاليه

نا روي ۲۲ اپريل ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نوبهار

د ژوندون په نوبهار کي زړه بلبل سو
لېونی سو د هر لوري نه اوربل سو
لالهانده ډوب تر سره په خيالو کي
شپه او ورځ به د چرتونو سره مل سو
د چارې لاري ستونځمني وې په مخ کي
د پاک رب ثخه د مرستي په اټکل سو
په پاک نيت تمنا وړاندي سوه ثبستن ته
مخ په وړاندي ور روان د هغه ګل سو
تزلزل او وسوسې هيجاني سوې
ناچاري وه تصميم جوړ هلته توکل سو
د خالق مهرباني چي درسره وي
مخ ته درومه بې له خنډه هدف خپل سو
په پاک زړه مرام حتمي به حاصلېږي
امانزی د رب احسان راسره تل سو

ناروي ۰۹ نومبر ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جنګ

ټولـه ګورو چي پـه جنګ کي زمـوږ ولـس پـه اور سـوځېږي
سـوله ځغلـي زمـوږ د مينـي جنګ مو کور پـه کور جوړېږي
خپلـــي ګټـــي معتبـــري د وطـــن تـــر مـــور تېرېـــږي
جنـګ د ژونـدیو وسيله سـوه زورور پـــه زور چلېـــږي

د ا د جنګ پيغام د چـــــا دئ
خوند يې تريخ تر زهرو بيا دئ

جنګـه تـه څـومره ظـا لـم يـې ولســـونه ټـــول تبـــاه ســـول
تپـل سـوی پـر عـا لـم يـې لـوی کورونـه پـو پنـاه سـول
تـــه د چـــا پـــه ارا د ه يـــې هغـــه چـــا لـــره ور درومـــه
تـه بـه هـم يـې سـتړی سـوی زه هـــم ســـولي تـــه ورځمـــه

رنګ دي ورک سه رانه تېر سه
نه دي ګـــورم رانه هـــېر ســـه

خپـــل مرګـــی درســـره بـــوزه مـــوږ ببـــزاره ســـوو لـــه ده نـــه
پرهرونـــه بيخـــي ډېـــر ســـوه هـــره ورځ يـــې زه ګنډمـــه
جنګـه ځـه پـه مخ دي ښـه سـه مـوږ بـې تـا نـه هـم راضـي يـو
لـــږ مـــو پرېـــږده پـــر ارامـــه ببخـــي ډېـــر ټپـــي ټپـــي يـــو
تـــه پـــر مـــوږ يـــې بـــل تپلـــی تـــه پرمـــا بـــل مښـــلولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا په غـــېږ کي تباهي ده

کور په کور سرګرداني ده

زمـوږ دي هـر څـه لولپـه کـړل　　سپين سترګي او بې شرمي ده
کلـــه لـــوېږي د خروشــــه　　پـــر ولـــس مـــي بيغـــوري ده
پـه غضـب د خـداى اختـه سې　　پېرزوينــــه دي وحشــــي ده

اور دي واخلي ستا نيتونه

امـــانزی ښــــيرا کـــوينه

ناروي۱۲ اکتوبر۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نغارې

نن د سولي اوازونه پورته کېږي
پورته کښته نغارې ستا د همت دي
د سرليک خبر شروع سي له افغانه
افسانې پر هر مقام ستا د غيرت دي
که هر څومره کتابونه نوشته سي
زما وطنه هنګامې ستا د عزت دي
چي سرونه افغاني پر تا قربان وي
ړون عمل کي جذبې ستا د الفت دي
دښمنان په توطئو کي درته ناست دي
امانزيه دوی پر ضد ستا د وحدت دي

ناروي ۲۳جون۲۰۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نصیب

خپل د کوره مسافر یم هوس تل بهار ته کېږي
ماشوم توب چې را پیاد سي هیله خپل دیار ته کېږي
ښکلی غرد خپل کوهک مي جګ و سترګو ته ولاړوي
د همزولو مجلسونه چمن ګل کوهسار ته کېږي
چرت وهم د بابا ژوند ته ښه باغچه وه دا نارو
مجلسونه سراچه کښې يو ثه چل انوار ته کېږي
مازد یګر به مور ختلو د کوهک د غره و سر ته
شا او خوا به تماشا وه سیل بل ګلزار ته کېږي
مسخرې ټوکي ټکالي د همزولو وه په منځ کې
خوشحالي تر حده تېره زړه بآلکل سردار ته کېږي
مسافر خیالونه ګوره هر ګړی ځغلي وطن ته
امانزی نصیب ته ګوره زما اټکل کندهار ته کېږي

ناروي۱۰مارچ۲۰۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نبض

خوار زړګیه نبض دي کله ارامېږي
اوراخیستی ټول وطن په جنګ کي بیا

فشار لوړ سو ضربان نه کرارېږي
افغاني بچیان ولاړ په ننګ کي بیا

خپګان سته چي لا تر څو به تکرارېږي
سوله راسي خوشحالي په شرنګ کي بیا

پر ګریوان چي دي سرې اوښکي را بهېږي
ځیګر پرېږده چي رنځور په ترنګ کي بیا

اما نزیه ټوله خلک راپوهېږي
شریانونه سول کمزور په منګ کي بیا

ناروي ۱۳ فبروري ۲۰۱۱

# منطق

د ژونـــــــد ون پـــــــه ســـــــخت پـــــــړاو کـــــــي د منطـــــــق لاري دوې کېـــــــږي
ثـــــوک تېشـــــه وهـــــي و ځـــــان تـــــه ثـــــوک د نـــــورو غـــــم کـــــي کېـــــږي
دا ضـــــمیر د یـــــو انســـــا ن دئ د انصـــــا ف تلـــــه پـــــه لاس کـــــي
عقـــــل هـــــوش د ځـــــان پـــــه ګټـــــه یـــــا وطـــــن زړه کـــــي ګرځېـــــږي
ثـــــوک یـــــوازي د ځـــــان غـــــم خـــــوري ثـــــوک دلســـــوز پـــــر خپـــــل ولـــــس وي
پـــــه انجـــــام کـــــي ټولـــــه خلـــــګ د ســـــپین ســـــان کفـــــن کـــــي لـــــوېږي
وخـــــت د عـــــدل پـــــه مېـــــزان کـــــي خپـــــل عمـــــل د لاري مـــــل وي
ثـــــوک توښـــــه لـــــري د ځانـــــه پـــــه خپـــــل نیـــــت کـــــي هوســـــېږي
یـــــا پښـــــېمانه پـــــر خپـــــل کـــــا روي د چـــــارې در وي تړلـــــی
ټولـــــه شـــــته ورځنـــــي پـــــا تـــــه ډېـــــر افســـــوس ورځنـــــي کېـــــږي
امـــــانزی پـــــه دې بـــــاور یـــــم ګټـــــه ښـــــه ده مســـــتقبل تـــــه
نـــــدامت پـــــه مـــــنځ کـــــي نـــــه وي ژونـــــد پـــــه دوره کـــــي تېرېـــــږي

ناروې ۰۲۰۶۲۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ملهم

نن مې بیا د وطن غم راته سور اور دئ
ورته ګورم زړه کباب هلته جوړ شور دئ
د ګلونو په امید بورا کړېږي
یا پتنګ غوندې انګار کې ورته ګور دئ
د وطن د ګلو بوی د زړه ملهم سي
اما نزیه د وطن مینه تکور دئ

کابل ۱۲۰۶۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# معما

د ځوانــــــانو مــــــخ تـــــه پـــــروت يــــو کـــــوچنی ســـــوال دئ
د جـــــــــواب لپـــــــــاره ډېــــــــر کمکــــــــــی مهـــــــــال دئ
درې عــــــــدده يــــــو تــــــر بلــــــه ســــــره ضـــــرب کـــــړي
بيـــــا درې واړه خپــــــل پــــــه مــــــنځ کــــــي ســــــره جمـــــع کـــــړ
کـــــه جـــــواب د ضـــــرب او جمـــــع پــــه يــــو شـــــان ســـــو
جــــــواب درســــــــت دئ امانزيــــــــه ذ کـــــــي ځـــــــوان ســـــــو

نا روي ۳۱ اکتوبر ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لېونيه

سد دي خلاص کړه لېونيه پرابلمونه خورا ډېر سول
اصلي چاري خو لا پرېږده بد نيتونه خورا ډېر سول
وخت ضايع پر علمي کار کړه که څوک ګټه ځني واخلي
بد غرور او غوسه پرېږده هدفونه خورا ډېر سول
په ښه نيت او پېرزوينې مطلب ټول حاصلېږي
عقده و با سه د زړه نه غټ سوالونه خوراډېر سول
ارام فکر سرګردان دئ څه مطلب لرې په زړه کي
خودخواهي کي پښېماني سته تهمتونه خورا ډېر سول

د نفاق او بد نيتيو تاوان ډېر وي په ژوندون کي
شا وخوا ته ښه وګوره بد چمونه خورا ډېر سول
څه په کار دي ما او تا ته شرايط ډېر حساس سوي
مهم فکر د وطن دئ لور ږغونه خورا ډېر سول
د افغان کور که خالي دا اندېښنو او تشويشو سي
بيا به ورځي د حساب وي تور کارونه خورا ډېر سول
په انجام د ژوندانه کي نابغه هم لېوني سي
پوه زيرک عالم پوهېږي چي دردونه خورا ډېر سول
کاشکي ډېر مو واى ليدلي چي سپړلاى مو پوښتني

(c) ketabton.com: The Digital Library



تو پير نسته ډېر په منځ کې پټ رازونه خورا ډېر سول
امانزيه پردېسي د ه د وطنه بېګانه يو
حوصله نور هم په کار ده لوی خيالونه خورا ډېر سول

نا روي ۱۴ جنوري ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لمبې

د وصال لمبې په زړه کې پلنه کېږي
هوسونه په کوګل کې پورته کېږي
پر بدن د بېلتون تبې ښوربدلي
سوړ زګېروی مې په ځګر کې غوټه کېږي
شنه باغونه د وطن چې را په یاد کړم
زړه مې ګوره چې هوس یې ورته کېږي
اختر کې د وطن ښه خوشحالي وه
د افغان د زړو خوښې ته هڅه کېږي
افغاني چرتونه الوزي وطن ته
اما نزیه امید سته چې یو څه کېږي

ناروي ۰۱۰۶۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کوچۍ

د کوچيانو په خېمه کې ښايسته پېغله ولاړه
لاس او پښې يې وه سره کړي نرۍ لښته جګه غاړه
سپين بدن سپين يې غاښونه د سرو شونډو په کاسه کې
داسې برېښي د غاټول غوټۍ چې وي په سحرګه کې
سور بارخو پر ځلېدو سو چې د لمر وړانګه پر راغله
شاه پېرۍ ورته عاجزه ښکلی مخ تر هر مهاله
بوري سترګي غټې ورځې تور وېښتان يې ځلېدله
جګه پزه لوړه ونه سره سالو کې تاوېدله
تصور راڅخه ورک سو چې دا څرنګه ښکلا ده
د څښتن قدرت ته ګوره په سپين مخ کې ښه جلا ده
افغاني لباس په تن کې پر ګنډلي متيکې وي
د سپين زرو پايزېبونه په نکروزو باندي پښې وي
سپين مړوند کوتک په لاس کې د ګاش خوا ته سوه روانه
وريې خلاص کړ خپل پسو ته د باغلور ته تلل خوشحاله
دي پېولـه سل پسونه د انګورو په باغو کې
هم يې لږ څه زمزمه وه چې به تلله په کوڅو کې
خيال په زړه کې طوفاني و ټول غروريې افغاني وو
امانزی شاباس پر وايې ټول همت يې پښتني وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناروي ۲۰ اګست ۲۰۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عبادت

د ژوند سمه لار اختیار پر روانېږه
خو دي عهد او پیمان وي پر درېږه
ستا چې عقل او منطق قلب ته تسلیم وي
د هغه ارزو قبوله پر تالېږه
زړه چې غواړي اطاعت د خپل مالک کړي
خود سري پکښې کې نسته تر جارېږه
که په نیت کې څوک صادق وي خپل وطن ته
داسې خلک مخ ته کړه ترشا ته کېږه
چې لایق د عبادت تا ته معلوم وي
امانزیه په خپل توان تر قربانېږه

ناروې ۲۷ اپریل ۲۰۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عالم

که څوک څومره لوی عالم د زمانې سي
چې ملا تړ يې اولس نه وي بې فايدې سي
سرزوري کې ډېر تاوان چا ته رسېږي
بريتوب د ټول اولس په پرګنې سي
که د عدل او انصاف عمل ناتوان وي
امانزيه داسې کار کې هغه خپله بې پردې سي

ناروي ۲۵ اکتوبر ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کفن

هره ورځ نوي دامونه دي وطن ته
زړه کي حک زاړه چلونه وي میهن ته
په ظاهر کي د سمبال غوړي وعدې دي
په باطن کي د سیسې جوړي چمن ته
اخر څومره درواغ وايې خپل ولس ته
لوړ طاقت کمزوری سوی یې شکمن ته
په انجام کي د افغان تاریخ ته ځیر سه
ټول د پایلي په مقصد یو دي دښمن ته
فریبکار د خپل هویت څخه څرګند دئ
امانزیه ارمان ځي د دوی کفن ته

ناروي۱۱۰۷۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګیله

ژوندون تېر سو خوار زړګيه هيله پرېږده
ټول دي وليدل په سترګو ګيله پرېږده
څه چي تا په نيت لرل و خپل وطن ته
ټول لاهو سول په درياب کي سيمه پرېږده
بې غوري د خپله لاسه په مرچل کي
خپل سري وه په باطن کي هڅه پرېږده
د نفاق زړي په برخه د پښتون وي
په کلو دي وليدله دعوه پرېږده
ترخې شپې به تېرېدلې په تشويش کي
د سبا لپاره نور وسوسه پرېږده

جوړېدلي توطيې د خپل ملګرو
سترګي سرې وې پر چوکۍ چي هغه پرېږده
کفايت د مشرانو ډېر کمزور وو
ګام تر واخله نور ترخه د سيسه پرېږده
خيانت چي هم رديف ته لو ګناه ده
امانزيه وخت سو تېر نور قصه پرېږده

ناروي۱۰جنوري۲۰۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګل او بلبل

په مابین د عاشقانو کښې ګیلې وي
راز او نیاز کې همېشه جوړې پلمې وي
که د مینې په څپو کې څوک لاهو سي
هر شېبه د دوی په یاد کې خاطرې وي
ګل ګلاب د خپلې مینې نه شاکي دئ
اندېښنه چې بلبلان بې وسیلې وي
ګل فریاد کړي تورې شپې خنګه سبا کړي
د بلبل زړه کې لیکلې ترانې وي
ګلان ځان سینګار وي چې ژر سهار سي
بلبل ډوب د عشق په خیال نوي نغمې وي
د لمر څرک کې ګلان ټول په تبسم سي
بلبل ژاړي ګلان خاندي زمزمې وي
لمر تود ه لمن پر هر لوري خپره کړي
زړه د ګل او د بلبل کې اندېښنې وي
په شېبو د وصال دواړه نه مړېږي
دواړه غرق پورته د مینې ولولې وي
څوک چې سوځي ځان د مینې په لمبو کې
اما نزیه د دوی مخ کې زلزلې وي

ناروي ۲۳جولای ۲۰۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# صباح

صباح ژر مور ته را درومه اولس ټوله انتظار دئ
ټګماران دي په مزو کې ښه همکار ورته اغیار دئ
بد بختي ده په وطن کې هره ورځ دردونه زېږي
غم د چا په کور کې شین دئ چې و خاوري ته غمخوار دئ
اوس عجبه زمانه سوه وروړ د وروړ په چرت کې نه دئ
مرسته پرېږده ځني تښتي توطئه د ده روزګار دئ
څوک فریاد د لوږي کاږي ځني مست وي په چړچو کي
انساني معیار ورک سوی د مذهب څخه بېزار دئ
پلانونه د بلډنګ دي نور هر څه ورځني ورک سوه
امانزیه سیل و کړه ضمیر نسته دغه کار دئ

کابل۱۵۰۶۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غمونه

هره شپه وي مېلمانه زړه کي غمونه
رانه تښتي په شېبو ليري خوبونه
حملې وکړي پر دماغ باندي چرتونه
هر ګړی مي خوار زړګی په رنځوربږي
د بېلتون څپې دي پورته کښته کېږي

✶✶✶

را په ياد کړم د وطن ښکلي کښتونه
په هر باغ هره باغچه کي يې ګلونه
پسرليو کي د مشکو وي عطرونه
کاشکي خلک هم بينا په روښنايي وای
د علمي زده کړو لپاره فرصتي وای

✶✶✶

ډېر افسوس د وطن غم په زړو کي نسته
پر مخ تللی تخنيک هم په لاس کي نسته
هيڅ زړه سوی يې پر ولس په پام کي نسته
ځکه فکر هلته ډېر کوي مزلونه
بې اختياره مي د خيال وي پروازونه

✶✶✶

(c) ketabton.com: The Digital Library



غم د هري لوري ځغلي د زړه کور ته
بې حسابه ور روان وي لکه پورته
چې مېلمه وي مه پوښتنه کوه نور ته
هم د شرقه هم د غربه راکوچېږي
ډېر ظالم دئ هيڅ يې زړه نه راسوځېږي

★★★

د ايساف ډېر قوتونه مېلمانه دي
مېشته سوي د تروريزم په نامه دي
ټوله موخه يې څرګنده پښتانه دي
صداقت نه معلومېږي په ګفتار کي
هره ورځ نوي وعدې وي په اظهار کي

★★★

په عمل کي دو رنګي راته ښکاره سي
په دوستي کي نژدې خپل هم بېګانه سي
په صحبت کي تر مطلبه يارانه سي
ورته ګورم بېخي ډېر باندي ځورېږم
چي يې وينم هر شېبه زړه کي کړېږم

★★★

بې غوري چي مخامخ سي په وروري کي
چم بازي هم مروج سي په دوستي کي
بهانې دي تراشل کېږي په ياري کي
صداقت په زړه کي نسته صرف بيان دئ
د ښه کړو درک يې ورک په ټوله توان دئ

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول بې ځایه کوښښونه څه لپاره
اخر ټوله یو روان پر یوه لاره
سپین کفن ته به ورلو پړو بیله سواله
چي پوه نه سي څوک د مرګ ژوند په سرحد کي
خپل د نیت نتیجه وینې په لحد کي

★★★

فکر نه کړي فیصلې وي بې انصافه
په ژوندون کي پر خپل ځان وي خود کفافه
معامله چي تل کوي نه وي شفافه
دغه ټوله سپکاوي ده شرافت ته
توهین کېږي د هر لور نه عدالت ته

★★★

په پیسو باندي خوشحاله خپل زړګی کړي
په نامه د پلار نیکه تل شرمګی کړي
په ټولنه کښي فامیل ته نام بدی کړي
سپین سترګي ده هیڅ د خدایه نه بېرېږي
سترګي مړې کړي د عالمه نه شرمېږي

★★★

هر مجلس کي لوي تسبیح غټې خبري
په هر بحث کښي د مطلب خورې اتري
ځني وخت لا په دروغو پسې ځغلي
دا عجبه زمانه سوه امانزیه
تاوانونه رسوي خپل کره پردیه

ناروي اول نومبر ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غروب

د اسمان پر مخ چې سرې لمبې نخښېږي
تاریکه ورسره مل وي که رڼا
د فلک غروب سور رنګ دئ اختیار کړی
د ښکلا تصور نه کړي زړه زما
که ښا یست پسې موجونه د تیارو سي
اما نزیه شپه تېرېږي سته سبا

د سمبر ۲۰۱۰ ۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عيان

که ته ولني ته عيان سوې په دوه ژبي
خير دي غواړه چې ثابت دي خپل هويت کړې
په دروغو خپل عمل هيڅ نه پوښېږي
دورنګي به کله پټ تل حقيقت کړې
که څوک ستر ګې پوټوي د واقعيت نه
په باطن کې ځانته جوړ بل مصيبت کړې
ښه به دا وي چې د پوهي لاره خپل کړې
په رڼا کې به ملت ته مل عزت کړې
پايلي ته ولي بې توښې وي فرېبکار ته
امانزيه لږ دي چرت وهل عادت کړې

ناروي ۲۴ اکتوبر ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عندلیب

عندلیب چي ټوله شپه زړه په هوس وو
خوار زړګی په انتظار په خپله وس وو
سحرګاه د لمر په څرک کي چي ګلزار سو
لېونی د یار په مینه کي بهار سو
شنه اسمان ته پروازونه ځني کېږي
سرې غوټۍ دي چي غوړېږي پلني کېږي
نامراد هوس نږدې سو حقیقت ته
عشق رشتیني پر لیدو سو واقعیت ته
که حاصل کړي راز او نیاز د زړه له کومي
امانزیه پورته کښته هلته درومي

ناروي ۱۵ اکتوبر ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عمر

ژوندون تېر سو ډېر را پاته عمر نسته
زړه زهير سو يم بې توانه سپر نسته
هره ورځ نوي دردونه را ښکاره وي
دوا خورمه لاس او پښې را زولانه وي
بينايي د سترګو ورځ په ورځ کمېږي
د زړګي رګونه هره ورځ سستېږي
هر قسمت د بدن نوي پلمې غواړي
که نرى شمال راځي بهانې غواړي
د ناوړه مرضونو مور ريزش وي
سړې تبې ورسره يا نور لرزش وي
د ځيګر وضع خرابه سي بې حده
تداوي ته ضرورت سي بې سرحده
دوا نه کوي تاثير پر مکروب باندي
عام او تام په ارامي که لږ خوب کاندي
په غذا کي لږ پرهېز ورته ضرور دئ
ما چي کړی تجربه دغه مرور دئ
که سالم وجود پېرزو دي خپل پر ځان وي
امانزيه د ورزش دوستي پر توان وي

ناروي ۰۱ اکتوبر ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# علم

د علم په رڼا کي ثوک پوره نه وي له ځانه
که هر ثومره زده کړه وسي بيا هم لږيي له ګمانه
يو سړی ولي مغرور سي چي يو دوې خبري زده کړي
تحصيل وکړي خپل لپاره ځان اوچت بولي له چا نه
توقع له هره ځوانه علم زده کړي خپل تر وسه
له دانا نه اولس غواړي عمل ډېر سي له توانه
د غرور بام ته مه خېژه خدمتګار د خپل ملت سه
تجربې د غه ښودلې مرستې ډېري کړه پرېمانه
بخيلي پر ورونو مه کړه مشوره د امانزي ده
لږ هوس به موقتي وي خوښی نه وي له رښتيا نه

نا روي ۰۸ سپتمبر ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عقل

نا کرار زړه مې بېدیا ته په هوا سو
عقل نه ورسره ځي په ملګرتیا
په ښا یست د اروپا زړه په سودا سو
فکر نه ورسره کړې دې بېره ملتیا
که بېلتون د خپل وطن سره پخلا سو
ټول به ځي پر یوه لاره په رشتیا
جور احساسه د وطن خد مت که ستا سو
د نه بوله واقعي له فکره ستا
امانزیه که دي زړه د غم په خوا سو
خپل وطن له ورځه څو ځله بیا

ناروي ۲۰ جولای ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عدالت

کاشکي دا سی یو اصول وای چی سینه په چاکېدلای
جوړ یو ښه عادل نظام وای چی اولس ورته تسلیم وای
کاشکي داسی عدالت وای زما په زړه ښه پوهېدلای
پورته سوی یو ښه ګام وای افغانانو ته معلوم وای
کاشکي عقل مو تنویر وای رېغ هر چا ته رسېدلای
یا ګټلی مو ښه نوم وای د هر چا زړه ته صمیم وای
کاشکي غم د وطن نه وای نه هیڅوک په خبرېدلای
نه لوېدلی موږ په دام کي نه یا صاحب د ښه زعیم وای
کاشکي نه وای تهمتونه یا دروغ نه جوړېدلای
نه د یو بل چغولي وای نه پرابلم دومره ضخیم وای
کاشکي ذهن وای روښانه ټول نړۍ ته ځلېدلای
یا ډېوه د علم بل وای مخ ثرګنده د غلیم وای
کاشکي نه وای اشغالونه یا اولس نه ژړېدلای
ټول په خوله او ژبه یو وای په برخورد کي ښه حلیم وای
کاشکي زړه عقل ته مل وای پر ښه لاره سره تللای
ټوله ژوند په اتفاق وای په یوه خوله به تصمیم وای
کاشکي ټول په یوه فکر یا هر کار ښه سنجېدلای
ډېر په علم کي انصاف وای جوړ به هر لور ته تنظیم وای
کاشکي زړه د امانزي وای وطن ښه سمسورېدلای

(c) ketabton.com: The Digital Library



یـــــا تـــــول زړونـــــــه ســـــپړېدلای لیـــــری غـــــم پـــــوره تعلـــــیم وای

ناروی ۲۰۱۱ ۵ ۲۰ ۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ظالمان

ظالمـــــــا ن در تـــــــرس انـــــــد زاعمـــــــال خـــــــویش
گناهـــــــا ن شـــــــان بســـــــیار شـــــــد زکمـــــــا ل خـــــــویش
حملـــــــه ور شـــــــدند در روز روشـــــــن بـــــــه خانـــــــهٔ مـــــــردم
بـــــــرد نـــــــد و دزد یدنـــــــد بغیـــــــر ز ســـــــوال خـــــــویش
خـــــــدا ناترســـــــان بریدنـــــــد گـــــــرد ن بیچارگـــــــان
ســـــــوچ نکردنـــــــد بـــــــه فـــــــردا ز زوا ل خـــــــویش
انصـــــــا ف نبـــــــود در ویرانـــــــی قصـــــــردارالامان
همچوخانـــــــه هـــــــای شخصـــــــی قبضـــــــه شـــــــد زجمـــــــال خـــــــویش
ســـــــتمگران اخـــــــر بشـــــــکند امـــــــانزی بیـــــــین
خداونـــــــد مـــــــددگار بیچارگـــــــان ز وصـــــــا ل خـــــــویش

۱۰سپتمبر ۲۰۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# طالع

د طالع ستوري ځلېږي کله کله
پر يو چا برابرېږي کله کله

که مداح د يو ناپوه له ځانه جوړ کړي
ښه يو چانس به پيدا کېږي کله کله

په يو ګروپ کې ځان تنظيم کړه د حزبيانو
لاس پرتا باندي تېرېږي کله کله

ټول منه په پټو سترګو څه چې اورې
ښه سړی درنه جوړېږي کله کله

تجربې را ته ښودلې په کراتو
چې تحفې ته کتل کېږي کله کله

که يو څوک په عقل پخ او يا غبين وي
انتقاد يې نه خوښېږي کله کله

بې موردو په توصيف د ده لګيا سه
بيا به هر څه دررسېږي کله کله

ستا په هڅو که د دوی ګټې خوندي وي
ځکه دوی په تا نازېږي کله کله

که يو وخت د چا په ګټو کې تاوان سي
نو خپل يار ور قربانېږي کله کله

هيڅ معيار د عدالت په منځ کې نه وي
ټولي هڅې ويجاړېږي کله کله

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنيـــــــا ټولـــــــــه پـــــــــر مقصـــــــــد بانـــــــــدي ولاړه
امـــــــانزي تـــــــــه معلـــــــــومېږي کلـــــــــه کلـــــــــه

ناروي ۳۰ سپتمبر ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شعارونه

نن محتاج ستا د دربار یو
ستر غني پروردګاره
ټول ولس پرېشانه سوی
ته غمخوري مددګاره
هره ورځ نوی ناورین دی
خلک ډېر دي توبه ګاره
د علاج چاره یې نسته
زړه مې سوځي له انګاره
تمنا ستاسي مقام ته
مرستندوی ته کردګاره
زمزمې دي ناشولتي
لږ ملهم راکړه سازګاره
توطیې زموږ ولس ته
ستړي ډېر سوو له بېګاره
شعارونه د نفاق دي
امانزی ترې توبه ګاره

ناروې۱۷ اګست۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شپول

توره شپه ده نن په تندره کي قوت دئ
تاریکه ده پر سپوږمۍ باندي زحمت دئ
پر ښایسته مخ چي تورشپول دئ غوړېدلی
پرېشاني ده شاوخوا ته یې محنت دئ
سپین بدن یې لالهاند د غم څپو کي
د خلاصون په ګردابو کي حرکت دئ
لوی ثښتنه په خپل توان رحم پر وکړې
د سپین مخ په پلوشو کي یې لذت دئ
زړونه ټول په اندېښنو کي انتظار دي
د وسواس نارې دي پورته مصیبت دئ
امانزی چي ورته ګوري پرېشان سو
چیغي پورته الهي قوي قدرت دئ

ناروې ۱۸ اګست ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سوله

سوله غواړو په وطن کي
جګړه پلنه په لمن کي
دا بدرنګه جنګ دي ورک سي
اتحاد دي جوړ په وس سي
خپل هیواد به ژر اباد کړو
پر مخ پورته به سواد کړو
لاس به نه اوږدوو چا ته
کچکول نه ایږدو سبا ته
خپل هیواد به مو سمسور سي
را نه لیري به پېغور سي
د تعلیم لاره به خپل کړو
شفقت به یو پر بل کړو
د ولس دغه ارمان دئ
امانزي زړه ته عیان دئ

ناروي ۱۰ اکتوبر ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سلام

د اســــــــلام ښـــــــکلی رهبـــــــر یــــــــې پـــــــاک رســــــــوله
تـــــــه مخــــــکښ د خپـــــــل امــــــت یــــــې پـــــاک رســـــــوله
امیــــــــدوار ســــــــتا د د یــــــــد ن ټولـــــــــه اســــــــلام دئ
پــــــه نبیــــــانو کــــــي ســــــردار یــــــې پــــــاک رســـــــوله
امــــــانزی یـــــــم ســــــتا مقـــــــام تــــــه مـــــــي ســــــلام دئ
د اســــــــلام علمبــــــــــردار یــــــــې پــــــــاک رســـــــــوله

ناروی ۰۱۰۶۲۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سکاره

سرې سکروټي په سینه کي ایرې کېږي
تور سکاره چي په هجران کي ذرې کېږي
که تازه د اور لمبې نه سي په زړه کي
بې پو کلو رنګ سپېره هورې مړې کېږي
که هجران دي هره ورځ پر زړه مېلمه سي
د افسوس نارې به چیري کودې کېږي
د حسرت نغمو کوګل پر سر اخیستی
ټول بدن مي راته سوځي لمبې کېږي
امانزیه زړه دي خوره تر څو ژوندی یې
وطن نسته په هجرت کي دي شپې کېږي

ناروي ۲۳ مارچ ۲۰۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سرمايه

څومره ته لاس او ګرېبان په فلاکت کي
هومره زړه دي تسلي کړه په عزت کي
چا چي کړي بې زحمته ښې چړچې دي
بدبختي يې په نصيب مري په وحشت کي
خوشحالي په زړه کي ډېره د بې وزلو
غم لړلي بډايان په واقعيت کي
د مفت خورو همېش ډېر فکر خراب وي
خوب يې نسته د خپل ځان په عينيت کي
امانزيه نېک نامي ښه سرمايه ده
افتخار يې جاويدان په حقيقت کي

ناروې ۱۳نومبر ۲۰۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ستم

زما پر کور پردی ستمه
رانه تول دي خپل تغر کړه
لاس دي واخله زموږ د کوره
موږ رنځور سوو ستا د لوره
ستا عمل دئ چي ولس مي په ځوريږي
زماورونه افغانان مي په کړيږي
يتيمان مي په ژړيږي
څومره ډېر سوه پرالمونه
زما پر کور پردی ستمه
زموږ ګناه راته بيان کړه
نه مو کار د چا په کار دئ
سر راپورته کړه يواري
په هر کور کي سته بغاري
ولي ولي زموږ پر خاوري ستا جفا ده
ولس منځ کي بيا غوغا ده
ورکه ستا له خوا وفا ده
زموږ نه ورک پر تا باور دئ
زما پر کور پردی ستمه
موږ د خاوري حفاظت کړو
دغه زموږ لو وجيبه ده
که ژوندي هم يو افغان وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسره به يې وجدان وي
وژل کېږي به مې مرامه
نن کمزوري يو به يې توانه
يا پر ځان يو به يې ګمانه
خپل له ځانه لږ خبر سه
زما پرکور پردی ستمه
څه برهان لري په زړه کې
فکر څه له هوسېږي
خلک ګوري وسيلې ته
په بد نيت ګوري جګړې ته
ته به وينې تاوانونه
هم به ګورې پرهارونه
ستا به مات وي اندامونه
لږ هوښيار سه فکر وکړه
زما پرکور پردی ستمه
زه د پلار افغان بچی يم
مور شيدې ما ته راکړې
موږ ته دواړو دي ښودلې
موږ هغه کړو چې دوی کړي
سد دي درولـه و سر ته
يو واري وګوره بهر ته
قرباني به شې د شر ته
ځه ورکېږه خپل پرتړه
زما پرکور پردی ستمه
احساسات د څو کسانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپین سترګي او بې شرمي ده
د ملت حقوق په زور خوري
خپله هم د بل ده نور خوري
انصاف هیڅ نه لیدل کېږي
په غوږ نه اورېدل کېږي
عدل هیڅ نه کتل کېږي
قضاوت خو بیخي نسته
زما پر کور پردی ستمه
که ته ښه کړې او که بد کړې
تول په تا پسې حساب سته
سر دي کښته کړه ګرېوان ته
لږ غوږ ونیسه بیان ته
پښېماني به بې فایدې وي
درپسې به غلبلې وي
د هر لوري به ښېرې وي
امانزی به در په یاد سي
زما پر کور پردی ستمه

ناروې ۱۵ اکتوبر ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سباوون

بلــــــبلان پـــــه چيغـــــــه هــــــار ســـــــول
شــــــين سهارســـــو پـــــه ســـــمون کـــــى
بـــــــوى د ګلــــــــو لېـــــــوني کـــــــړل
د ســـــــــحر پـــــــــه پيوســـــــــتون کـــــــــي
ګــــــل ګــــــلاب چـــــي عطـــــــر پاشـــــــي
د فکرونـــــــــو پـــــــــه بـــــــــدلون کـــــــــي
د بلبـــــــــل زړه پـــــــــه مســـــــــتي ســـــــــو
مطربـــــــا ن ســـــــول پـــــــه جنـــــــون کـــــــي
د بلبـــــــــل خـــــــــوږې نغمـــــــــې دي
زاره چـــــــاودي ســـــــول بېلتـــــــون کـــــــي
امانزيـــــــــه ښـــــــــه يـــــــــې واوره
خوشـــــــحالي ده پـــــــه ژونـــــــدون کـــــــي

ناروې ۲۱۱۲۲۰۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ښايست

چي ښايست د خپل وطن وينم په سترګو
عقل فکر سرګردان وي را ته بيا بيا
لا ماشوم يې د وطن مينه زده کېږي
هغه خپله نه راځغلې تا ته بيا بيا
افغاني بچيان روزلي په زانګو کي
والدينو ور ښودلي ده ته بيا بيا
د وطن په محبت کي ځان بندي کړه
افتخار جاويدا ني وي کله بيا بيا
د مرګي که ډېر تلوار سي امانزي ته
چي قسمت ورسره نه وي نسته بيا بيا

ناروې ۲۴ اپریل ۲۰۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سالنګ

د سالنګ درې مې سترګو ته درېږي
د پغمان تپې مې مختـه ثرګندېږي
کله ولاړ سم مخ پر غرو د ناروې کړم
شنې درې دي چې لږ مینه په ماتېږي
ارغندابه ستا باغونه چیري نسته
امانزی یم خپل باغچو ته مې زړه کېږي

ناروي ۲۲مارچ ۲۰۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زور

زور په لاس د زورواکانو ټول جهان ته معلومېږي
هر څه ټوله په پیسو دي اولسونه په ځورېږي

یویشتم قرن شروع دئ لوی توپان شرق میانه کې
ډېر مرموزه پلانونه د پردې شا ته سمېږي

سد د عقله دئ وتلی د نااهلو پیسه خورو
بېګانه لمسون یې خوښ دئ خپل وکور ته دښمنېږي

د پردي توپک په مرسته سترګي پټې ورور وژنه
خپل وطن ویجاړوي دوی هیڅ د خدایه نه بېرېږي

بیخ ریښه د انصاف خېژي هر ساعت په ټول نړۍ کې
د ځنګله قانون حاکم دئ زور پر حق تل به قبلېږي

مذهبي فتواوي ټوله همنوا د روشنفکر
فیصلې د دواړو ګوره د زورواک په ګټه کېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



امیـــــد د بېـــــر ســـــــته چـــــي مـــــاتېږي دا طلســـــم پـــــه نـــــړۍ کـــــي
امـــــانزی بـــــه وي کـــــه نـــــه وي لـــــوی ښښـــــتن ښـــــه پـــــه پـــــوهېږي

ناروې ۰۲ سپتمبر ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زوال

چي روان مخ پر زوال سې په ژوندون
ځواني ولاړه خواري خوشي په ژوندون
که موړ نه سو پنځوس کاله په حیات کي
بیا به هیڅکله موړ نه وي په ژوندون
د لېوه سترګي خو وږي وي له اصله
قناعت یې نصیب نه سي په ژوندون
څه توښه چې دي ګټلې په پلمو ده
سرلوړي پکښې نه ويني په ژوندون
که قاضي د خپل عمل په زړه کي اوسي
ولي ځان دومره ذلیل کړي په ژوندون
که په سپکه سترګه ګوري خپل ضمیر ته
ستا ګټلې به نور وخوري په ژوندون
که په حرص څوک رسېدلای لوړ منزل ته
نور به لوړ تول انسانان سي په ژوندون
قناعت زړه ته پرده وي امانزیه
چا چي کړی سرفراز سي په ژوندون

ناروي ۰۴ نومبر ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ړوند

سالم فکر ته په کار ښه قضاوت دئ
ړندو سترګو ته مشکل په عدالت دئ
تربګني پردې پر سترګو غوړېدلي
بینا خلک هم ړانده دغه حالت دئ
که یو څوک په لوړه کچه هم خونخوار وي
قهرمان یې جوړوي ورته عادت دئ
د الله جواب به څنګه ورکوي څوک
چا چې کړی بې موږده سخاوت دئ
د شهید لاس به درلوږي تل ګرېوان ته
ستا عمل د دې روښانه دلالت دئ
د ملت حقوق چې خوري په څو نفرو
د اولس پر هیلو ټوله تجارت دئ
مرګی حق دئ د حساب ورځ رارسېږي
د بازخواست مهال هر چا ته په قیامت دئ
د ستم ناورین یوازې پر پښتون وي
د دوی ټول حقوق خوړل ورته عادت دئ
د تاریخ سم قضاوت ته منتظر سه
یا سرکښته که ګرېوان ته نجابت دئ
امانزیه د اسې خلک د زړه سوي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کــــــه دوی پـــــــوه ســـــــي خپــــــل و ځـــــا نتــــــه اهانـــــــت دئ

ناروي ۲۰ سپتمبر ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رنځور

پاکـــــه خدایـــــه دا رنځــــور زړه مــــــي را ښـــــه کـــــړې
د وطــــــن دښـــــمنا ن تېــــول راتــــــه ړانــــــده کـــــړې
عقـــــده ګیــــــره خپـــــل وطـــــن تــــــه بـــــلا ســــوي
د شــــــپې غلــــــه دي لمــــــر خاتـــــه تــــــه مـــــلا ســــوي
جهانســــــوز خــــــا وري ایــــــرې ښـــــکلی غزنـــــي کـــــړ
افشــــــار هــــــم لــــــوی کنــــــدهار ویجــــــاړ بیخــــــي کـــــړ
د مغــــــــــل د کارنــــــــــامو خبــــــــــري پرېــــــــــږده
د کابــــــل میونــــــد جــــــادې ویرانــــــي پرېــــــږده
د ســــــراج قصــــــروند کنـــــډ او کنډوالـــــــه ســـــول
د وطـــــن شــــــتمني خــــــرخ پــــــر بیګانــــــه ســــــول
انصـــــاف نســـــــته مــــــړوي دي خپــــــل نســــــونه
فخــــــر کانـــــدي چـــــي مـــــردار کـــــړي خپـــــل هډونــــــه
د پــــــــــــردو د لاس الــــــــــــه دي ګرځېــــــــــــدلي
خــــــود ســــــري ده ســـــترګي نــــــه دي شـــــرمېدلي
نــــــه بېرېــــــږي د قیامتـــــــه لــــــه ســـــــبحانه
امانزیــــــــه دغـــــــه ډلـــــــه ســــــوه پرېمانـــــــه

ناروي ۰۸ سپتمبر ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رنځ

کـــــــه غـــــــم ســـــــتا ســــــره مېلمــــــــه ســـــــو
يـــــــا دي زړه پـــــــه رنـــــــځ اختـــــــه ســـــــو
روح کـــــــي ځـــــــه درپېښـــــــه ســـــــوي
فشـــــــار ولــــــــي پـــــــر اوږه ســـــــو
تـــــــول علـــــــت وســــــپړه ځـــــــان تـــــــه
اطمينـــــــان چـــــــي ښـــــــه پـــــــوره ســـــــو
يـــــــو ځـــــــل بيـــــــا غـــــــور پـــــــر وکـــــــړه
چـــــــي تصـــــــميم دي فيصـــــــله ســـــــو
غـــــــم رخصـــــــت کـــــــړه ځنـــــــي ولاړ ســـــــه
اوږه ســــــپکه مـــــــخ تـــــــه ښـــــــه ســـــــو
امـــــــانزي وم پـــــــه غمـــــــو کـــــــي
تـــــــول رخصـــــــت زړه تـــــــه پـــــــرده ســـــــو

ناروي ۲۴ جون ۲۰۱۰

# رمز

(c) ketabton.com: The Digital Library



که اګاه سي څوک په رمز د خپل ټولني
ژر پوهېږي او ر دئ بل د خپل لمني

ارزښتونه د وطن مو لولپه سول
څوک نه غواړي لاس کي لنډ د خپل وژني

واقعیت د خپلي خاوري با ید د رک سي
هله ځه پر هغه لار د خپل ژمني

چا چي کړی خپلي خاوري ته خدمت وي
افتخار یې همېشه د خپل ټولني

اما نزیه که څوک غواړي سرفراز سي
مخ دي نیسي په تلوار د خپل مرګوني

نا روي ۰۹ اکتوبر ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رازونه

لـــــوی څښـــــتنه تــــا تـــــه پــــټ رازونــــــه دي روښــــا نـــــه
د مرمـــــــــوزو اندېښـــــــنو ټولـــــــه خوبونــــــــه دي عيانـــــــه
ســــپينه ورځ پـــــه روښـــــنايي کـــــي ټـــــول خيالونـــــه لېـــــوني ســـــي
د شــــــپې پـــــه تاريکـــــه کـــــي ټـــــول فکرونـــــه ســـــي پښـــــېمانه
قدرتمنــــــده ډېـــــر نااهلـــــه زړونـــــه تـــــه پـــــر لاري ســـــم کـــــړې
بـــــې رحمـــــي پـــــر اولـــــس ډېـــــره افغـــــان ورونـــــه بـــــې توانـــــه
هـــــــره ورځ قتـــــــل او قتـــــال دئ د پوښـــــتني ســـــــړی نســـــــته
تـــــه قـــــا دره توانـــــا يــــــې زمـــــــوږ دردونـــــه کـــــړې ا ســـــانه
صـــــابر بنـــــــدګان ګـــــــوره شـــــــکر باســـــي ســـــــتا د رحمـــــــه
امـــــــانزی درنـــــــه راضـــــــي يـــــــم نعمتونـــــــه دي پرېمانـــــــه

ناروی۲۰۱۰-۱۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د زړه راز

ژوند په منډه منډه ځغلي د خزان شپېلۍ ږغېږي
د لحظو په تېرېدو مي د ارمان کښتۍ ډوبېږي
ژوند ده څومره دي تلوار دئ بې درمان نه ځغلې وړاندي
لږ فرصت په لاس کي راکړه لږ مهال د خوښۍ کېږي
زړه خو کله په ټوپو کي خوشحالي ترحده تېره
یا هم داسي غم نازل وي په سلګۍ ژړېږي
که لږ ځیر سو تېر زمان ته دا انصاف تله وه سپکه
بې غوري تر حده تېره پېرزویني کمکۍ کېږي
بیره نسته د پاک ربه امانزیه سپین سترګي ده
په رڼو سترګو یې ګوره پر اولس دي بازۍ کېږي

ناروي ۱۰ اګست ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خطا

که خطا دي وی په زړه کي خپل وطن ته په هوس
پر غلطه لاره ځغلي نه پوهېږي ته په وس
سترګي پټي بې سنجشه که څوک ځي پر یوه لاره
څاه ته لوېږي بې خبره چيغي پورته په شرس
خيانت د خپلي خاوري په انجام کي سرخوړل دي
چا چي ځان دئ ازمايلی پايلي ورته په مګس
ندامت به دي حتمي وي يو وار غور پرې وکړه
چاره لرږد پښېماني وي غم يې ډېر سته په غرس
که څوک ځي پر پردۍ تېره پښېماني ورسره ډېره
دغه لاري دي څرګنده امانزي ته يو په لس

ناروی ۲۰۱۲۲۰۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خاوند

چـــــي څرګنـــــــد راتـــــــه پـــــــه شـــــــد او مـــــــد مفهـــــــوم دئ
د عـــــــــــزت او د ذ لـــــــــــت خاونـــــــــــد معلـــــــــــوم دئ
ټولـــــــه تـــــــګ را تـــــــګ چـــــي ســــــتا پــــــه اراده وي
اواز پورتـــــــــه ســـــــــتا دربـــــــا ر تـــــــــه د مظلـــــــــوم دئ
دايمـــــــي بقــــــا چـــــي نــــــه وي پــــــه د نيـــــا کــــــي
امانزيــــــــــــه د دې ســــــــــوال ســـــــــــرحد مبهـــــــــــوم دئ

نا روي ۲۹ مارچ۲۰۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څوک

څوک بخیل وي یا بدنیته که ظالم وي
دوی درې واړه دي بیمار که په عالم وي
که اخته سوې په مزمن مرض وګوره
هر ګړی فکر لوېدلی په ماتم وي
هوښیاران دي پرهیزګار د دغه کاره
امتناع یې ډېر ضرور ده که حاکم وي
د ښادۍ ورځې یې نسته بیماران دي
ژر دي ځان تداوي کاندي که معلم وي
خپل د زړه وینې به خوري دوی امانزیه
څوک چې نه کړي دغه کار یو ښه هاتم وي

نا روي ۲۲ اګست ۲۰۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حق

که د زور قدرت تل پاته بریالی وای
اوس به ټول جهان کي یو شخص زمریالی وای
حق غالب پر بې غورانو قضاوت دئ
که حق نه وای اشغالګر به بریالی وای
هري پېړۍ کي ډېر ظالم ستمګران وه
امانزیه جوړ پرابلم که زوروا کی وای

ناروي ۲۴اکتوبر ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ثراغ

بل ثراغ په لاس کي واخله د سواد رڼا خپره کړه
تاريکي له منځه يوسه هر ځای بله ستا ډېوه کړه
ځه مکتب ته ور روان سه د تعليم مشعل لګېږي
په رڼا يې ځان تنوير کړه علم خپل بيا وسيله کړه
خپل وطن که ابادېږي صرف د علم په رڼا کي
امانزيه علم ښه دئ تل د هر چا مشوره کړه

ناروي۱۲اګست۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جوهر

ټوله ژوند د کار جوهر انسان ته را
په روزګار کي ورسره سهوه خطا
که دوران د ژوندانه فارغ د غم وای
څوک به هیڅ نه پوهېدای په خوښه ستا
تجربې دي چې موږ سم مخ ته روان یو
په کمبود یې پرابلم جوړ په هره خوا
که دي پوه د مطلوب هدف پر لار روي
په وار وار یې تجربه کړه په ملتیا
که د علم روښنایي ورسره مل سي
امانزیه کار پخېږي په رشتیا

ناروې ۲۴ می ۲۰۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جمال

شکر کا ږه صنعت ګر دي مهربان دئ
ځکه هر انسا ن جمال ته دي حيران دئ
د ښايست رڼا دي شپې دي زخمي کړي
په زوال کی دي جهان بيخي ويران دئ
انس او جن ستا په ديدن هيڅ نه مړېږي
امانزی نن پلوشو ته دې عريان دئ

ناروی ۰۸۱۴ ۲۰۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# توان

پاکـــــه خدايـــــه لـــــور عظمـــــت دي ســــــتا پـــــه تـــــوان کــــــي
ډېـــــره لـــــــو مهربـــــاني ده ســــــتا پـــــــه شـــــان کــــــي
بــــــې لـــــــه شـــــکه تـــــه مالـــــک يــــــې د پـــــټ زړونــــــو
رنځـــــــــور زړه تـــــــــه مـــــــــداوا پـــــــــه يـــــــــوه ان کــــــــي
امـــــــانزي شـــــــکر گـــــــزار ســـــــتا د احســـــــان يـــــــم
د شــــــکران طـــــا قـــــت نـــــه ويـــــنم خپـــــل پـــــه ځـــــان کـــــي

ناروي ۲۷ جولای ۲۰۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تقدیر

زړه مي بند دئ په ګروي کي ستا په مینه
شریانونه پکښي وچ سول هم سره وینه
ډېر تیره خنجر ښخ سوی زمونږ په زړه کي
افتخار د ټول اولس به ماتوینه
که احوال زما پوښتې زړه به دي سوځي
د وطن غم جوړ ماتم دئ چي راځینه
د نړۍ ښارګري ډلي ښکر په ښکر دي
په مابین کي هر څه زمونږ ویجاړوینه
مرګی حق دئ چي قسمت وي پوره سوی
امانزیه په تقدیر کي هر څه وینه

ناروي۲۰ اکتوبر ۲۰۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تشبث

عقـــل فکـــر ځغلـــي تشـــبث پـــر هـــره خـــوا کـــړي
هـــدف ورتـــه څرګنـــد وي چـــي خوشـــحاله پـــه پاچـــا کـــړي
کلـــــه رنـــــج او مشـــــقت پـــــه مخـــــه ورســـــي
يـــــــا ژور ژور منـــــــــزل د لاري بيـــــــــا کـــــــــړي
پـــه ژونـــدون کـــي بـــه د هـــر مـــرام خونـــد ګـــوري
کرځـــي خـــوښ کلـــه نـــا خـــوښ چـــي څـــه پيـــدا کـــړي
ګردابونـــــه پورتـــــه کښـــــته وي پـــــه مخکـــــي
هـــدف يـــو چـــي تاريـــک ژونـــد څنګـــه رڼـــا کـــړي
ښـــه چانســـونه پـــه ژونـــدون کـــي بيخـــي لـــږ وي
خوشـــبخت څـــوک دئ امانزيـــه چـــي ملتيـــا کـــړي

ناروي۲۰ جون۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تسکين

د زړګي فرياد اوچت سو د تسکين چاره يې نسته
ترخې شپې اوږدې بې حده د تمکين چاره يې نسته
شپه او ورځ په غوږو اورم لوی خبري د يووالي
د عمل اثر کمبو د دئ د دوربين چاره يې نسته
د فکرو نظر خواهي ده قياسي پېش بيني ډېره
انتقاد خورا ډېر سوی د تضمين چاره يې نسته
ځيني ناستوي خاوري پاشي مخامخ پر روڼو سترګو
درواغونه ډېر جوړېږي د کمين چاره يې نسته
کوښښونه خورا ډېر دي هدف ټول پر ماديا تو
اما نزی ورته حيران دئ د خورجين چاره يې نسته

نا روی ۰۲۰۲۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تجلا

ستا د ژیړ مخ تجلا چې راښکاره سي
ټغر تۀ ول د توري شپې بیا زولانه سي
باغوان زړونه هڅوي د کار و لور ته
بلبلان شبنم ته زړه جار مستانه سي
هري لور ته نوی ترنګ نوي نڅاوي
امانزیه زړه کښاند یا پروانه سي

ناروي۱۱۲۲۰۰۶۲۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تاوان

ژبه لال کړه چي د زړه نه په هوا سي
عقل ګوره همېشه يې په سلا سي
ظاهري خبري هيڅوک نه مني ستا
ښه به دا وي چي عمل په تجلا سي
دوه مخي تل په تاوان وي امانزيه
څوک چي کړي دغه عمل خپله رسوا سي

ناروي ۲۲ جولای ۲۰۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پیو ستون

که د زړه له تله پوه سې په ارمان زما
ارمانجن دي پیوستون ته شهیدان زما
چې مې واورې اند ښنې د زړه له ښخه
ډیورنډ خط نه منې په ټوله توان زما
بلوڅان او پښتانه دي سره ورونه
لاس به ورکړي له ښه نیته افغان زما
منا سب فرصت په لاس موږ ته راغلی
په غیرت کې دي باتوره توریالیان زما
پښتنو اواز راوباسئ په نېغه
اولسونه به یو ځای سي په ګمان زما
حق رسېږي خپل حقدار ته امانزیه
جنګ چې ورک سي سمسور کړه افغانستان زما

ناروي ۲۹ اګست۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بیان

پاکه خدایه ډېر ممنون ستا د احسان یم
په روښانه زه ګویا ستا د بیان یم
څومره هیلې چې زما وې په ژوندون کې
تر حد تېره رسېدلي په سمون کې
امانزی شکر ګزار یم ستا له مهره
توبه ګاره په کرات یم ستا له قهره

ناروي ۰۲ نومبر ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بلبلان

د شپې پروت وم په خيالو کې چې سهار سو
زوړ تر غوړونو سر کې چونهار سو
د سرود نغمې سوې پورته د بلبلو
ترانې وې په مستي کې چې بهار سو

***

څوک ژړا کړي د بېلتون څخه نالېږي
څوک غمګين وي خپل د مينې نه جارېږي
پاس او ټيټ وي پروازونه په ګلشن کې
زړونه ډېر په واويلا نه کرارېږي

***

لېونيان د عشق خبر نه وي له ځانه
چې يخني سي د خاټول زړه پرېشانه
زمزمې د بلبلانو سستي کېږي
داسې برېښي زړونه ډک وي له فغانه

***

يو چې ډېر په زړه بېتاب وي لېوني سي
بل د مينې په ارمان کې سپلني سي
څوک مخ ونيسي بېديا ته ځغلي غرو ته
يا رنځور په زړه زخمي ځني زګيروی سي

(c) ketabton.com: The Digital Library



✶✶✶

کــــــــه د حــــــــال پوښــــــــتنه وســــــــي د خوارانــــــــو
زخمــــــــي زړونــــــــه وي نــــــــاراض د دښــــــــمنانو
امانزیــــــــه کــــــــه خبــــــــر د وی د حــــــــال ســــــــي
خپــــــــل ســــــــرونه ټکــــــــوي د بــــــــې غورانــــــــو

ناروي ۱۱ نومبر ۲۰۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بډايي

نه خاني نه بډايي کړم
مسافر څومره خواري کړم
نه په فکر د قصرو يم
څه لرم پر پرېښيدو يم
لوی ښتن ته عاجزي کړم
سيم او زر نه جدايي کړم
زه ممنون يې د پېرزو يم
احسان من د وسيلو يم
ژوند کې ډېره خوشحالي کړم
امانزی يې باوري کړم
د ښه ژوند په تېرېدو يم
چيري خوښ هلته په شپو يم

ناروي۲۲اگست۲۰۱۱

## باور

(c) ketabton.com: The Digital Library



تول باور د اولس ولاړی
اعتما د په منځ کي نسته

ورور پر ورور بې اعتباره
اعتقا د په منځ کي نسته

ستره لوبه شروع سوې
سم جها د په منځ کي نسته

ويراني ته ډېر تلاښ دئ
خو صيا د په منځ کي نسته

دښمنا ن په نوي بڼه
انتقا د په منځ کي نسته

کوښښونه د نفاق دي
يو شدا د په منځ کي نسته

اما نزيه دا څه حال دئ
چي رشا د په منځ کي نسته

نا روي ۲۲ جولاي ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اوښکي

ستا په مخ اوښکي بهېږي
لوند ګرېوان دي معلومېږي
په طبیعت خراب سوم
په زړګي کباب کباب سوم
په لید و تراب سوم
چي بغاري پورته کېږي

***

د غریب سوي ناري دي
د ظلمونو سلسلې دي
خپري سوي تاريکې دي
ورځ په ورځ چغي جګېږي

***

د افغان بچي ته ګوره
دربدره ګوربه ګوره
غریبان سول بې له کوره
یو په بل باندي ځورېږي

***

ورته ګورم په عذاب سوم
په زغملو کي کریاب سوم



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



لــــــور احســــــاس ورتــــــه نــــــواب ســــــوم
زړه مــــــــــــي وســــــــــوځي ويلېـــــــــــږي

✶✶✶

ډېـــــــــــــــر بېرحمــــــــــــه ظالمــــــــــــــان دي
لــــــــــخ بــــــــــې وزلــــــــــي يتيمــــــــــا ن دي
ګيــــــــر پــــــــه جنــــــــګ کــــــــي افغانــــــــان دي
هــــــــــــر ګــــــــــــړی وينــــــــــــي تــــــــــويېږي

✶✶✶

لا مــــــــــرګ ژوبلــــــــــه ســــــــــوله ســــــــــخته
لــــــــږ فرصــــــــت لــــــــرو لــــــــه وختــــــــه
وضـــــــــع ډېـــــــــره ســـــــــوله کرختـــــــــه
امــــــــــــانزی بېخــــــــــــي ژړېــــــــــــږي

ناروي۲۰سپتمبر۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# امانت

د نیکونو په وصیت کي امانت موږ ته راپاته
خپل د خاوري حفاظت کي رسالت موږ ته راپا ته
هيڅ دلیل ورسره نشته حقیقت موږ ته راپاته
د انصاف په ترازو کي عدالت موږ ته راپاته
د باتورو اتلانو ښه فطرت موږ ته را پاته

***

فکر وکړه چي پلرونو ښه پیغام موږ ته لیکلی
وطنپالو مشرانو یو پیام موږ ته لېږلی
خپله خاوره امانت ده دوی سلام موږ ته ویلی
خپل په وینو به یې ساتو خپل غلیم مو ښه ترټلی
ککرۍ دي خاوري سوي موږ بچیان ورته روزلي

***

شهیدان په هدیرو کي یو ارمان لري و تا ته
یتیمان په ژړا ژاړي یو بیان لري و تا ته
د کونډو واویلا ده چي ګریان لري و تا ته
د سرتورو مینډو زړونه یو توپان لري و تا ته
ملالۍ خویندي وګوره تور زلفان لري و تا ته

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـــــر ځــــــواني دي برکـــــت ســــــه د وطــــــن پـــــه هیلـــــو پــــــوه ســــــه
پـــــر خپــــل پښــــو دي ودرېــــږه د اولــــــس پـــــه ګیلـــــو پــــــوه ســــــه
خپــــل تــــاریخ تــــه افتخـــــار یــــــې د مــــــیهن پـــــه ارزو پــــــوه ســــــه
شــــــملې جګــــــي د غازیــــــانود شـــــــهید پـــــه وینــــــو پــــــوه ســــــه
امــــــانزی پـــــه تــــا نـــــازېږي زمـــــا د زړه پـــــه رمــــــزو پــــــوه ســــــه

ناروی۱۴۱۰۲۰۱۰



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



# افغان

د افغان فکر ويجاړ دئ هره ورځ ډېر وژل کېږي
لوی لوی ساندي او بغاري هيڅ غوږ نه پر نيول کېږي
ارمان ډکي سينې سوځي هيڅ ملهم په کور کي نسته
يو روښان نوښت پکار چي نن حتمي باور پر کتل کېږي
د نفاق په سرو لمبو کي زړونه چاودي له غمو نه
کار پوهان ښه په اګاه دي زمونږ چمن ډېر سوځل کېږي
پښتنو بېړۍ ډوبېږي دا وينا د جهاني ده
که ثوک پوه په دې مفهوم سي بيا وحدت پر منل کېږي
زه شاعر مسلکي نه يم اولسي اندېښني ډېري مي په زړه کي
چي پر زړه غمونه ټول سي سوی درد پر کوګل کېږي
زورور خيالونه ګوره هر ګړی ځغلي وطن ته
امانزی ورسره مل دئ که تصميم د اتحاد پر مشعل کېږي

ناروي۲۰۱۱.۲۲.۰۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ارمان

د چا ډېر ارمان په زړه کې چې پیسې ځنګه پیدا کړي
کوښښونه تر حد تېر سي واسطې څنګه په خوا کړي
نا شولته ځغاستي ډېري چې مرام ته ورسېږي
ډېر تلاښ په ژوندانه کې د هد ف لاره روا کړي
د عزت په غم کې نه وي خپل ابرو ورځني ورکه
ټول چرتونه د ډا لرو شپه او ورځ څنګه سبا کړي
د موزي غوندي ټولېږي په غازي باندي بربا د سي
لاس او مخ دواړه په توروي هم یې قبر ته بد وا کړي
نازولي اولادونه په پردیو غوښو چاق سي
تربیه ورڅخه ورکه فکر ټول مصروف په غلا کړي
دغه نر لېوني ګوره خپل پر ځان یې څه پېرزو دي
هدایت دې په نصیب سي امانزی ورته دعا کړي

ناروي ۵ سپتمبر ۲۰۱۱

# ورک پسرلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاکه خدایه پسرلی ولاړی نور ورک سو
خوښي نسته ملک مو ټول له ترورډک سو
بلا توره نازل سوې زموږ پر مېنه
قانون نسته زور پر هر لوري توپک سو
ډېر بې علمه په پیسو رانیول کېږي
اوس د ټول اولس لپاره زور کوتک سو
د وطن مینه که خرڅه په ډالر سي
فرمانداره دښمن زموږ د سرچنګک سو
ټول پټې یې راسپېره کړل غټو موږو
امانزي ته ملامت د کور موږک سو

ناروي ۱۲/۱۱/۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هڅونه

تر هڅو مې درد وتلى په فرياد سوم
زړه مې سوځي طاقت ختم زه برباد سوم
د وسواس نارې مې پورته تر اسمانه
خپرې سوي هري خوا ته تر جهانه
لاره ورکه مخ به نيسم کمې خوا ته
لوى ثښتن ته مې لاس پورته سي دعا ته
که شعاع د لمر پر موږ لږ وځلېږي
د پردي ستم تور به لږ کمېږي
بيا روان به سي د سولي کاروانونه
اما نزيه ورک به ټول سي پرهارونه

ناروي۰۲ د سمبر۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مرغۍ

سوه تودوخه مرغۍ پورته کښته کېږي
فریادونه یې د زړه له تله خېژي
سره ګرمې ده ځالګۍ په اور کې سوځي
خپل بچي به مې ساتمه که مړه کېږي
په چمن کې بېګانه راته په څار دي
که ورکښته سم بچیا ن مې محوه کېږي
دغه لو نړۍ کې زه یم په تنګسه کې
که زه ځمه خوار بچي مې نه زړه کېږي
نن دا ټول جهان و ما ته کوچنی ښکاري
چې ظالم وي روح په خپله خفه کېږي
په ژوندون کې جوړ پرابلم وي د پرد یو
بېغوري پر هري لوري امانزی ښه په پوهېږي

ناروي ۲۸ دسمبر ۲۰۱۰

# مخ پرغرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کور کې غم راته ولاړ دئ مخ پر غرو به ځمه
حوصله نسته د ژړا مخ پر دښتو به ځمه

اوس د ټوپک موسم زاید ژبه قلم کړه توره
نن د چارې لاره یوه مخ پر پښتو به ځمه

څومره بې رحمه ظالمان دي سرزوري چلوي
د بې انصافه فیصلو مخ پر غمو به ځمه

څوک نابینا پلنده په شا د ګناهونو ګرځي
تا چې ورک کړی دئ ضمیر مخ پر مرګو به ځمه

په مرګ که غم راټولېدلای د پښتون په کور کې
قاتله تا کړم اوس مجبور مخ پر درو به ځمه

ته د خیالو په تال کې ناست ځانته کشمیر جوړوي
زه د رنځونو لېونی مخ پر دردو به ځمه

کله چې خپل اعمال تلو د جبرائیل په تله
زه امانزی په داده زړه مخ پر قبرو به ځمه

ناروې ۱۵ دسمبر ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# متولي

کـــــه خپـــــل ځـــــان متـــــولي د ښـــــه محـــــراب کـــــړي
پـــــه ظـــــاهره بـــــه يـــــو ځـــــو کســـــه غيـــــاب کـــــړي
کـــــه پـــــه نيـــــت کـــــي صـــــداقت نـــــه وي خاونـــــد تـــــه
کوښښـــــونه دي باطـــــل دي کـــــه حســـــاب کـــــړي
علـــــم زده کـــــړه مختـــــه لاره کـــــړه روښـــــانه
هـــــر مشـــــکل بـــــه پـــــه اســـــانه ښـــــه جـــــواب کـــــړي
پـــــه خپـــــل تـــــوان ســـــره د پـــــوهي ځـــــراغ بـــــل کـــــړه
ټـــــول ا ذهـــــا ن تنـــــويروه کـــــه ښـــــه ثـــــواب کـــــړي
چـــــي بـــــاطن او زړه د تـــــورو خيـــــرو ډک وي
امانزيـــــه دوی مختـــــوري پـــــه وهـــــا ب کـــــړي

ناروي ۲۷ اگست ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کمال

د انسان ارزښت د علم په کمال کي
بې کماله خلک نه وي په جمال کي
که غنچې غنچې د ګلو درځړېږي
خوندور وي د عطرونو په سمبال کي
د اسمان پر مخ تياره خپره سي
خو ښايست يې وي د ستورو په مهال کي
سپوږمۍ ښکلې د فلک پر مخ ځلېږي
نذير نسته سپين بدن يې په مثال کي
که انسان تنوير د علم په رڼا وي
چي لازم تجارب نه وي په زوال کي
خوشبختي نغښتې د علم په زانګو کي
امانزيه که څوک کښېني سم په تال کي

ناروي ۲۸ نومبر ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګلان

په ګلانو کي سرتاج شبي نوري دئ
په هغو کي بيا صدبرګه يې اصلي دئ
ډېري ښکلي رنګارنګ شبۍ کرمه
ورته کښېنم چي مزې مازديګري دئ
د کوهک ګلان مي سترګو ته درېږي
په هر باغ هره باغچه کښي يې بېلګي دي
زما د پلار ښايسته باغونه او باغچې وې
ټوټه سوي هغه ټول په بې غوري دي
محمد حسن او محمد عثمان يې ډېر شوقي وه
شهيدان سوه امانزيه خدای بخښلی جنتي دئ

ناروي ۳۰ مارچ ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګروم

ګروم مي سړي پړسولی په دردو سو
ټول حواس مي کوچېدلی په غمو سو
د وطن په اندېښنو مي زړه اره دي
ستر ښامار زما پر مينه په نغمو سو
د حسرت او ښکي بهېږي پر سينه مي
تور ماتم زما مېلمه په اوسېدو سو
بيا د ېوه د مينې درومي خاموشي ته
تاريکه کي زموږ ارمان په ورکېدو سو
پر تاوده نغري مو بيا ژمی بيدېږي
د سکروټو زور وتلی په سکرو سو
که عقلونه د هستۍ خوا ته توجيح کړو
څه په کار چي د هدف په رسېدو سو
د شپونکي شپېلۍ به کله تر غوږو سي
سره لعلونه د مراد که په ليدو سو
د هوس په ملغلرو کي خيال ګرځي
ارمانجن زړګی مي بيا په چغېدو سو
تمنا مي نن د نياز خاوند ته کېږي
امانزی چي په وار وار په سجدو سو

نا روي ۰۲ دسمبر ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غلبلې

چيغـــــي پورتـــــه ګنګوســــه ده هنګـــــامې د پســــر لـــــي ســــوې
ازانګــــــې دي د بلبلـــــو شورماشـــــور شــــپې د خوښــــی ســــوې
نذرانــــــه د مينــــــي وبشـــــي عنــــدليب پــــــه جګـــــو غـــــرو کـــــي
غـــــواړي زړونـــــه تســــلي کــــړي تېــــري شــــپې د خواشـــينی ســـوې
د ښـــکلا ښـــا يســـت پـــر ونـــو خپـــل د پـــاڼو پـــه زينـــت کـــي
هــــــر طــــــرف نغمــــــې د مينــــــي سلســــلې د خوشـــحالی ســـوې
د ګلونــــو پــــه جمــــال کــــي د ښايســــت کمــــال پــــه کــــار دئ
ســـرې غـــوټی د ګلـــو ټولـــه د ســـپوږمی پـــه ســـلامی ســـوې
کاروانونـــــه د بلبلــــــو تـــــرنم د ســــــها ر غـــــواړي
ښـــه هـــوا د پســـرلی د ه هېـــر غميـــزې د يـــاری ســـوې

نا روې ۰۵ د سمبر ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# صفا

لوی څښتن د پښتون زړونه صفا کړي
د یووالي انګېزه ورته پیدا کړي
څوک اسمان دئ په تش لاس برغزی وایي
څوک ړانده دي پر اولس هغه بینا کړي
هدفونه او نیتونه بدل سوي
تاریکي راته روښنا نه ته مولا کړي
په پاک نیت به پر ټاکلي لاري درومو
د مطلب منزل ته لار مو په سلا کړي
د سرزورو کینه ورو عقل پرېولي
د وحدت په موخه موږ سره پخلا کړي
بسته ډېري ویني توی سولې بې ځایه
د مرګ ژوبلي انګیزې ښه هویدا کړي
د ګروپي ګټو ناکامه تجربه ده
افغاني هیلي ژوندۍ اولس ته بیا کړي
لا تر څو به سوځوو خپل مکتبونه
د ظلمت توري تیاري راته رڼا کړي
هغه څوک چې د وحشت پر نیلي سپور وي
په رحمت او هدایت یې زړه ځلا کړي
په تاریخ کې تل تشویش راسره مل وو
د پردو یرغل ناکامه راته بیا کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



امــــــانزی چــــــې تــــــل محتــــــاج دئ ســــــتا د مهــــــر
دښــــــمنان زمــــــوږ د وطــــــن ټولــــــه رســــــوا کــــــړې

ناروې ۲۰ نومبر ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډېوه

زمــــا د ژونـــد غـــوټۍ چــي مـــا تـــه غوړېدلـــه
ډېـــوه راتـــه رڼـــا ســـوه پـــه ښـــکاره ښـــه ځلېدلـــه
کلـــه لار چـــي انتخـــاب ســـي پکښـــې وي لـــوړي ژوري
ورســـره بـــه وه ښـــه زېـــري يـــا اغـــزي بـــه پاشـــېدله
کلـــه هيلـــي نـــامرادي د دريـــاب څپـــو اخيســـتي
يـــو وار نـــه و پـــه څـــو وارو پـــر ســـاحل بـــه جنګېدلـــه
کلـــه مـــات بـــه ســـول ښـــاخونه د څپـــو پـــه توپـــانو کـــي
يـــا بـــه ښـــه فرصـــت پيـــدا ســـو ســـرې غـــوټۍ بـــه خندېدلـــه
کلـــه داســـي تصـــورو چـــي مېـــوې پـــر پخېـــدو ســـوې
د ځښـــتن احســـا ن بـــردار وم چـــي مننـــه بـــه کېدلـــه
کلـــه تـــن دي پـــه تقـــد يـــر کـــړه امانزيـــه ورتـــه ګـــوره
ارمانونـــه پـــوره کېـــږي کـــه نصـــيب وي لـــه ازلـــه

ناروي۲۶جولای۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډ ېر عمر

يو سړی سو په زاريو خدای تعالی ته
هيله مند سو د اوږد ژوند ښتن تعالی ته
مهربان سو پر خالق چي مراد دي وايه
د ده مخ ته د سيب ونـي وي له ورايه
دی يوې ونې ته ګوري په ګفتار سو
لاس يې پورته په دعا او په اظهار سو
عمر غوارم د دې ونـي د برګونو
پاڼي ډېري ځړېدلې تر زرګونو
ورته راغله ملايکه په جواب کي
امکان نسته په زرو کاله په خواب کي

يو ځل بيا دي په اظهار د خپل سوال سو
د منو په اندازه ورته په خيال سو
منې ډېري تر سوو په ځړېدلې
جواب راغلی د امکان ده وتلې
دی په فکر او زاريو په دعا سو
الله راکړی ځو مره ستاسي په مرضا سو
ملايکو ورته وويل سړي ته
د الله فرمان دي ته ول تا ته واوره بيخي ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ثومره ستا دي ډېر ملګري په ژوندون کي
د سړي پر سر يو کال تا ته افزون کي
دی راضي سو سول قبوله پېرزوينه
سو لګيا د خپل ملګرو په شمېرنه
شپه او ورځ په چرت کي ډوب سو د يارانو
واقعيت کي دی فارغ د قريبانو
چي هر ثومره ده تلاښ وکړ له توانه
پيدا نه شو هيڅ ملګری له رشتيا نه
امانزيه د سړي زړه په ژړا سو
د کلو خواری عبث په واويلا سو

ناروي ۰۸ نومبر ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ميني هوسۍ

زما د ميني هوسۍ مخ پر بيابان سوه
د ظلمو د چنګه خلاصه همزمان سوه
په خپل کور کي جوړ ستم سو د بې رحمو
ناچاري وه ترک د ميني په خفګان سوه
د نا اهلو منځ کي ژوند ځو مره مشکل وي
د پرديو په وحشت کي خلک حيران سوه
که منطق او استدلال ته زور توپک وي
په کابل کي ډېر بې وزلي ترې قربان سوه
لوی مالک روزي رسان د هر بنده دئ
امانزيه په توکل کي ټول عيان سوه

ناروي ۲۹ جنوري ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د صبر کاسه

توان مې نسته حوصلې کمزورې کېږي
اوس د صبر کاسه تشه لا تشېږي
اوس پوهېږم چې ځواني د قدر روړوه
رانه ولاړه بیرته کله را ستنېږي
څه چې هیلې د ځوانۍ وې هغه سولې نامرادي
هدف یو وو چې سبا به د وطن چاري سمېږي
کله ویجاړه خیال مصروف پر بېهوده وي
په ناوړه عملونو پښېماني په زړه کې لوېږي
خوشبختي به په نصیب د هغه چا سي امانزیه
چې هوښیار یې هم نشینه په بغل کې ودرېږي

ناروې ۱۳ دسمبر ۲۰۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خبري

زما نه واوره په خبرو نه شل کېږي
په انجام کې حقيقت تل څرګندېږي
روس به ډېر جوړول پلينومونه
ورسره به وه افغان ته مل دامونه
امريکا اوس جوړوي کنفرانسونه
هره ورځ وي راته شنه نوي دردونه
که دوی غواړي د ناسور زخم پيدا کړي
په رشتيا دي د افغان سره ملتيا کړي
په دې کار کې درې اصوله ضروري دي
د اردو سمبالول ورته حتمي دي
ګومارل د اهل کار چې وي په کار کې
د سپلين ښه تامينېږي په روزګار کې
ماشيني کادرونه ټول بې تجربه دي
صرف خبرې ور رسېږي بې فايده دي
په مدير باندې حلېږي پرابلمونه
په رشتيا که پر ولس لري خيالونه
تجربې چې د تهداب په پخې نه وي
سر د نوې زده کول يې ترخې ښه وي
که هر څومره څوک سرزوره سي په کار کې
چې انصاف پکښې کې نه وي ځان به خوار کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سـر د وخـت دئ پـر چـارې ښـه غـور وکـړئ
بـې تصـميمه پښـېماني هـم بـه نـور وکـړئ
پـه دقـت کـه لـږ څـه ځيـر سـو دې سـوالو تـه
امـا نـزی فکـر کـوي دې مشـورو تـه

نا روي۱۰د سمبر۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جام

د شپې په نيمايي کښې مې مېلمه د ميو جام سو
د نشې په خوب بيده مې هغه سرو ګلو ته پام سو

په احساس کې د سرو وينو حرارت پکښې څرګند وو
زړه مې پوه سو واقعيت کې چې د مينې پکښې پند وو

لېونی هوس مې ځير د بادامي سترګو پر لور سو
ما چې هغه لمسولې خوار زړګی راته پرشور سو

شهلا سترګي ښکارېدې په تور کې بوري
بې اختياره کشېدل د زړه ريښې پر هري لوري

په ځيګر کښې مې تودوخه نابيره توفاني سوه
د احساس په لېونتوب کښې بيهوشي هيجاني سوه

سترګي پټې خوږې مينې په زانګو کې زنګولم
خدای شاهد دئ چې احساس مې په باغو کې ګرځولم

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د بخت نيلی دي مل وي امانزيه

په خوښيو کې خـوند تل وي لېونيه

ناروي ۲۰ مارچ ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تنور

د اور پـــــه تنـــــاره کـــــي مـــــو وطـــــن کبـــــاب کبـــــاب ســـــو
تـــــور لـــــوګي يـــــي پورتـــــه کېـــــږي پـــــه پرهـــــار بېتـــــاب بېتـــــاب ســـــو
د خـــــزان يخنـــــي چـــــي راغلـــــه پـــــر ګلونـــــو د وطـــــن زمـــــا
مرغـــــان هـــــم ســـــول بـــــی وطنـــــه پـــــر مېلمـــــه عـــــذاب عـــــذاب ســـــو
د ګـــــرګين پـــــه شـــــان يرغـــــل پـــــر خـــــاوري جـــــوړ دئ
اند ښنـــــو تـــــه مـــــي د ســـــوال جـــــواب جـــــواب ســـــو
بيـــــدار او ســـــئ افغانـــــانو خپـــــل چمـــــن تـــــه
د فريـــــب نـــــوی شـــــعار راتـــــه بـــــاب بـــــاب ســـــو
د افغـــــان پـــــر هـــــره پولـــــه ننـــــداره ســـــوه د پـــــرد يـــــو
غـــــم پـــــر ليخـــــه امانزيـــــه د خوښـــــۍ کريـــــاب کريـــــاب ســـــو

ناروي ۱۰ نومبر ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تر سهاره

ســــتا د مینــــي پــــه زانګـــو کــــي زنګېـــدلم تـــر ســــهاره
تـــــور مـــــاتم زړه کــــي مېلمـــــه وکړېــــدلم تــــر ســــهاره
د نـــــاورين تبـــــو زهيـــــر پـــــه تولـــــه تـــــوان کـــــړم
دردونـــــــه بـــــــې علاجـــــه ويښـــــېدلم تــــر ســــهاره
د وطــــن کلــــو کوڅــــو کــــي دښــــمنان ګرځــــي پرېمانــــه
امــــانزی پــــه شــــواخون کــــي زورېــــدلم تــــر ســــهاره

ناروي۱۱نومبر۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پسرلی

نه يې وينم پسرلی څنګه غوړېږي
د ګلونو مېلمستون څنګه جوړېږي
بلبلان تازه په جوش د ساز اواز سي
ناخبره سپينه ورځ ورته شپه کېږي
لالهانده پر سپيرو ونو مېلمه سي
د نغمو لپاره خوله هيڅ نه ښورېږي
پر راغبرګ سي د خزان ساړه بادونه
سره او ژيړ رنګونه ژر څنګه ورکېږي
ژمي راسي د ګلونو ټغر ټول کړي
ټول سپيره سي امانزيه حوصله ورته تنګېږي

ناروي۱۱/۱۲/ ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اشعار

د اشعارو په ليکلو مي د خپل زړه تسلي کړم
په ناپايه سمندر کي توکل په تعالي کړم
که په زړه سي يو الهام د څو خبرو
ټول حواس ورته بېګار د هلو ځلو
خوار زړګی مي ناتوانه د هجران په اور سوځېږي
بېچاره اولس ته ګوره چي ټول کور په کور ځورېږي
تور د ظلم غوړېدلی ن زمونږ پر خاوري باندي
د وحشت سفر شروع دئ سو مرګی زمونږ پر لاري
پر يوه شعر راټول سي نابللي ډېر ګرومونه
امانزيه بنه فرصت دئ قلم واخله هېر غمونه

ناروي ۱۷ سپټمبر ۲۰۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ارغنداب رود ته

زمـــــــا د زړه تســـــــلي کېـــــــږي چـــــــي دي ګـــــــورم
خـــــــاطرې را پـــــــه يـــــــادېږي چـــــــي دي ګـــــــورم
د خوښـــــــى نـــــــه زړه رپېـــــــږي چـــــــي دي ګـــــــورم

***

ښـــــکلا جـــــوړه د کوهـــــک د غـــــره پـــــر ســـــر وي
د اوبـــــو مســـــتي څپـــــې دي ســـــر پـــــر ســـــر وې
خيـــــال مـــــي ســـــتانه نـــــه بېلېـــــږي چـــــي دي ګـــــورم

***

ســـــتا پـــــر غـــــاړه مجلســـــونه او قصـــــې وي
پســـــرلى بـــــه ســـــتا پـــــر خنـــــدا و غړغـــــړې وي
ځـــــل پرتـــــا بانـــــدي چلېـــــږي چـــــي دي ګـــــورم

***

نفـــــس تنـــــګ ســـــم مـــــخ نيـــــولى ســـــتا پـــــر خـــــوا کـــــړم
تـــــا تـــــه راســـــم تـــــنفس ښـــــکلې هـــــوا کـــــړم
غـــــم مـــــي ليـــــري رانـــــه کېـــــږي چـــــي دي ګـــــورم

***

شـــــنه ګـــــلان دي شـــــنې اوبـــــه دي لمـــــر کـــــي برېښـــــي
تـــــک شـــــين مـــــخ دي د هنـــــداري غونـــــدي برېښـــــي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه په تا باندي خوښېږي چي دي ګورم

✶✶✶

په تا ښاد ډکي ولې ليري کښتونه
ستا پر غاړه شنې باغچې شينکي باغونه
رنځور فکر ارامېږي چي دي ګورم

✶✶✶

ټوله عمر ستا پر غاړه شنه کښتونه
شپه او ورځ وهي درانه مزلونه
هر وچ حلق په تا اوبېږي چي دي ګورم

✶✶✶

د شملې غميان په خاورو کي پټېږي
د وياړ شنختي دي نورورکي شوې نړېږي
د اولس اوښکي بهېږي چي دي ګورم

✶✶✶

لوبه سوله ډېرمشهور د بازيګرو
معاملې دي په پيخر د يرغلګرو
پر ځيګر اوښکي تويېږي چي دي ګورم

✶✶✶

لويي تبې کړولى يم بې توانه
راته جوړ سول جنجالونه ډېر بې شانه
ټول افغان پکښې کړېږي چي دي ګورم

✶✶✶

(c) ketabton.com: The Digital Library



خـــــومره علــــــم مخکـــــــي درومــــــــي پــــــه نــــــړۍ کـــــــي
انســــــانان چـــــي ژونـــــد کـــــوي پـــــه خـــــوش بختـــــۍ کـــــي
هـــــــــومره حـــــــــرص د دوۍ ډېرېــــــــــږي چــــــــي دي ګـــــــــورم

***

لـــــــــوی خالقــــــــه اراده مـــــــــو پـــــــــه نصـــــــــیب کـــــــــړې
د وطـــــــــن مینـــــــــه غښتـــــــــلې تـــــــــه حبیـــــــــب کـــــــــړې
امـــــــــانزی پـــــــــه امیـــــــــد کېـــــــــږي چـــــــــي دي ګـــــــــورم

ناروي ۰۴ دسمبر ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د چرخي پله زندان

د چرخي پله په زندان کي
شا وخوا جگ دېوالونه
په دېرو پورته سوي
شپه او ورځ موږ ته يوه وه
سختي شپې مو تېرولې
ډېر اوږده لوی بارکونه
پکښې جوړ وه لوی وينگونه
ډېر برداره دهلېزونه
لومړي بلاک کي ستر وحشت وو
د چرخي پله په زندان کي
او سپنيزه دروازې وې
غټې قلفان په ځړېدله
هر قدم کښې وې ولاړې
ټول ورځ به وې ترلې
چا چي خپله وې ليد لي
اتيا کسه جلا لاره
رحم نه وو خدای له پاره
ټول بنديان ناست وه بېکاره
انساني حقوق پايمال وه
د چرخي پله په زندان کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو تشناب د اوداسه وو
دروازه پکښې کې نه وه
نيمه ورځ به انتظار وې
په موسم کې د سره ژمي
خاطرې وي د مرګوني
هلته وه لوى قطارونه
په ساعتو وه نوبتونه
هره ورځ به وه عرضونه
زنداني دموکراسي وه
د چرخي پله په زندان کي
خلک ربړېدل د يخه
دلسوزي خو بېخي نه وه
کړکۍ ټولي پنجره وې
خو هينداري ماتي سوي
شاوخوا په هر اطاق کي
ډېر واړه وه کلکينونه
هغه څوک چي داطراف وه
همېشه لوى پرابلمونه
په قدرت کي خود خواهان وه
بې انصافه ظالمان وه
خپل اولس ته دښمنان وه
ټول د خاد کثيف سيستم وو
د چرخي پله په زندان کي
د دوبي په ګرمه کي
د خولو درباندي چور وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېـــــر افســـــوس بــــه چـــا تـــــه راغلـــــى
چـــــي پــــــر ځــــه بانـــــدي بنـــــدي يــــم
خيانـــــــت وطـــــــن تـــــــه نســـــــته
خيانـــــــت اولـــــــس تـــــــه نســـــــته
نــــــه مــــــي مـــــال د چـــــا غـــــلا كـــــړى
نــــــه مــــــي هيڅـــــوك دئ وژلـــــى
نــــــه مــــــي حـــــق د چـــــا غصـــــب كـــــړى
صـــــــرف يـــــــوه ګنـــــاه زمـــــا وه
چاپلوســـــــي مـــــــي نـــــــه كولـــــــه
د چرخـــــــي پلـــــــه پـــــــه زنـــــــدان كـــــــي
چـــــا وي پلنـــــډي پـــــه شـــــا كـــــړي
څـــــوک اختـــــه پـــــه خـــــس دوزي وو
بـــــل خوشـــــحال تـــــر ويـــــش پـــــه چـــــور وو
جـــــــورږي غـــــــټ بلډينګونـــــــه
هـــــــره ورځ خـــــــوري رشـــــــوتونه
نـــــه پوښـــــتنه نـــــه هـــــم ســـــوال ســـــته
نـــــه بازخواســـــت تـــــه كـــــم مهـــــال ســـــته
جـــــوال پـــــه شـــــا د ســـــترګو حـــــال ســـــته
څـــــوک يـــــې نـــــه وينـــــي پـــــه ســـــترګو
د چرخـــــــي پلـــــــه پـــــــه زنـــــــدان كـــــــي
پراتـــــــه ډېـــــــر بېچارګـــــــان وي
خپـــــل لـــــه ځـــــا نـــــه بـــــې خبـــــره
پـــــردې لومـــــه كـــــي راګيـــــر ســـــي
دوســـــيه ســـــي ورتـــــه جـــــوړه
اقـــــرار واخلـــــي تـــــرې پـــــه زوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



رحم نسته خپل پر خلګو
نه پوښتنه پر بېوزلو
عقل ټول ورته حیران دئ
بېخي ډېر په پرېشان دئ
ټول د زړه څخه بیان دئ
ښه عادل نظام په کار دئ
ټول تاریخ ده ازمایلې
د چرخي پله په زندان کي
ما لیدلي ډېر ځوانان وه
چا نوکان څني ایستلي
د لاسو مات وه هډوکي
یا زخمي به وه پوستکي
په هفتو بیدار خوابي وه
یا په شپو به جزایي وه
پوچ ویل خو به حتمي وه
د غه څه رنګ شرافت وو
د نا اهلو ریاست وو
د چرخي پله په زندان کي
د ملي زعیم له پاره
په کار ډېره تجربه ده
عمر ډېر تر پنځوس کاله
ډېر ضرور دئ په هر لاره
دی به خلاص د عیاشۍ وي
نه به ډېر احساساتي وي
کار یې ټول مشورتي وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



عاطفـــــــــــــه یـــــــــــــــې بشـــــــــــــــري وي
پـــــــــــر اولـــــــــــس یــــــــــې دلســـــــــــوزي وي
شـــــــــــــرط پـــــــــــــه کـــــــــــار دئ امانزیـــــــــــــــه
کـــــــه د علـــــم پـــــه رڼـــــا کـــــي وي لــــــوی ســــــوی
یـــــا تعلــــــیم د مـــــوراو پـــــــلار یــــــې وي لیـــــد لـــــی

ناروې ۱۴ سپټمبر ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# میوند

ژوندی ساته افغاني غرور په ژوند کي
شمله جګه ښي مزي کوه په خوند کي
چي ساتلی مېړنو زموږ تاریخ دئ
د ملي ګټو ارزښ وي په پیوند کي
رښتني افغان جاربږي خپل ترخاوري
امانزیه ښه بېلګه یې په میوند کي

ناروي ۲۵ مارچ ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# الهام

خپل د زړه الهام ليکمه په تحرير کي
هر څه ښکاري راته اوس ښه په تفسير کي

کله ولوېږي د صبر په کاسه کي
کله باز غوندي شجاع وي په تعبير کي

غاړګۍ د ميني خپل وطن ته ورکړي
يا هم زړه ور نه غوټه سي په تقصير کي

مسافر خيالونه بوزي اندېښنو ته
يا يې وتړي دولايه په زنځير کي

تمنا د عاطفې چي په ځلا سي
څه نا څه ځني را اخلي په کفګير کي

کلمات د پېرزوينې سره ګنډي
امېلونه ځني جوړ سي په تقرير کي

درک د عقل چي پر لار د غايې درومي
په ليکلو روحيات سي په تغير کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـــــــه کـــــــرم کــــــي د هـــــــر کـــــــار مالــــــک رحمـــــــان دئ
امـــــــانزی اوس اختـــــــه ســـــــوی پـــــــه شـــــوګیر کــــــــي

د سمبر۲۰۱۱ -۲۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غرق

په خيال لو کي غرق اسمان ته پورته کېږي
دغه وخت کي تهول انصاف ورنه ورکېږي
په ړانه عقل تحليل د يو شي نه کړي
صاف ضمير ورځخه ورک سي نه پوهېږي
نا خبره د تهولني هيلي څه دي
خپل پر طرز باندي مين نور نه ښوربېږي
احساسات د عاطفې چي لېر تياره وي
پر زړو عقدو ولاړ لا نه صبرېږي
د زړه ځاله چي خالي سي له پېرزو نه
وچ لانده تهول په يو شان ترېنه سوځېږي
امانزيه خداى دي دوى ته انصاف ورکړي
لا به کله سد په سر کي ورته لوېږي

۲۵د سمبر۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بهار

د ژوندون بهارمي تېر سو هيلي زما نه سوې تر سره
د امید هڅي نامرادي پخې نه سوې تر ثمره
چي روان مي د ځوانۍ ارمان پر لوري د خزان سو
تور سېلاب وو په وطن کي چي يې ډوب کړم تر ځيګره
شين چمن کي د ګلزار غوټۍ لا نه دي غوړېدلي
د خيالونو ارزوګاني پوره نه سوې ترکمره
اوازونه د زړګي مي غواړي وکړي پروازونه
خو بلبل يې رنځور سوی اور کي سوځي تر وزره
دعا کړمه لوی څښتن ته نامراد زړګی راښاد کړې
امانزيه غايه پرېږده خوښۍ نه سوې تر اخره

ناروي ۳۰ مارچ ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پردی ستم

ستا د مینې پر اوږه راسره غم دئ
د وطن ښکلی بهار زړه ته ملهم دئ
را ته ښکلی معلومېږي په نړۍ کي
افتخار دي تل و ما ته مقدم دئ
په شېبو شېبو مي فکر ور روان وي
چي بیلتون وي قسمت هم و ما ته ګرم دئ
د نژدې در رسېدلای نه سم ګرانه
ستا چي غم په هېروم هغه قلم دئ
د اولس مینه په کار ده امانزیه
هلته جوړ پردی ناورین پردی ستم دئ

نا روي۲۲ فبرال ۲۰۱۱



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خوب لیدل

خوبه څومره مهربان یې زه دي بوتلمه مکې ته
د طواف په هر پړاو کي ما کتله معظمې ته
د حرم په محوطه کي پورته کښته ګرځېدمه
لالهانده سرګردان وم هیڅ په ځان نه پوهېدمه
د صفا مروا غونډۍ ته د ورتګ په اند ښېنو وم
ابراهیم مقام ته ځیر چي د نفلو په درېدو وم
چي راویښ سولم له خوبه تر حد ډېر ومه ستومانه
هم لذت پکښې کي نغښتی ښېخي ډېر ومه حیرانه
د ښتن قدرت ته ګوره ناممکن کار راممکن کړي
که لېر توان د انسانزي وو د مکې به بیا دیدن کړي

د سمبر ۲۰۱۱ -۲۳


LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اولس ږغ

د اولس ږغ پورته کېږي تر اسمانه
غلبلې يې نن رسېږي تر جهانه
نور لا هم خلک ځورېږي تر توانه

دښمنان دي هره ورځ په توطيو کي
رقيبان دي هر ګړی په مشورو کي
د پرديو خدمتګار دي په پردو کي

څوک تېښه وهي نفاق او بدبختۍ ته
څوک لمن وهي نفرت او بدبينۍ ته
څوک ولاړ وي خپلې ګټې او خوارۍ ته

چا جوړ کړی د پردو مزدور له ځانه
زړه او فکر مغشوش سوي بې له شانه
ژبې يورنګ زړونه بل سوله عيانه

دورنګي يې په چهرو کي معلومېږي
چالاکي يې په کړو وړو کي ظاهرېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپين سترګي يې په ليدو کې ځرګند يږي

خپل وطن ته سم دښمن دئ ګرځېدلی
خپل اولس ته مار زهرجن دئ ګرځېدلی
خپل ژوندون ته کبرجن دئ ګرځېدلی

عقيده يې خپل وطن ته د ارې ده
مفکوره يې خپل اولس ته د دعوې ده
اند ښنه يې د پرديو په وعدې ده

غليم ګوره سترګي سرې پر دې وطن دئ
ورته جوړ په ټول تاريخ کې يې دښمن دئ
خو افغان بچی يې تل درد کې دردمن دئ

مقابل کې د وطن بچيان بيداردي
دسيو ته د غليم په توان هوښيار دي
قرباني ته سر په لاس ځوانان کتاردي

د تاريخ په دې ترخو حساس شېبو کې
دښمنان ټول مصروف سول دسيسو کې
اما نزيه مخ بې تور سي په سکرو کې

ناروي ۲۹نومبر ۲۰۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زما وطنه

په امید د سولي تا ته انتظار یم
خوشبختۍ ته هره ورځ سترګي په لار یم
زما د زړه بلبل خاموش دئ په چمن کي
د سبا ښکلي ورمې ته انتظار یم
که سهار نسیم یو ځل پر لګېدو سو
د بورا غوندي د ګلونو په دیدار یم
د ګلاب غوټۍ ښکلا ته ځان جوړ کړی
په راتلو د ښو نغمو زه د بهار یم
جوړ به نوی شورماشور سي د بلبلو
اما نزی به د خوښیو په کتار یم

ناروي ۲۵ اګست ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# میراث

زموږ اولس ته په میراث کي تربګني ده یو تر بله
وارثه کي ډېره نغښتی دښمني ده یو تر بله
یو چی لږ په ګېډه موږ سي د بل سترګي باندي سرېږوي
همېشه دغه قصې دي خوابدي ده یو تر بله
پر ناحقه بهانې جوړي پورته چیغې او نارې کړي
قناعت په منځ کي نسته خواشیني د ه یو تر بله
چي منطق په منځ کي نه وي زور جانب قانون چلېږي
بېره نسته دالله نه خپل سري ده یو تر بله
د خبرو چي وار ورسي درچپه به کړي غښتغرونه
ا مانزیه سود یې نسته رسوایي د ه یو تر بله

ناروی۲۰۱۰.۰۵.۰۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مینه نسته

وروركلوي سره وركېږي
زړه سوى هيڅ نه معلومېږي
مينه نسته مهر كم سو
بې غوري ده تور ماتم سو
نفاق هر كور ته رسېږي
راته جوړه تربګني سوه
د سر خوږ مخ ته خواري سوه
زړه پرېشان ورته سولېږي
هيله خه سوه د پلرونو
په ميراث وه د نيكونو
توجه نه ورته كېږي
مور مسئول د حفاظت يو
خپل د خاوري په عزت يو
په غيرت پرتله كېږي
پېرزوينه وه هر كله
مرسته ولاړه يو تر بله
تهمت خپل ورور ته جوړېږي
ته دا ولې بې پروا سوې
نن دي خپل كور ته بلا سوې
ټول اولس دي په ځورېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دروا غ پرېـــــــــــــږده تهمـــــــــــت مـــــــــــه کـــــــــړه
د دوســــــــــــتۍ مـــــــــرام پـــــــــــه زړه کـــــــــــړه
مشـــــــــــــــکل تـــــــــــــول خپلـــــــــــــه حلېـــــــــــږي
غېـــــــږدي خـــــــلاص اولـــــــــس تـــــــــه نـــــــن کـــــــړه
رضـــــــــــائیت تـــــــــــه د ښــــــــــتن کـــــــــــړه
تـــــــــول کارونـــــــــــه بـــــــــــه ســـــــــــمېږي

اکتوبر۲۰۱۰-۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ننګ

افغان بچی ولاړ دئ ستا مقام ته نن په ننګ ننګ
ټول احساس يې قرباني دئ مښلوي زړه نن په سنګ سنګ
تاريخ ورته ليکلي پر زړګی د وطن مينه
فولادين عزمونه ګوره هيله سته نن په غورځنګ ځنګ
زورمندان که نن تاوېږي د پرديو په لمسون کي
د شهيد د وينو څاڅکي ته پريوله نن په لونګ ونګ
پيوستون زړو ته راغلی زمزمې دي د يووالي
وروراو خور ټوله درېږي يوتربله نن په څنګ څنګ
سرې ستر ګي دي د مينډو تړمي اوښکي تر بهېږي
امانزيه ورته ګوره توري بيا سوه نن په شرنګ شرنګ

نا روی ۱۹۱۲۲۰۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وطنه

سرې مرمې دي هري لوري ته اورېږي
ستا له غبږي غلبلې دي پورته کېږي
د ناهلو په لاس ته يې کباب سوی
دا سرې وينې د زړګي څخه بهېږي
ستا ترنام او لور ننګ دي سپلنی سم
ستر وحشت دئ چې ولس دي په سوځېږي
جنازې د بېوزلانو په قطار دي
هديرې دي هري خوا ته پراخېږي
ستا دښمن دئ فريبکار نن په کمين کې
ښه ځوانان دي خپل له تنه نه بېلېږي
سد مو خلاص کړئ د بابا باتور بچيانو
د نفاق زنې ستا کورته پاشل کېږي
خپل د عقل استدلال پر وطن وکړه
که پوه نه سې نور به هر څه ويجاړېږي
خپل په لاس تولې ويرانې ده
امانزيه تول فکرونه کنګلېږي

ناروي٢٠٠٧٢٠١١

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګل

ســـحرګاه پـــه لمرخاتـــه کـــې شـــبنم پـــروت ســـتا پـــه لمـــن کـــې
مرواریـــد دي پـــرمخ برېښـــې کـــه ســـنبل بیـــا پـــه ګلشـــن کـــې
دا منمـــه چـــې قـــدرت ښـــکلا د ه ســـتا پـــه نصـــیب کـــړې
د عطرونـــو پېرزوینـــه چـــی و تـــا تـــه حبیـــب کـــړې
بلـــبلان بیمـــاره ګرځـــي ســـرګردان ســـتا پـــه چمـــن کـــې
کـــاږې ډېـــر لوړفریـــا دونـــه ټـــول جهـــان ســـتا پـــه دیـــدن کـــې
د ســـها رښـــه ترانـــو لـــره مخصوصـــي هنجـــرې دي
خپـــل د مینـــې پـــه اظهـــار کـــې ښایســـته جـــوړې نغمـــې دي
امانزیـــه ورتـــه ځیـــر ســـه لـــوی قـــدرت قـــا یـــم مقـــام دئ
ټولـــه ژونـــد یـــوه لحظـــه ده د هـــر کـــا ر دایـــم انجـــام دئ

۱۹ دسمبر۲۰۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وطني شعرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نوی عصر

نوی عصر شروع سوی د بریا خبري کېږي
پرمختګ دئ هري خوا ته د شفا خبري کېږي
تمدن طغیان اخستی هره ورځ رنګ بدلوي خپل
ټول سیستم کمپیوټري سو د رڼا خبري کېږي

★★★

بلډنګونه ابادېږي سر یې خېژي تر اسمانه
وسایل بیخي مډرن په کار لوېږي تر توانه
هم ښایسته وي بې نظیره هم لذت د روح لپاره
خدمت ټوله بشري دئ توان جارېږي تر انسانه

★★★

د نفرت چیغې دي پورته نن د جنګ په مقابل کې
د مرګي ثخه بېزاره زړونه تنګ په مقابل کې
د خندا خوږې خبري په هر کور کې مجلسونه
د وحشت ترانې ورکې نوی ترنګ په مقابل کې

★★★

افغاني ځوانان که پوه ي د کتاب لاره دي خپل کړي
ټوپک لیري کړي له ځانه د حساب لاره دي خپل کړي
علمیت ته دي رجوع کړي چې اګاه په تمدن سي
تو لعنت دي پر جګړې سي د ثواب لاره دي خپل کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

د مرګونو ټغر ټول سي د افغان د کلي کوره
نور دي بس سي سوي چغي غټ ارمان د هري لوره
اوښکي پاکي کړئ د مينډ و وسيلې لړ ځه پر وکړئ
جهالت دي رانه وركړ ي ظالمان دي شي نسکوره

***

نه دي دين نه دي دنيا سوه اى نادانه ځان مرګيه
نسته حوري او غلمان بيا اى ناځوانه ځان مرګيه
جهنم دي په نصيب دئ ته قاتل د شهيدانو
خپل دي دواړي خطا کړي بې ايمانه ځان مرګيه

***

كه دي موخه شهادت پر خپل وطن وي
يا ظالم دي پر اولس جاهل دښمن وي

ټول منمه چي د زور جواب به زور وي
مرامونه د پرديو تل اغزن وي

***

موري دوى ته دعا وکړه چي د جهل لاره پرېږدي
ځان تنوير په علميت کړي چي د بخل لاره پرېږدي
جهاد وي د خداى لپاره نه د بل چا په چوپړ کي
د انصاف تله دي خپل کړي چي د دغل لاره پرېږدي

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه ډېره بدبختي ده پر مکتب دي حمله کېږي
په بينا سترګو وګوره پر مذهب دي حمله کېږي
د ولس سره جفا ده که د دوی مکتب ويجاړ سي
غليم نه کښېني ارامه پر منصب دي حمله کېږي

✶✶✶

بې شرمي تر حد ه تېره کمپيوټر هم په نښان دئ
بېنوا د سترګو خار ده حقيقت ورنه پنهان دئ
څوک چي علم ته خدمت کړي يا په فکر د انصاف وي
د دښمن حملې پر کېږي څومره زور ده په توان دئ

✶✶✶

د افغان غښتلې ځوانه پر ځواني دي برکت سه
عذر وکړه مور او پلار ته د تيارې نه دي رحلت سه
که د علم په رڼا کي نوی ژوند ځانته سمبال کړې
ښوونځی سره ياري کړه مخ پر لمر دي حرکت سه

✶✶✶

د جهان سره يو ځای شه پرمختګ ورځني زده کړه
د تاريک ژوند نه راووزه تمدن مخ کي پرده کړه
هم به ستا خير پکښې وي هم فايده ټولـه ولس ته
په هر کور کي ډېوه بله ورته جګه دي شمله کړه

✶✶✶

موري خداي ته دعا وکړه چي ځوانان په ژبه پوه سي
رخصت وا خلي د ټوپک نه د سواد په ګټه پوه سي
په هر کور کي به مسکا وي غم به ليري ورنه ځغلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## امـــــانزی بـــــه وي خوشـــــحاله کـــــه ځلميـــــان پـــــه دغـــــه پـــــوه ســـــي

ناروي ۱۹سپتمبر۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سمندره

چي په ناز به در روان وم ستا دیدن ته
د چرتونو په ټالو کي ستا لمن ته
غم به لیري رانه ولاړی ستا په غېږ کي
هله بیا به زړه در توپ کړه ستا ګلشن ته

***

رانه ولاړه به غمونه لیري لیري
یا به جوړ سوه نور جشنونه دوري دوري
د یارانو په مجلس به زړګی ښاد سو
مطربان له بغلو نه ګوري ګوري

***

هم نڅا وه هم سرود د ښو ځوانو
ښه اشعار او شاعري د شاعرانو

ورور ګلوي وه اتحاد په خپل قوت کي
ښه وعظونه به کېدل د عالمانو

***

نابیره د یخنۍ توپان را خپور سو
ناعلاجه غم پاشلی په هر کور سو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بي انصافه شعارونه را پیدا سول
ناکاره چیغي پورته شورماشور سو

***

هره ورځ نوي غمونه کوټه کېږي
پر زړګي نوي دردونه مېلمه کېږي
د هجرت او پردېسي چیغي سوې پورته
تربګني هم د افغان په پښته کېږي

***

د بدلون نوي فکرونه په نړۍ کي
تاکتیکونه الیشېږي په بېړۍ کي
هد فونه ستراتیژیک نور هم محرم سوه
د وړیو اختلاف سو په شړۍ کي

***

ظالمانو د مغل نقاب اغوستی
دښمنانو د ګرګین سېلاب راوستی
وچ لانده تولـه یو شان په سوځل کېږي
جهان سوز د خپل پلان حجاب اخستی

***

د تاریخ په اوږد پړاو کي ښه څرګنده
د ظالم شکست حتمي وي په بربنده
که ښکرونه د هر چا بیخي تېره وي
ماتېدل یې الهي وي په زغرنده

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــــه هرځـــاي کـــې مځکـــه ســـره زمـــوږ پــــر شــــپه ســـوه
تــــاريکي د هـــــري لـــــوري پـــــر خپـــــره ســــوه
لاره ورکــــــه هـــــر خــــوک مــــخ پــــر بېــــديا ســـــو
کلــــي کـــور کــــي د توبښــــې پــــر ســــر دعـــــوه ســــوه

***

د خـــــــروش ډ کــــــي ســــــينې را توپـــــاني ســــــوې
ســـــــمندر زړه کـــــــي ريښــــــې راطغيــــــاني ســـــوې

ســــــوناميې د هيچـــــــا زړه تــــــــه نــــــــه لوېدلــــــــه
خيــــــرولاړې ټکــــــي بيــــــا را اســـــــماني ســــــوې

***

د الله د ســــــــتر قــــــــــدرت ژونـــــــدي مثـــــــال دئ
د ژونـــــــــدون اخـــــــــر زوال نــــــــري شـــــــمال دئ
ټــــــول نيمګـــــــړي تلابنـــــــونه بــــــــه مـــــــاتېږي
امانزيــــــــــه د تــــــــوبې کمکــــــــــي محــــــــال دئ

ناروې ۲۵ نومبر ۲۰۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سمسور

زما په سترګو لید ل کېږي
ګران وطن را ته سمسور ده ېر
چرت چي څومره راته ده ېر سي
اند ېښني وي د خپل کور ده ېر
څه چي زړه مي منل غواړي
رانه څغلي دئ پېغور ده ېر
چيغي ژرسم اورېدلای
څوک چي جوړ کړي راته شور ده ېر
څوک وحشت چلول غواړي
امانزيه په ردی زور ده ېر

ناروي ۱۵ جولاي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زمونږ خاوره

زمونږ خاوره طلایي ده ټولي ډکي يې تپې دي
د تاريخ په اوږد پړاو کي ورته جوړي دسيسې دي

غليم پروت وي په خزه کي هر ګړی نوي خيالونه
که يې لږ سد ته ورسي په دروغ جوړي ګيلې دي

خپل په کور کي هر څه غواړي ابادي يې ډېره خوښه
د افغان کور ته بلا دي پر اولس يې سترګي سرې دي

ډېر کلونه په چرتو کي د هلمند د اوبو غلا ته
د تخريب غټ پلانونه هره ورځ جوړي حملې دي

ځيني ناست وي په خزه کي زمونږ د خاوري دښمنان دي
يا پښتون د سترګو خار دئ يا زمونږ جګي شملې دي

د نفاق زاړه تخمونه دوی ښندي پر هره سيمه
شنې روپۍ دي چي خرڅېږي د مصرف غټي بستې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نـــــامردو پلانونـــــــه د پــــــردې تـــــــر شـــــــا جـــــــوړېږي
ډېـــــر هـــــوس تـــــودو اوبـــــو تـــــه هلتــــــه ګـــــرو د دوی کلمـــــې دي

د خــــداې قهـــــر دې نــــازل ســــې تـــــل پــــر شــــومو هـــــدفونو
د چـــــاه کـــــن ځـــــای خپلـــــه ځـــــاه دئ امانزیـــــه بـــــس پلمـــــې دي

ناروې ۲۵ مې ۲۰۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زما ښکلی کندهاره

په تاريخ کې ستا نکلونه
د غزاوو ستا يادونه
ته افشار ويجاړه کړې
دوست دښمن ته ځورولی
هر ظالم تا ته راغلی
شهيدان سول ستا مړونه

***

د دښمن زړه وسله وه
د نفاق ښه وسيله وه
د افغان پر کورجګړه وه
سپر د کور ستا اولادونه

***

نن هم بيا ناورين راغلی
ورور په ورور دئ نن وژلی
ستا زرغون چمن سوځلی
خاوري کېږي ستا سرونه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو ځل بيا اميد و تا ته
مخ دراوړي ستا و خوا ته
شمله جګه کړه سبا ته
بيا ژوندي کړه ستا خيالونه

٭٭٭

د ولس مشوره ګوره
پکتيا دي سکه وروره
ننګرهار د خپلي موره
در په ياد کړه دورانونه

٭٭٭

پښتا نه ټول سره ورونه
يوه ژبه که هوډونه

ټول کړئ يو د زړه رازونه
راوړه نورستا پيغامونه

٭٭٭

د واخانه تر نيمروزه
د مزاره تر ګرديزه
د لغمانه تر جلريزه
ستا وطن دئ ستا هډونه

٭٭٭

زموږ خاوره پښتونخواده
پېښور که وازه خواده

(c) ketabton.com: The Digital Library



لـــــــــراو بــــــــر تهـــــــــول یـــــــــوه خــــــــوا ده
بــــــس کــــــــه ډېـــــــر ســـــــوه ســــــتا خوبونـــــــــه

* * *

دالله نـــــــــــــــه مرســـــــــــــــته غـــــــــــــواړو
پــــــــــــــه زاریـــــــــــــــو ورتــــــــــــــه ژاړو
وطـــــــــــن ډک ســـــــــــو پـــــــــــه ویجـــــــــاړو
امـــــــــانزی احساســـــــــــومه ســـــــــــتا دردونـــــــــه

ناروي ۱۴ د سمبر ۲۰۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ولس مينه

د وطن په ارمانو کي
د ګلشن په زمانو کي
د افغان د زړه قوت وي
ټول احساس ته برکت وي
سولي ته وې زمونږ په زړو کي
ولي والي ووتې د زړو نه
ليري سولې د پېرزو نه
پر بېديا او په درو کي
هدفونه سول نيمګړي
بېچاره سول ټول وګړي
چمن سو په ورانېدو کي
ته چي نه يې تباهي ده
په هر کور کي خپل سري ده
ټول ملت په اندېښنو کي
دسيسه که د اغيار ده
د اولس مينه په کار ده
د سر تاج وي په باندو کي
پر وطن وکړه نظر ته
سد دي راوله وسر ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



# امانزيــــــــه احســـــــاس تـــــــــل وي پـــــــــه رګـــــــــو کـــــــــي

ناروي۰۹ اګست۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پارلمان؟؟؟

پارلمان دئ درغلي ده قضاوت پکښې کې نسته
ټوله چال او چالبازي ده عدالت پکښې کې نسته
ضمير کم وجدان کمزوری چي معنوي ورته خوشحاله
که عالم وربانـدي خاندي وضاحت پکښې کې نسته
دغه بل د شرم ځای دئ يا کمبود قضاوت دئ
عدالت که تامينېږي رضائيت پکښې کې نسته
څوک خلاف د حقيقت دئ يا قانون سره په ضد کي
خپل څېرې به رسوا کاندي ښه خصلت پکښې کې نسته
غل چي غلا کړي يو مجرم دئ مد دګاريې هم هغسي
زړونه ډېر دي خيرن سوي شفقت پکښې کې نسته
اما نزيه دا څه کار دئ ټول جهان وربانـدي خاندي
انصاف نسته په باطن کي ملي پت پکښې کې نسته

ناروي ۲۳۰۲۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کوهکه

زما روح یې زما تن یې
ته زما د ژوند ډېوه وې
تل مې سترګو ته ولاړ یې
خپل سلام زه درلېږمه
احترام د راستومه
ستا بېلتون جوړ کړی غم دئ
شپه او ورځ پر ما ماتم دئ
راته جوړ زړه کې تورتم دئ
زه قربان ستا تر ښایست سم
زما روح یې زما تن یې
ما چې سترګې لغړولې
ننداره ستا د ښکلا وه
ستا په غېږ کې سترګې رونې
ما خال پوخې تا کې کړې
چې ولاړ پر خپلو پښو سوم
ستا د مینې په لیدو سوم
هره خوا پر ګرځېدو سوم
د غره سر ته درختلم
زما روح یې زما تن یې
لا ماشوم د پلار په غېږ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر ښو لرو لاړېدمه
بې خبر وم د نړۍ نه
په شېبو ومه خوشحاله
د غمونو وم فارغه
د بابا سره به ومه
پر باغو به ګرځېدمه
هره ورځ فصلو ته تلمه
ستا په مینه زړه پاچا وو
زما روح یې زما تن یې
د میوو دي منت بار یم
سیال یې نسته په نړۍ کې
شنه باغونه شنې باغچې دي
بې مثاله دي میوې دي
ښکلی کور وې د زمریانو
تفریګاه د جنګیالانو
د افغان د لښکریانو
ارامګاه د زرغونې ته
ستا لمن انتخاب سوله
زما روح یې زما تن یې
نن دي وینم خوار او زار یې
تېرې توري پخې سوي
نه جرګې د میرویس خان سته
نه لښکر د احمد خان سته
ستا د ښکلي غره په سر کې
د پښتون د کور په ور کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بامونو په ممبر کي
ثوک ولاړ توپک په لاس دئ
پر ماشه يې پرته ګوته
زما روح يې زما تن يې
ستا اصلي وارثان څه سول
رشيد خان بيا را ولاړ کړئ
قيوم خان ته هم ورږغ کړه
خپل بابا مي امان جانه
زهير سوي يو له توانه
سرا پورته کړئ له خاوري
په هر کنج کي سته بغاري
تري تم سوه زمه واري
د پرديو په منګل کي يو لويدلي
راته جوړي تلاښى دي
زما روح يې زما تن يې
يوه هيله د ښتن نه
مړ مورال مو راژوندی کړې
د پردي شره مو خلاص کړې
اتحاد زموږ پرده سي
يو د بله پر اوږه سي
نه ستم وي د پرديو
نه ژړا د بې غوريو
نه باران وي د مرميو
خپره بيا يو خوشحالي سي
امانزي زړه کي ښادي سي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمـــــــــا روح یـــــــــې زمـــــــــا تـــــــــن یـــــــــې

ناروي ۲۱ مارچ ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کندهار ته

نن قصي د ترور وحشت دي ستا پر مېنه
افسانې د بد رغبت دي ستا پر سیمه
خپل بي سوچه دي و ځان ته بلا سوي
د پردو په لمسون ځان بیا خرڅوینه
نه پوښتنه درویږنه څوک د چا کړي
ملامت نا ملامت را ترورووینه
لا به څومره پر خپل ځان باندي تېری وي
یا تر څو به و خپل ځان ته بلا وینه
د پلرونو افتخار دي خدشه دار کړي
په عمل کي خپلي پښې را پرې کوینه
پاکه خدایه ته نا اهل را پر لار کړې
امانزیه زړه ازار دعا کوینه

ناروي ۲۰ جولای ۲۰۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ارغنداب

کنــــــدهاره ســـــتا پـــــه غيـــــږ کـــــي ارغنـــــداب دئ
نـــوم يـــې تللـــى پـــه ښايســـت کـــي چـــي شـــاداب دئ
جـــگ مـــي ســـترگو تـــه ولاړ يـــې پـــه يـــوروپ کـــي
زړه زهيـــــر ســـــي پـــــه مغزونـــــو کـــــي عـــــذاب دئ
کلـــــه گـــــورم شـــــين زرغـــــون راتـــــه سمســـــور ســـــي
کلـــــه ويـــــنم کنـــــډوالې زړه مـــــي بېتـــــا ب دئ
هـــــــــره ورځ ســـــــــوي نـــــــــارې د يتيمـــــــــانو
د اصـــــيل افغـــــا ن زړگـــــى بانـــــدي کبـــــا ب دئ
د کوڅـــــو کنـــــډي کړي چـــــي رايـــــاد کـــــړم
امـــانزى ډېـــر گـــروم کـــوي چـــرت مـــي خـــراب دئ

ناروي ۲۷ جون ۲۰۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ازاد او نيمه ازاد شعرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پخې خبري

پخوانۍ پخې خبري

راته ډېري دي سپېڅلي

متلونه پاخه سوي

ترکرو دي راوتلي

د هر چا زړه ته لوېدلي

د افغان باتوره کوره

ناخبر د خپله زوره

مېړني دي سوه کمزوره

د شملې ګل دي ورک سوی

پخوانۍ پخې خبري

غم ټغر دئ غوړولی

زړه زما غلبيل غلبيل سو

پاچهي د ټپوسانو

دورنګي ده د روسانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پردیو پېښې کېږي

ستا نه دِ بري ګیلې کېږي

خپل پر کور توطئې کېږي

څوک وایي وړی نس ښامار دئ

پخوانۍ پخې خبرې

مخ په مخ راته یاري ده

سر مې ورک سنګر مې ورک دئ

د جولای عقل حاکم سو

خپل د هوډ څخه تېر سوی

عزم نسته که هېر سوی

تا د علم امسا څه کړه

ارزښتونه دې لمبه کړه

یا دې نورو ته تحفه کړه

ناراستي د ځان نېستي ده

پخوانۍ پخې خبرې

سیا ست زده کړه په مفهوم کې

دوست دښمن پکښې کې نسته

نه دې پیر سته نه فقیر سته

(c) ketabton.com: The Digital Library



عقل څه وخت پکار ېږي

د بې عقل تخت نړېږي

د پرون ګدا پاچا سو

په خپل کړو باندي رسوا سو

چي و خپل ځانته بلا سو

د ټانټو په کټ کي ناست دئ

پخوانۍ پخې خبري

ټيل ما ټيل دئ په وطن کي

د توري شپې په غلا کي

نور پردیان راته ماهر سوه

مدعي راڅخه ورک دئ

د پلزن ورپسې څرک دئ

هره شپه چي ښه تياره سي

نژدې دوست راته لېوه سي

زما پر وږور خيال د پسه سي

زړه غمجن سي سترګي ژاړي

پخوانۍ پخې خبري

لړمنه د نورو کله

(c) ketabton.com: The Digital Library



تل د زور د پاسه زور سته

هم د سر د پا سه سر وي

د ولس نه دي څه زده کړه

ښه يې زده کړه بيا کوزده کړه

ته د باد پر نيلي سپور يې

نا خبر د کلي کور يې

نن د خپل خاوري پېغور يې

کال دي تېر سو په لکړه

اوس ضرور ده ښه ککره

پخوانۍ پخې خبري

راته غم د پاسه غم دئ

زما پر غاړه نن چاړه ده

سور غمی راته پيدا کړه

په دوستي کي دښمنان سته

پر بغل دي غليما ن سته

تېري سوي څپې پرېږده

ځانته نوي چارې کښېږده

د ازار نه زړه کي رېږده

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه په تمه ته بیغمه

امانزی دي نه منمه

ناروې ۱۵ نومبر ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تاريکه وه

ورور کيسه راته کوله

توره شپه وه تاريکه وه

سرې د ژمي شپې وې

تور لوګي وه په هوا کي خرخېدله

ارامش د روح هيڅ ځاى نه معلومېږي

هره ورځ يو پېښنه کېږي

د اسمان پر مخ پرته توره پرده وه

پورته کښته د اوريځو دبدبه وه

د وحشت لمن خپره وه

توره شپه وه تاريکه وه

په درانه خوب کي بيده وم

نابېره د درنو توپونو رغ سو

زه راوينس سولم له خوبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ویله چي نن بیا ده کومه لوبه

څوضربې د هاوانونو

که مرمۍ وې د توپونو

یا انداخت وو د ټانکونو

چیري بیا نوی ماتم سو

توره شپه وه تاریکه وه

خپل پټو مي پر اوږو کړ

لځي پښې مي ورځغستله

چي راووتم د کوره په کوڅه کي منتظر سوم

غلبلې سولې په زوره

حالت سم نه څرګند بږي

لوړي کرږي پورته کېږي

هیڅ مي سر نه په خلاصېږي

توره شپه وه تاریکه وه

یو وار بیا نور درزهار سو

سوي چیغي تر غوږو سوې

پاس پر سر د ټوله کلي

دوه درې کوره سره پړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویجاړ درې واړه کورونه

نه یې ور نه دېوالونه

چې تر لاندې وه هډونه

توره شپه وه تاریکه وه

لوی واړه تر خاورو لاندې

د چا ماتې ککرۍ وې

بې کسې وه په غمو کې زه لوېدلم

په هیڅ شي نه پوهېدلم

څوک لا وخته شهیدان وه

نور پر لارې ور روان وه

خپل په ځان پورې حیران وه

ما ور وتړلې زنې

توره شپه وه تاریکه وه

زه چې ورغلم صحنې ته

د مړګونو سلسله کې

د خواخوږو کمبودې وه

ببوزلان په وینو رنګ تولې تېېږې

چې شل تنو ته رسېږې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شهادت لره ستنېږي

مرستندوي خو بيخي نه وه

توره شپه وه تاريکه وه

ځني کور تر کور تباه سوه

چا کي يو يا دوه ژوندي دي

هم واړه وه هم ځوانان وه

نر او ښځي ماشومان وه

ما ويل يا پروردګاره

ساتندوی يې مددګاره

رحم وکړې ته باداره

توره شپه وه تاريکه وه

هيڅ ګناه يې نه درلوده

په هيڅ يې غرض نه وو

خپل په مځکه کي لګيا وه

نه اخته د چا په غلا وه

په ښه خوی کي برملا وه

خپل په کور کي سره ټول وه

ټوله يو کور او کهول وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه محتاجه د کچکول وه

توره شپه وه تاريکه وه

نه روغتون په شاوخوا کې

نه ډاکټر وو نه درمل وه

ړندې سترګې مو کتله

ښايسته ځوانان وګوره چې بې واره شهيد سوله

د مرګو مېله پر کېږي

هيڅ مدد نه ور رسېږي

د هر چا زړه پر سوځېږي

توره شپه وه تاريکه وه

د ظالم دښمن له لاسه

لوی کوچنی مو تباه کېږي

سحرګاه سوه د سهار په لمرختو کې

اولس ګرځي په کوڅو کې

خلګ ټول اګاه کېدله

پسپسک سو يو له بله

چې دا څنګه پېښه سوله

توره شپه وه تاريکه وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی ناورين پر ټوله کلي

د افسوس ږغونه پورته

څوک روان سول هديرو ته

د قبرونو جوړېدو ته

دوی ويله خدای ناترسه ظالمان دي

خپل د خلګو دښمنان دي

د پرديو نوکران دي

توره شپه وه تاريکه وه

ښخ سوه ټول يوويشت نفره

دغه خلک بې ګناه وه

سبا ورځ په فاتحه کي

مشران وه په جلسه کي

بس پوښتنه به کېدله

چي دا څنګه پېښه سوله

چا چي کړې دا ګناه ده د لته چا نه پېژندله

توره شپه وه تاريکه وه

خلک ټوله وه په وام کي

ټول جرئت ورځني تللی

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل دښمن ورخخه ورک دئ

هر هوښيار ورته هک پک دئ

يو هد ف ښه څرگند يږي

په يو لاس به هر څه کيږي

که يو نه سو کلی کور به ويجاړيږي

ټو له خلگ په دې سلا سوه

توره شپه وه تاريکه وه

دغه حال چې چا ليدلی

پر اولس يې زړه سوځيږي

زموږ افغان اولس ته گوره

ورور ببزار د خپله وروره

يو ځان خرڅ کړي پر پرديو

ستر گې سرې وي يو تر بله پر چوکيو

د پيسو په وجه باندې اخته سوي پر بديو

توره شپه وه تاريکه وه

ظاهري خبري ډېري

اتحاد راڅخه ورک سو

اعتماد او باور نسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



دورنګي په يارانه کې

خوند د ورور په زولانه کې

امانزيه خپل سري سوه خلګ د ېر ښه په پوهېږي

ورته ګوره خپله دوی پښېمانه کېږي

هسي وخت ورنه تېرېږي

ناروي ۰۲ اکتوبر ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لوی اختره

لوی اختره بختوره

څومره تا ته په هوس وم

ما ويل زړه به مي څه ښاد سي

لږ وزګار به سم له غمه

زه به وکړمه څه دمه

ستا په غېږ کي خوشحالي وي

پاک لباس نوي کالي وي

په هر کور کي مهماني وي

که وطن دي خپل وطن وي

لوی اختره بختوره

که ارام وي لږ فکرونه

د اسلام په ارزښتو کي

که څوک لږ څه معتقد وي

زړه دي سوځي پر وطن خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



رحم وکړې پر ګلشن خپل

د خوارانو غريبانو

د بېوزلو يتيمانو

د بې کسه افغانانو

چيغې پورته تر اسمانه

لوی اختره بختوره

زمونږ کور په کور غمونه

صرف خوشحاله څو کسان دي

زړونه چوي سته دردونه

ډېر ناحقه پرابلمونه

هره ورځ ويني توييږي

سم فکرونه زخمي کېږي

جنازې دي روانېږي

جوړي نوي بهانې وي

لوی اختره بختوره

د نړۍ مسلمانانو

دعا وکړئ لوی څښتن ته

غضب پای ته ورسېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بختور ورته اختر سي

لوی اختر يې بختور سي

زړه ازاد فکر ارام وي

خوشحالي کور کي مدام وي

د اولس څرګند مرام وي

افغانان به سي نېکنامه

افتخار به امانزی کړي

چي خپل سر تر سپلنی کړي

ناروي

۰۴ نومبر ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زه باران یم

زه باران یم په حکمت باندي اورېږم

په بهار کي ښه پیغام راسره مل وي

د ژوندون ښه وسیله یم

طبیعت لره تحفه یم

په شېبو شېبو مي ګوري

انسانان راته محتاجه ښه پوهېږم

ستر قدرت دئ په هوا کي څاڅکي کېږم

هم په غرونو هم ځنګلونو کي ځلېږم

زه اورېږم زه اورېږم

ټول بشر سترګي پر لاري وي و ما ته

محتاجانو ته خدمت دی په پوهېږم

پېرزوینه په رشتیا راسره تل وي

شین خراغ د شنې فضا راسره بل وي

هوا پاکه فضا پاکه تنفس ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هر ګل ښه غوړېدو ته مهربان يم

د زوزانو ژوندانه ته زه روان يم

زه د غرونو هسکو څوکو ته عيان يم

زه اورېږم زه اورېږم

چې زه نه يم پرېشاني په طبيعت کې

د سبحان په ستر رحمت کې حسا ببړم

احساسات د نېکبختۍ ما ته سنبل وي

پروازونه په هوا کې زما لپاره

هم پر لوړه هم پر کښته زما لاره

شاړې مځکې اوبه ومه

شېلې تولې ډکومه

وچې مځکې لندومه

زه اورېږم زه اورېږم

کله کله چې ژلۍ مې پر بغل وي

توپان زما بې ارادې وي

تند شمال زما په خوا سي

يا توپان ورسره راسي

پر چپه مخ راولاړ سو

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما مسير رانه خطا وي

سرګردان پر هره خوا وي

د هر چا سره جفا وي

زه اورېږم زه اورېږم

بهار تېر سي دوبی راسي

ګرمي هم لمن خپره کړي

لږ خوبونه زه کومه

کله کله زه راځمه

منی خپل رنګ را ښکاره کړي

د زوال ما وسيله کړي

حياتي لاره قبضه کړي

شنې شنې پاڼي ژړومه

زه اورېږم زه اورېږم

رژېدل د پاڼو راسي

تويېدل د ګلو بيا سي

ژمی راسي تند بادونه

ارامش د خوند خوبونه

ټول سي هېر د ژوند چرتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه په واوري اليشېږم

زه تږولني ته تحفه يم

امانزي زړه ته توښه يم

زه اورېږم زه اورېږم

ناروې ۲۸ مارچ ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# توره شپه

خدایه کله به دا توره شپه رڼا سي
د وحشت طلسمات بیرته سبا سي
د تاریخ په سخت پړاو کي سرګردان یو
افغاني فکرونه بیا پر یوه خوا سي
لاس په لاس چي ټول خلک سره ورکړي
خط په زغرده د دښمن سره جلا سي
د ملت واګي که ستا په لاس کي نه وي
غلبلې به دي اوچته په هوا سي
د پردیو د یاری نه پرهېز وکړه
مستقبل کي به فکرونه په غوغا سي
د بحران نه د نجات لاره پیدا کړه
عقل واچوه په کار چي زړه شفا سي
د ناسور زخم وجود کي ځاله نیسي
یو وحدت دئ چي هغه لره دوا سي
ناخرګنده اینده لري په مخ کي
عاقبت یي سنجوه چي څه به را سي
ستونزي کله حلېدای سي بې زحمته
پیوسون کي به توښه تر سترګو بیا سي
معاملې دي خطرناکي په وطن کي
سترګي خپل پر پټول ستره جفا سي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هـــــر افغـــــان دي تــــــر خپــــــل وســــــه تـــــــلاښ وکـــــــړي
چـــــــــي غايـــــــــه او ارمانونــــــــــه بــــــــــرملا ســــــــــي
د ظلمــــــــت تېـــــــــر بـــــــــه هلـــــــــه زمــــــــــورږ نـــــــــه تـــــــول وي
امانزيـــــــــه چـــــــــي نفـــــــــرت ورتـــــــــه پيــــــــدا ســـــــــي

ناروي

۲۴ سپتمبر ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تا ته وا يم (پ)...

پـــه تـــاريخ كـــي شـــرمېدلی نـــه دي عهـــد نـــه دي پيمـــان ســـته
پـــه اســـلام كـــي رســـوا ســـوی نـــه دي قـــول نـــه دي ايمـــان ســـته

ډېـــر مختـــوری د د نيـــا يـــې دورنګـــي پـــه تـــا اخښـــلې
شـــرمېدلی د زمـــان يـــې پـــه هـــر كـــار كـــي دي تـــاوان ســـته

پـــه قتلونـــو كـــي ســـهيم يـــې د زرګونـــو انســـانانو
ډېـــر بـــې شـــانه ظـــالم ســـوی نـــه حيـــا نـــه دي وجـــدان ســـته

پـــه ظـــاهره مســـلمان يـــې خـــو پـــاكي پـــه تـــا كـــي نســـته
خپـــل پـــه زړه كـــي منـــافق يـــې بغلـــو تـــه دي شـــيطان ســـته

يـــو وار مـــخ تـــه خـــدای حاضـــر كـــړه بېـــره ښـــه ده د ښتـــن نـــه
فكـــر وكـــړه پـــه ژونـــدون كـــي پـــه انجـــام كـــي دي زيـــان ســـته

ظـــا لمـــان نســـكوره كيـــږي ســـوال جـــواب يـــې دی پـــه مـــخ كـــي
پـــه غضـــب د خـــدای ككـــړ ســـې مســـتقبل كـــي دي پرســـان ســـته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ســــــتا ضـــــمير او بــــا طـــــن دواړه درنــــــه غـــــرق پــــــه توطيـــــو کــــــي
امــــــانزی بــــــه دي شـــــاهد وي چــــــي و مـــــــخ تــــــه دي بيـــــان ســــــته

ناروي۲۴فبروري۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلوريزي

(c) ketabton.com: The Digital Library



* * *

د اور په تناره کې پښتني هيلې سوځېږي
سر تر پايه لولپه سوم لا مې لوړي کرېږي خېژي
زه افغان يم خر پښتون يم تل مين پر ازادي يم
يو ارمان لرم په ژوند کې چې وطن به ابادېږي

* * *

ټول پنځه کسه خوشحال دي بنګلو ته
خپل د ورور وينې زبېښي خوښ دي پيسو ته
کری شپه ډېر سرګردان وي په چرتو کې
چې د غلا پلان تري پردي توښو ته

* * *

درته ګورم چې ورانېږي زما وطنه
هره ورځ به زخمي کېږي زما وطنه
د نفاق ميوې چې کور په کورخره وي
خدای خبر چې به رغېږي زما وطنه

* * *

څوک چې په نشې په زيان د خپل ټولي
يا اګاه نشي په توان د خپل ټولني
دروازې به ټکوي تل د پرد يو
نه به وينې ټول نقصان د خپل ټولني

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



پسرلی سو هري خوا ته د بید مشک سایې جوړېږي
باغ ارم شا پېرۍ ناسته د پلنګه لیري کېږي
تور کاکل پر ستر ګو ځوړند د ښکلا نظیر یې نسته
افغاني کالي په تن کې متیکې باندې ځړېږي

***

اور بل سوی پر سرونو سوځوي کور د پښتون
هر پردی چي کور ته راسي سي دښمن نور د پښتون
سد دي خلاص کړه فکر وکړه چي اصلي خبره څه ده
زما په اند چي تربګني د ه ختموي زور د پښتون

***

د رحمان بابا دېوان به سي په کار خپل
څه ښه وایي چي درېِ اصله دي کړه یار خپل

چي پرېِ غم غلطوم درېِ مي محرم دي
یو قلم دوهم کتاب دریم اشعار خپل

***

اې انسانه پر خپل سر مه کړه ظلمونه
ګوته ایسته د ماشې پرېږده مرګونه
ملامت خو توپک نه دئ خپله ته یې
د ظالم عمر دي لنډ سه ته متلونه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# توان په توان

د پرديو ډېر ګومان پر يوه ټکي
توان په توان باندي ماتېږي په هر څه کي
د دښمن په ژبه ځان که ښه سمبال کړې
نور شکست به يې حتمي سي په ورشه کي

✶✶✶

نن خپل ورور راته اغيار سو زه يې وينم
د پردو نه زهر دار سو زه يې وينم
د وروري لباس په تن خوږې خبري
خو تر شا خنجر په وار سو زه يې وينم

✶✶✶

د ساحل په جنګ څپې د اوبو راغلې
د پتنګ کور ته لمبې د اورو راغلې
يو د تيږو بل د اور سره په جنګ دئ
د افغان پر سر حملې د پردو راغلې

✶✶✶

قافلې د ازادۍ رانه ستنې سوې
د اولس پر زړونو بيا د غمګي شپې سوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خلاصون شمعه خاموشه تاریکه سوه
خوار پښتونه یو ځل بیا جوړي دربې سوې

* * *

ورور هم ورور ته بلا کېږي کله کله
هیڅ د ځا نه نه شرمېږي کله کله
د با با پر میراث سترګي پټې نیسي
خپل ګرېوان ته نه ځیر کېږي کله کله

* * *

د خبرو لوړ ناصحه د کتاب خبري پرېږده
په عمل کي ځان ښکاره کړه د غیاب خبري پرېږده
انسانان څومره ظالم دي رحم نسته یو تر بله
وینې زبېښي بې توکله د عذاب خبري پرېږده

* * *

هم نشین د بدو خلګو تاوان وینې
ابرو توی په سپېرو خاورو نقصان وینې
مشرانو مور ته کړی هدایت دئ
څوک چي مل وي د بد کارو زیان وینې

* * *

که مې غوټه د زړګي خلاصه کړم چا ته
معنی دا چي ځان په کسته ورم بلا ته
که ښه نیت یا بد کردار وي پکښې نغښتی
دواړه یو دي فکر او خیال ترم سبا ته

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کور چاري چي تنظيم وي نظافت دي د مېرمني
که سمبال وي ټولي چاري شجاعت دئ د مېرمني
چي مېرمن په منځ کښې نه وي ټولي لاري دي ويجاړي
ژوند چي څومره ځي پر لوړه صداقت دي د مېرمني

***

بې نشې خمار سم چي را ياد د ګلو باغ کړم
ترانې د خوشبختۍ وي چي را جمع ورته دماغ کړم
خوندوري شپې او ورځې په تلوار سوې لا درکې
اوس ارمان پسې کومه بې فايدې زړه ته سماغ کړم

***

افغانان چي ټول کړېږي څې ګناه ده
ظالمان چي پر غورېږي څې ګناه ده
چي حمله د چپاو راسي تاريکو کي
بې له جرمه طالب کېږي څې ګناه ده

***

نن که ځوان نسل تنوير د خپل ولس په ارمانو سي
د تعليم لاره دي خپل کړي چي اذهان په وينښېدو سي
په روښانه مفکوره به خدمتګار سي د ټولني
ويښ زلميان دي هڅې کاندي چي تياري په ورکېدو سي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فکرونه

زموږ د خوب او خيال فکرونه ولاړه څه سول
څه چي زړه مو نه غوښتله زموږ مله سول
خپل د تور پېکي همزولي سره ورک سوو
پرېشان فکرونه ټوله د وطن په اندېښنه سول

٭٭٭

که ښکاره سي ټول مرموز افکار د فکر
که د عقل او منطق سي لار د فکر
پروانه چي وزر سوځي په پوهېږي
ځکه وي پر دغه کار اختيار د فکر

٭٭٭

نن د عقل مرور پر اس سپاره سول
په پردۍ هيله وطن ته په کاته سول

خپلي ګټي معتبري بهانه کړي ترونونه
خبره مخامخ چي د وطن په معامله سول

٭٭٭

ستا پر زړه چاړه تېرېږي زما وطنه
د سپين ګل پاڼي رژېږي زما وطنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا به چیري ماتوم د هوس تنده
پروقار دي تېرى كېږي زما وطنه

* * *

د هلمند څپي مو ورځ په ورځ بیدېږي
د ترنک شونډي سپېرې رامعلومېږي
ارغسانه غېږ دي تشه د زمریانو
ارغنداب د شملي غمی دي لوېږي

* * *

د خوښی کاسه نسکوره سوه په زړه کي
د رڼا ډېوه تاریکه په هر څه کي
اخترونه او جشنونه دي نور نسته
څه چي كېږي ټول د بل په اجازه كي

* * *

خپل د ځانه بې خبر په نام پښتون دئ
د پردو په جال کي پروت هر ګام زبون دئ
درانه خوب کښي غلبه ده پر راغلي
لاره ورکه هر سهار ماښام مجنون دئ

* * *

ښکلي پېغلې سترګي سري په ژړېدو سوي
افغاني شملي پر سر په ځړېدو سوي
هر څه ګورم چي د خپله لاسه كېږي
پښتني هیلي مو بیا په کړېدو سوي

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی خاوند ه ته د ټول جهان واکدار یې
اختیار ستا دئ چې مالک د لالهزار یې
خیر او شر د هر بشر ستا په اختیار کې
غلیم مات کړې ته ښېتن پروردګار یې

***

شتمني د کور تالا زړه مې پرې پرې سو
دارالامان قصر ویجاړ ا یرې ا یرې سو

خدایه ته پر دې ورانکارو غضب وکړې
ښکلی قصر کنډواله خرې سو

***

پرها رونه د هیواد که مکروبي سول
خپل د لاسه بې له شکه بې غوري سول
د وطن بچیان مزدور سول په ډالرو
په پیسو باندې خرڅ سوي نور پردي سول

***

که د زړه پیغام زما نن عکاسي سي
د قلم په ژبه لیکم چې عیني سي
لوړ پیام د آزادۍ دئ نوي ځوان ته
امانزی به یې لیکي که یې روزي سي

ناروي ۰۷ د سمبر۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# چاربيتي

په خيالو کي د ځوانۍ زه ډوبېدلم
د زړگي پر هوسو به تا لېدلم
خپل د ژوند ښو ښو خاطرو ته ځير کېدلم
گاهي زړه به وو غمجن په ژړېدلم

په خزان کي مرور د زړه هوس سي
مرام ټوله رېږدېدلي خپل په وس سي
چيغي پورته تر اسمانه په جرس سي
زما په اند چي بې له اوره سوځېدلم

چي مسکا په خوله کي وينم د جانان زه
په خوبيو کي ټالېږم د جهان زه
هلته ځان احسان مند بولم د سبحان زه
فکر کړمه په دې حال به نه ارزېدلم

د اسمان ستوري ځلېږي ورته ځير يم
د سپوږمۍ مختته نڅېږي ورته ځير يم
يو په بل باندي نازېږي ورته ځير يم
ډېر رمزونه چي هيڅ نه پوهېدلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



که مي ژبه په بیان سي د غمونو

که د زړه قفس خالي سي د ګرومونو

هغه ټول راته بلا سي په خرمنو

هره ورځ په خپل عمل پښېمانېدلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کورني شعرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نور صباح جاني

هره ورځ چې تا ته ګورم تر حد تېر پر ما ګرانېږې
ډېر زيرک او هوښياره تر هر چا ته راتېرېږې
عمر ډېر دې ستا تحفه وي د ښتن تعالی له لوري
ټوله ژوند دي سه خوشحاله نېکمرغي له هره سيوري
حوادث د ژوند انه کله خواږه وي تر شکرو
يا هم د اسې پېښې کېږي ډېر ترخه وي تر مزرو
دغه ټوله چې پېښېږي د انسان په توان کې نه ده
خپل قسمت به در رسېږي که دي خوښه که دي نه ده
ډېر خوشحاله په ژوندون کې د روښان ټوله حالات وه
هره ورځ وې نوي هيلې ډېر نېکمرغه جذبات وه
يوه توره يښه مه راغله نا ببره په ژوندون کې
خوښۍ ټول په کوچيدو سوې د غمو په پيوستون کې
دا منم چې تقدير هر څه رسموي په خپله خوښه
ټول خارج د چا د وسه نه دي توان وي نه دي هڅه
دغه يو مطلب قبول کړه پېښې ټوله تقديري وي
ګناهګار پکښې کې نسته د ازله تحريري وي
که دروند بار وي د غمونو هسې ځان ځني سيوا کړه
زړه دي تش د غم د بار کړه خپله لاره دي په خوا کړه
دا وصيت د ډېر پخوا نه مور ته کړی مشرانو
پرېږده پرېږده تېر غمونه دا سې کړي عالمانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقیقت خدای ته معلوم ملامت پکښې کې نسته
څه چې پېښ سوه هغه تېر سوه عدالت پکښې کې ښه سته
عمر ډېر دي په نصیب سه د تعلیم لاره کړه خپله
ځان او چت کړه تر همزولو مرسته وکړې یو تر بله
د ښه علم سې خاونده ښه ادب دي په نصیب سه
امانزی درته دعا کړي مرستندویه دي حبیب سه

نا روي ۰۳ اپریل ۲۰۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مراکو

ورانـدي دوه کاله زه تللی په سفر وم
سیاحت و مراکو کي په چکر وم
ښایسته کلي ښارونه په ساحل کي
ښه مي زړه ته نه لوېدله په خبر وم
ټول ښارونه حصار سوي په قلعه کي
شاوخوا جګ دېوالونه په نظر وم
دښمنانو تل حملې پر دوی کولې
زه د دې خاوري تاریخ نه ښه خبر وم
په ساتنه کي د خپل اولس یو لاس وه
هر سړي ویل چي زه د وطن سپر وم
د وطن دفاع ضرور ده هر اولس ته
اما نزی چي په ټول ژوند ارمان په سر وم

ناروي۳۰ اکتوبر۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ښه نيت

هغه څوک چي دعوه کير د صداقت وي
يا په ژوند کي طرفدار د وضاحت وي
زاهدان که په تقوى باندي مصروف دي
يا سمبال په لوړ شعار د عدالت وي
که څوک شيخ وي لاس يي پورته تل دعا ته
په مسجد کي دى خادم د تلاوت وي
د چا هيله خرابات او مناجات ده
يا يي لاره انتخاب د شرافت وي
د چا پاک زړګى د صبر وي الله ته

يا يي ښه نيت پر اولس د حمايت وي
څوک ظالم سي غوښي خوري د خپل ملګري
ور نه تللى خپل ضمير د کفايت وي
چا چي ويني تل زبېښلي د اولس خپل
تو ته کړى يي وجدان د قضاوت وي
خپل عمل د لاري مل مخ ته هينداره
په بد نيت کي تول الزام د خباثت وي
څوک چي خوښ کړي سرخروېي په خپل ولس کي
ښه عمل کړي مخالف د حماقت وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مســـــــتقبل تــــــه څـــــــه پــــــه کـــــار دي امانزيــــــــه
پــــــه پــــــاک زړه چــــــي څــــــه کـــــول د عبـــــــادت وي

ناروې ۲۵ د سمبر ۲۰۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سرباز

ډېر اوچت خيال مى په زړه کي چي سرباز سم
په چوپړ د خپلي خاوري کي ممتاز سم
ورلاهو سوم سمندر ته پټي سترګي
هڅي ډېري مي کولي چي اوباز سم
لالهاند او سرګردان په لوى څپو کي
وهل سولم د هر پاڼه چي ناراض سم
بېغوري تر حد وتلې وه نجات کي
بې خبر چي پروت په جال کي يې همراز سم
نا اميده هلي ځلي د خلاصون سوې
په يو چانس کي د وتلو ترې جواز سم
چي خبر نه يې د لاري مه پر ځغله
خطرونه پکښي ډېر سته چي کم راز سم
دوست دښمن د واړه په نوي بڼه ګوري
عقل وينښ سي ډېر ناوخته سترګی واز سم
امانزی شکر ګزار د خپل قسمت يم
د خلاصون په هيله ناست چی پکښي باز سم

ناروي ۱۹ دسمبر ۲۰۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ولیجان

د ځوانۍ یو اندېوال مې ولیجان وو
خدای شاهد دئ چې بیخي راباندي ګران وو
ښه صفات یې درلودل په یاري کې
ښه غښتلی په غیرت کې نامي ځوان وو
په قصاب باندي مشهور وو کندهار کې
هم د برو دروازه کښې یې دکان وو
پرهېزګار خلک یې ډېر ښه خوښېدله
مرچ اغا ته به ورتلی ثومره یې توان وو
لږ خندا او مسخرې به یې کولې
ښه یې نیت ببخي په زړه کې مهربان وو
ډېر غښتلی دلاوره په خپل وخت کې
خرابات یې خوښېدی ښه یې ګومان وو
د مارانو په نیولو به خوشحال سو
هره ورځ به په لنډۍ پسې روان وو
یوه ورځ یوې ظالمي لنډۍ وخوړ
خپل تر کوره چې راتلی حال یې پرېشان وو
ډېر ناځوان مرګی بې وخته پر مېلمه سو
روح دې ښاد وي امانزیه ښه انسان وو

ناروي۲۱جنوري۲۰۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غمیزه

غمجن زړه مي پرېشان سو پښتون تاج راڅخه ولاړی
ډېر افسوس راته ولاړ سو ځوان سراج راڅخه ولاړی

باتوران پر کمېدو دي خدایه ته مو مددګار سې
لوی ناورین پر موږ راغلی ربه ته زموږ سازګار سې

طاقت ستا په شان کي ډېر دئ موږ بېوزلي بندګان یو
تور ماتم پر موږ راغلی ستا د رحم محتاجان یو

ستر پښتون وو په غیرت کي د فامیل جګه شمله وه
د همت نظیر یې نه وو سراج هر چا ته اوږه وه

دا مرګی څومره ظالم دئ چي تازه ګل یې خزان کړ
امیدونه ټول په زړه کي ډېر بې وخته یې توپان کړ

رحم وکړې پاکه ربه ستا فرمان قبول پر ستر ګو
په دعا درته زاري کړو روح یې ښاد کړې د دوی ګردو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زړه صبر دي خدای درکړي زما ګران حمدالله خانه

امانزی دي غم شریک یم د نور غم سې په امانه

۱۲اګست۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رنګارنګ شعرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ویر

افغانان ټول ویر کې ډوبېږي
پر خپل ولس مې زړه رپېږي
ټول زنګاوات غم کې غمبېږي
افغان ولس اور کې کړېږي
خالقه ته فضل پر وکړې ځه پېښېږي

د یکشنبې ورځې سهار وو
د حوت د میاشتې نوبهار وو
په کلي کور کې پسهار وو
تود په مرګونو کې بازار وو
شپاړس نفره د شهید کور ته ستنېږي

په خبر ټوله کندهار سو
د هر افغان پر زړه پرهار سو
د شهیدانو جوړ ناتار سو
ارمان ارمان را ته تیار سو
د مؤمنانو شهادت مې نه هېرېږي

امریکایان ورځې هر کور ته
په نیمه شپه کې د دوی لور ته
د سرو مرمیو شور ماشور ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خپــــــــل بـــــــــادار پخــــــــواني پـــــــــور تــــــــــه
د شرموښــــــــــانو دي بـــــــــلا تــــــــــه ودرېـــــــــږي

لابـــــــــه تـــــــــر څـــــــــو داســـــــــي وحشـــــــــت وي
يـــــــــــــا د پـــــــــــــردو منافقـــــــــــــت وي
د ښـــــــــو ځوانـــــــــانو بـــــــــه رحلـــــــــت وي
د ماشـــــــــومانو شـــــــــــــــــهادت وي
کـــــــه دا نفـــــــاق وي نـــــــور ســـــــرونه بـــــــه ښـــــــخېږي

فکـــــــــــر کـــــــــوئ پـــــــــــر ظالمـــــــــــانو
ســـــــــوه زهرجنـــــــــه تـــــــــر مـــــــــارانو
بـــــــــې عقـــــــــل دي تـــــــــر لېونيـــــــــانو
پـــــــــه مـــــــــرګ نشـــــــــه تـــــــــر شـــــــــرابيا نـــــــــو
زه امـــــــــانزی فکرکـــــــــوم دوی بـــــــــه ســـــــــتنېږي

ناروي ۱۱ فبروري ۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګونګې ژبه

په ګونګې ژبه مې هر چا ته ګویا یم
د ولس په درد اخته زه شپه بیګاه یم
د بابا توره زړه سوه نه ځلېږي
د شملې غمی لوېدلی که به لوېږي
د نیکونو نام نښان سپېره په دوړو
بېچاره ولس وزګار نه سو له شخړو
ته د فیل په غوږ بیده یې د زړه سره
سې په غبرګو سترګو ړوند ماته ککره
د وطن هیلې نامرادي ورته ګوره
امانزیه خلاص به نه سو له پېغوره

ناروي ۲۹مارچ۲۰۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سیلابونه

اوښکي به قطرې جوړ سیلابونه سي
زموږ به نیمه خوا ټول ارمانونه سي

غواړي دښمنان منګولي ښخي کړي
چور به ذخیرې ټولې کانونه سي

کور په کور به شین وي د نفاق مرض
زړو کي به زخمونه پرهارونه سي

بیا به پسرلي کي ګلان مړاوي وي
هر ځای به ترینګلي اوازونه سي

نه به وي راستي او صداقت منځ کي
ورک به وطنپال ستم تاریخونه سي

د افغان با توره خاوره که ستم کي سوه
لوټ به دي جګ غرونه او باغونه سي

شپې به تر سهاره ماتمونه وي
جوړ به امانزي ته زندانونه سي

ډهلي ۲۲ فبروري ۲۰۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سپوږمۍ

د سپوږمۍ لنګر لوېدلی سمندر کي
داسي بربښي اوربل سوی په چمبر کي
د شغلو ځلا له ورایه معلومېږي
سرې لمبې چارپیره سوي په اختر کي
سحرګاه سوه سپېدې لږ پر چاودېدو وه
پورته کېږي اذانونه په ممبر کي
تماشا وه د ښایست ډېر بې نظیره
شاوخوا سولې کوتري په غمبر کي
بلبلان چي ریز شروع کړي امانزیه
شپې سهار ته روڼوي خوند په سحر کي

ناروي ۲۰مارچ ۲۰۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زنګاوات

دغه خه رنګه انصاف که مساوات دئ
سور په وینو غم لړلی زنګاوات دئ

موراو پلار د خپل بچو سره بیده وه
پټ یرغل د نیمي شپې کوم مجازات دئ

نر او ښځي ماشومان لژند په وینو
خوار ولس ته د مرمیو مکافات دئ

بېرحمان د عدالت کوي خبري
خوعمل ئې د خونخوارو روایات دئ

نه بچیان ئې بې ګناه ټول شهیدان سول
تاسي خدای دغه وحشت که کرامات دئ

شپاړس تنه شهیدان شپږ نور زخمي وه
د وحشي امریکایي اردو عادات دئ

تیل پاشلي اوربل سوی وو پر مړو
امانزیه دغه بل رنګ د تاریخ یو جنایات دئ

ناروي ۱۱ مارچ ۲۰۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ژوندون

تازه پاڼې د ژوندون مې مړاوي کېږي
ښه پوهېږم چې کرار کرار رژېږي
ژوند چينه کې مې رڼې شغلې ليدلې
هغه تولې ورځ په ورځ رانه ورکېږي
د ښايست ګلان خزان ته منتظر دي
د نصيب سره يوځاى به روانېږي
که د تبې غاړګۍ سوه در په غاړه
خداى خبر چې هلته څه به راپېښېږي
څو چې عقل دې رسېږي کار ترې اخله
امانزي په دې لار ټوله ستنېږي

ناروي ۱۴ اګست ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ژوند ثمره

ثمره د ژوند دي ولاړه له اختیاره
ستا نه ورکه خپله لاره له تلواره
سرګردا نه د پردیو په چوپړ کي
وخت عبث در نه تېر سوی په روغبړ کي
دروازې چي ټکوې د نورو خلګو
خورې به ته واري پر سر د غټو ګرګو
شاوخوا مي اورېدل چي ته رهبر یې
اوس څرګند ده سوه چي ته چېرته نوکر یې
چي په لومه د پردیو کي اسیر سوې
ځان دي بایله په ټولنه کي فقیر سوې
سر دي کښته کړه ګرېوان کي څه دي کړي
عام وژنه کي دي خوینده دي کونډې کړي
چي خوشحال یې په عمل د مغرضینو
په ازار به سي ککړ د معیوبینو
نه دي دین نه دي دنیا سوه خوارکیه
ستا نه هر څه ټول خطا سوه لېونیه
یوه ورځ به په غضب د خدای اخته سې
درنه ورک به نوم نښان او بې پرده سې
امانزیه داسي خلګ د زړه سوي دي
څو ژوندي دي په چوپړ کي د پردي دي

ناروي ۲۷ مارچ ۲۰۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لیلې دښت

په سره ژمي نوی غم زما په خوا سو
د نړۍ وحشي ظالم چي په فتوا سو
لو غمیزه به راځي پر ښوځوانانو
ټول جهان حساب کوي پر بګېلانو
کال و دوه زره او یو په دسمبر کي
سوم اسیر د دوستمیانو په چمبر کي
غره سوي ول په زور د خارجیانو
خوشحالي جیبونه ډک په ډالرانو
هر سړي چي به کتل زمور و شان ته
داسي فکر ئې کاوه ګوري حیوان ته
هر ګړی به نوي تبصرې وي
د هر چا به زوروري قوماندې وې
لیري لیري د عقلو بشر دوستي وه
فیصلې به د دوستم یا د پردي وه
وساطت د سره صلیب چي راپیدا سو
لږ امید د نوي ژوند فکر کي بیا سو
فرماندار امریکا او دوستم دواړه
موافق سوه فیصله د غم تیاره
افغاني طالبان ټول به عفوه کېږي
طالبان پاکستاني به رخصتېږي
نور پردي خلک په رنګارنګ ګروپو کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملل متحد ته تسلیمېږي په جوپو کې
د دوستم یو فیصله سوله عیانه
ټول به ځو تر لوی محبسه شبرغانه
څو کړیه وږي تږي انتظار سوو
نابېره د موټرو غرهار سو
په لس هاوو موټران پرله پسې وه
پکښې بار کانتینران او کڼه بې وه
مور په ډله ورولوېدلو کانتینر ته
د پسو په شان ټیله سولو مقر ته
ځای د پښو د درېدو نه وو دننه
پاته نه وه د ژوندون هیڅ نوره تمه
دروازې تړل کېدلې په زورو کې
هم وهل هم ټکول وه په ټمبو کې
څوک لنګی او څوک سدری اخلي بې شانه
ساعتونه او کالي اخلې بې توانه
له قندوزه حرکت سو شبرغان ته
مسلمانه غوږ په نیسه دې بیان ته
چې په لارې ګولایانې وې مارپېچه
طالبان ټول کانتینر کې سوه سرګیچه
په یخنې کې د خولو را باندې چور سو
هر سړی او بو چښلو ته مجبور سو
کړېږي پور ته د ګرمۍ او هم له تندې
که هر څه ناري وهو اورو ملنډي
جاره ورکه خولې په یو بل لګېدلې
خپلې خولې به مو په وینو لندولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو د بل به مو خولې سره ښتلې
بيا هم ډېر و د مرګي سلګۍ وهلې
نيمه لار لا د سفر نه وه تکميله
ښو ځوانانو بيا د مرګ پوله ليدله
په زرو ځوانان شهيد سول کانتينر کي
صرف شل تنه ژوندي پاته وه محشر کي
تاريکه وه چي موږ راغلو شبرغان ته
کندي وختـه ايستل سوي ګورستان ته
په نوبت هر کانتينر تخليه کېږي
بلډوزر باندي تر خاورو لاندي کېږي
په يو چا کي چي نفس لا هم ژوندی وي
بې دريغه د ګولۍ باندي شړپی وي
يوه کنده چي شپږ زره مړه کېږي
د ليلې د ښت کي ځوانان هلته ښخېږي
عجايبه قتلګاه سوه په نړۍ کي
دغه کار وسو کاملاً بې غورۍ کي
کله ټول طالب د جنګ محاصره سوه
هلته شپږ سوه روان بيا مخ پرغره سوه
يو څو ورځي چي په غره کي پر تېرېږي
وږي تږي مجبور کښته راستنېږي
د د دوستم قواوو دوی محاصره کړه
په پلمه ئې يو قلا ته ور ايله کړه
دوی چي ډېر ستړي ستومانه وه بيده ږي
څو يو يو يې د مرګ و خوا ته بيول کېږي
پوه سول ټول چي وژل کېږي بې پرسانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه ږغ د بغاوت پورته به ېې توانه
دوی په ډله حمله وکړه په عسکرو
په لاس ورغله وسله د ځو نفرو
پوره دوه شبانه روزه جنګېدله
ځو یو به په نوبت کې مړه کېدله
شهیدان سوه تر ځو پاته یو بشر وو
قیام خلاص سو جوړ د وینو یو محشر وو
امریکا باعث د ټول وحشي مرګو وه
ډېر فلمونه ډک د وینو په رنګو وه
اوس چپ سوي هیڅ بیان نه کوي چا ته
په پوهېږي امانزي ګوري سبا ته

ناروي ۰۲ جنوري ۲۰۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عالمان

په نړۍ کې ډېر پوهان که عالمان دي
پر ولس ئې ډېر بې حده مهربان دي
خان غریب ته د نېکۍ په سترګه ګوري
مرستندوی وي د هر چا څه ئې په توان دي
نه غرور سته نه ئې پزه په هوا وي
نه خرڅېږي ډېر صادق غوره په ځان دي
په رښتیني عمل ځای نیسي په زړو کې
په ټولنه کې سرخ رویه خپل په شان دي
کبرجن نه دي قانع پر خپل حالت وي
دروغ نه وایي صادق ئې په بیان دي
نه تحقیر نه بخیلي کړي پر وګړو
په ښه خوی کې هر محتاج لره درمان دي
تر شا نه کوي په چا پسې خبري
ټول خواص ئې بې مطلبه ښه روښان دي
داسې خلک افتخار وي د ټولني
امانزیه په رښتیا هر چا ته ګران دي

ناروي۱۲مارچ۲۰۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خپل جهان

که دي ځان په خپل جهان کې مستغرق کړې
جوړي لوی کندۀي کېږي ژوندون ګران دئ
نه پوهېږم چې پر ثه راته اخته سوې
دا سې وايې دې سفر کې ازمون ګران دئ
که یو شمع لګېدلې ستا و مخ ته
پام کوه چې د وطنه بېلتون ګران دئ
که اغزي پلندۀ په شا ولس ته ورسي
د جفا په غم ککړ پیوستون ګران دئ
د پردې تر شا چې جوړي معاملې سي
امانزیه په سیاست کې پټ شون ګران دئ

ناروي۰۱ جنوري۲۰۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د چوپان ږغ

زړه شپېلۍ مې را پيدا کړه چې دښتو ته ځمه
د پسرلي نسيم چلېږي خپل رمو ته ځمه

زړګی مې ډېر پرېشانه سوی د خزان له جوره
ښکلې هوا ښکلی نسيم د زړه مېلو ته ځمه

د ساړه ژمي په منګلو کي بندي وم کور کي
اوس د بهار په هنګامو کي زمزمو ته ځمه

نوی موسم د شګوفو نفس به لږ تازه کړم
خمار خمار د بېلتانه ښايسته غنچو ته ځمه

که په شپېلکي زما د شوندو بلبلان راويښ سي
زه د هغوی د مينې ډکو ترانو ته ځمه

پرېږده چې زه هم ترنم د دوی په ژبه وکړم
د سرو ګلونو د غوټيو تماشو ته ځمه

د دوی په شان به سوی غم له فکره لري کړمه
خپل د شپېلۍ اواز اوچت ستورو شغلو ته ځمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس لا موســـــــم دئ خونـــــــد تــــــرې اخلـــــــه امانزیـــــــه یــــــاره
اعتبـــــار نســـــته پــــه ژونـــدون نـــور انـــــد ښـــنو تــــه ځمــــه

ډهلي ۱۲ فبروري ۲۰۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بوډا

یو بوډا ناست وو پرېشانه معلومېږي
سترګي سرې غم ئې له ورایه څرګندېږي
تور چشمان ئې د کولکو راوتلي
ترغي پرغي وچ شونډان وینه بهېږي
وږی تږی څنګ وهلی یو پسخې ته
د ښې رنګ ئې الووتی پیکه کېږي
نفس کاږي ساه شړي بې له وقفې نه
سر ئې رېږدي پر لکړه تکیه کېږي
ورنژدې سوم چې پوښتنه ورنه وکړم
بې اختیاره ئې سلګۍ په زوره کېږي

بیګاه تللی وم میلمه د اشنا کور ته
اوس مې خپل کلی کو څه نه څرګندېږي
داسې وایي بمباري وه د چورلکو
زلزله جوړه هر څه پکښې ورانېږي
نر او ښځې ماشومان تر خاورو لاندې
لار مې ورکه په چاره څوک نه پوهېږي
امانزی هک پک حیران وم ورته تللی
خدایه ته رحم کوې نور څه پېښېږي

ناروي ۲۵ مارچ ۲۰۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خوب

خوبه ته مي چيري بيايې ننندارو ته
د هلمند پر غاړه ناست يم منظرو ته
رودخانه کي غرغړې نور خاموشي وه
څوارلسم سپوږمۍ ولاړه ځلېدو ته
سپين لنګر ئې اچولی اوبو منځ کي
د کبانو ډلي راغلي ګرځېدو ته
شنې اوبه بيخي شفافي او روښې وې
معلومېږي کاڼي شګي اخيستو ته
نابيره د نهنګ حملې پر راغلې
تاش په تاش هر څه ويجاړ زما چشمو ته

ای خالقه زورواکان څومره ظالم دي
رښا ولاړه توري لوشي ښورېدو ته
د جابر ناورين همداسي زموږ پر خلګو
اميدونه مخ په وړاندي ماتېدو ته
د صياد غشی به کله را پيدا سي
چي نهنګ را برابر کړي ړندېدو ته
امانزيه د مظلوم چيغي دي پورته
اسمانو ته به رسېږي اوربېدو ته

ډهلي ۰۹فبروري۲۰۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جنګسالار

جنګسالار فکر کوي چي معتبر دئ
د افغان ولس له قهره ناخبر دئ
پټه پټه غمازي او جاسوسي کړي
خیال کوي چي پټ د ده دغه هنر دئ
څو لغړه بې سواده پر راټول دي
د هغو مخ ته ئې بل نقاب پر سر دئ
میدان ګرم لوټمار هم رهبري غواړي
دا سي خلک خپل ولس له خنجر دئ
په سل کاله ئې قبوله غلامي ده
امانزیه د غلو خپل ځانته دفتر دئ

ناروي ۱۴جنوري ۲۰۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دانا

که پوهان د فساد ګروسرلښکر سي
عام وګړي به تر نورو لا بد تر سي
مکتبیان چي غلا کوي په سپینو سترګو
قانوني به ګناه ګاره یو په زر سي
چي په زړه کي منافق وي خپل ملت ته
سل په سل کي شرمنده مات ئې وزر سي
که پرهېز سي بې عمله په تقوا کي
خدای وهلي به رسوا مات پر کمر سي
ثوک چي پوهه د خپلو ګټو وسیله کړي
امانزیه مخ ئې تور ورک ئې ثمر سي

ډهلي ۱۵ فبروري ۲۰۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پیمان

زما د رمز او نیاز ملګری چې پیمان سو
د سیا ست ناولی مخ کې راعیان سو
ﯛ پر صادقه بې مطلبه انډیوال وو
د غیرته و پوره پر زړه مې ګران سو
زلزلې د صدا قت لمن کړه څیري
د سید میر سره هر لوري بد ګمان سو
د نامرده اشنایانو یاري مکره
موږ ویله په ماحول کې زیان سو
څوک چې نه لري پښتو او پښتو ژبه
پله بین غوندي دورنګه ئې بیان سو
موږ چې دواړه سر په لاس به ګرځېدلو
نابلده اشنایي ته زړه پرېشان سو
په خبرو نه شل کېږي ا مانزیه
دغه کار په څو څله امتحان سو

ناروي ۲۱ مارچ ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خوشبخت

شکر خدایه ممنون ستا په مرحمت یم
په نعمت د اولادونو زه خوشبخت یم
د ژوندون همتا مې ډېره ملیکه ده
رب دي ورکړي ښه صحت په دغه نیت یم
فرید جان مې مشر زوی د لاس لکړه
د روښان څخه خوشحاله په وضعیت یم
ننګیالی بېخي ارام په خوی خواص دئ
زه ئې خوښ په پته خوله او په عادت یم
ناصرجان د زړه له بېخه مهربان دئ
مفتخر ئې په عمل او ښه خصلت یم

د زړه سر مې ټوله ژوند لور زرغونه ده
فکر کړمه په هغې څه ملامت یم
هما جانه نازولې ده په ژوند کي
له هغې څخه راضي په حقیقت یم
هره مېرور مې تر اولاد په کمه نه ده
منندوی د شګوفې په ښه رغبت یم
د زهرا په ښه ژوندون کي هر څه وینم
لوړحساب هم زه د مینې په همت یم
د لېمې برکت ډېر دئ زمونږ په کور کي
خو پرېشانه ورته ډېر په واقعیت یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پنځو وارو لمسيا نو اوربد ژوند غوارم
نور صباح ته د زړګي په محبت يم
سهارو په خوږه ژبه راته ګرانه
اميدواره د ميوند په شفقت يم
مينه ناکه مروا جا نه ده ترتولو
مطمئن د عايشي په ذکاوت يم
پاکه ربه ته يې هر ځای ساتندوی سې
امانزی ئې خوښ په ډېر ښه تربيت يم

ناروي۱۵ اپرېل۲۰۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کاروان

زما د اوښکو ملغلري به کاروان سي
لا به څاخي څو ازاد افغانستان سي
په ناچله تړونو نه خطا کېږم
تر څو نیت دي بشري کار د انسان سي
ستا چي ذهن جوړوي شالمارونه
په کږو هیلو کاږه به دي ارمان سي
که غبي یا ستر رنګ مو ورک کړئ ستمګرو
پرېږده خپله افغانان ځان ته درمان سي
که ته روند یې په مغزو د بوش بچیه
د غیرت چیغې به ستا مخ ته توپان سي
څوک چي غواړي مېلمستیا بې له پوښتني
پښېماني کې پورته ژر به یې فغان سي
ستا چي طمع د شغلو په ځلېدو وي
ګوره پام کوه چي جوړ به ګورستان سي
قهرجني سري مرمۍ چي په شا ګرځي
امانزي ته هیله ستا خپله به وران سي

ناروي ۰۱ سپتمبر ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سوز

د زړه سوز مې را برسېره کړه قلمه
چې خالي سي صندوقچه لږ څه له غمه
پلنډې ډېرې کوتې سوې په کوګل کې
رانه وایې خله چې زما ده ډېره تمه
د رنځور وطن پیغام پر نوشته کړه
چې افغان ولس بیمار دئ له ستمه
که پردې د نفاق څوړند وي پر سترګو
دا سې ډلې خاماخا زه شرمومه
د ستړیا احساس دي لیري کړه له فکره
امانزی چې څه کوم هغه لیکمه

ناروې ۲۳جنوري ۲۰۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډېوه

په هر کور کي چي ځلېږي ډېوه چا ته
تل دي وي شکرګزار له پاکه ذاته
خوشبختي ئې په لمن کي غوړېدلې
بختور به ځان سمبال کړي دغه خوا ته
چي په قدر نه پوهېږي د مېرمنو
خامخا ئې پښه ښوئېږي خپله څاه ته
بې ملګري ژوند عبث بې ځایه بوله
فکر وکړه چي خوښۍ نسته سبا ته
که نصیب دي تاریک ژوند سو خوارکیه
کور خراب قلم ملا دي سوه ماته
له پېریو تجربه سوه امانزي ته
د ژوندون ثمرې ډيري سته رڼا ته

ناروی ۰۸ مارچ ۲۰۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فلوم

لـــه فيضـــي ســـره د فلـــوم پـــه شـــنې دره کـــې پـــه صـــحبت وم
ناســـت پـــر جګـــې غونـــډۍ بانـــدې منظـــرې تـــه پـــه دقـــت وم
د اســـمان پـــر مـــخ ســـور ژړ رنـــګ مخلـــوط ښـــکاري
ښـــا يســـت لـــوړ د تصـــوره تعجـــب پـــه واقعيـــت وم
سلســـلې د جګـــو غرونـــو د اوبـــو کاســـه پـــه مـــنځ کـــې
ســـرې لمبـــی د اوبـــو زړه کـــې خيـــال زمـــا پـــه حقيقـــت وم
داســـې بريښـــېدله ســـور توپـــان راغلـــی بحـــر مـــنځ کـــې
ډېـــره ښـــکلې ننـــداره وه زه څيـــر ســـوی پـــه هيبـــت وم
مـــوږ منلـــه رښـــتينی ښـــکلا پـــه تـــوان د لـــوی خاونـــد وي
د بشـــرتر وس وي تېـــره امـــانزی ډېـــر پـــه حيـــرت وم

ناروي - ۲۵ جولای ۲۰۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فشار

ستمګره ستم پربږده تمدن تر فشار لاندي
لږ په فکر د سبا سه پیوستون تر فشار لاندي
ماغزه ولي بې اختیاره پروازونه کړي اسمان ته
څه انصاف هم ضروري دئ سم بد لون تر فشار لاندي
زوروره زور دي پربږده څه توښه به ستا نصیب سي
په انجام کي زور ماتېږي ټول سمون تر فشار لاندي
بېغوري د خپله لاسه چوپړ ډېر دئ د پردیو
تاوان رسي خپل وطن ته اوښتون تر فشار لاندي
خدای شاهد دئ امانزیه پښېماني به ورسره وي
سر خوړل به ئې حتمي وي چي پښتون تر فشار لاندي

ناروي ۲۰ سپتمبر ۲۰۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فرياد

نـــــن فريـــــاد مـــــي د زړګـــــي پـــــه ولولـــــو دئ
د اولـــــس د ارمـــــانو پـــــه وسوســـــو دئ
هـــــره ورځ ورانـــــي ويجـــــاړي چيغـــــي پورتـــــه
ظلـــــم پرېـــــږده لا وحشـــــت پـــــه نغـــــارو دئ
د مـــــدوا چـــــاري کمـــــزوري ليـــــدل کېـــــږي
طمـــــع لـــــږده تشـــــويش ډېـــــر پـــــه جګېـــــدو دئ
کارپوهـــــان صـــــرف پـــــه خبـــــرو ښـــــه پـــــوهېږي
د عمـــــل فکـــــر کمـــــزور پـــــه لړېـــــدو دئ
نـــــام نښـــــان د هـــــر مجـــــرم دئ لادرکـــــه
امانزيـــــه پـــــلان جـــــوړ پـــــه توطئـــــو دئ

ناروي–۱۲/ ۷/ ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قناعت

ډېري منډي دي کولې د يو لر توښې لپاره
قناعت درسره نه وو د ناحق دعوې لپاره
يو وار وګوره ګرېوان ته ټول دي خرڅ کړل په ډالرو
نه دي نوم د پلار نيکه سو نه دي لافي په ډغرو
هلي ځلي دي کولې مخ هم ستا پکښې کي تور سو
د چړچو خلګ ئې نور دي مګر ستا پکښې پېغور سو
چوراو غلا چي خلګ کاندي هيڅ ضمير ورسره نسته
طرفدار ئې هم هغسي اخرت نه بيره نسته
قضاوت د وجدان ښه دئ واقعيت ته غاړه کښېږده
عدالت کي سرخ رويي ده دورنګي دي نوره پرېږده
که څوک غواړي که نه غواړي د حساب ورځي رارسي
امانزيه دا قانون دئ نن داغسي سبا هسي

ناروي–۱۴/ ۲/ ۲۰۱۰

# حکمت

د ګلونو په باغچه کي
د حکمت په انګېزه کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلبلان په چونهار سوه
سحرګاه توله بیدار سوه
تورتم ځي په تلوسه کي

د نرګس زړګی اوبېړي
چي شمال کمکی چلېړي
وینم در په دردانه کي

تبسم را معلومېړي
ډکه خوله د خندا کېړي
شین سهار په ازانګه کي

د حکمت شباب ته ګوره
سو پیدا له کومه لوري
د ګلونو په کاسه کي

د لمر وړانګي ښه ځلېړي
زړونه ټول په هوسېړي
عندلیب په ترانه کي

دغه خومره ستر قوت دئ
تمثیل ټول د قدرت دئ
د اسحق په عقیده کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غم

له وطنه جلا سوی غم په سر یم
فکر ډوب د شاعرانو په هنر یم
امېلونه جوړوي د سرو ګلانو
د دوی منځ کې زه بېشکه بختور یم
ګاهي ښکلي باغچه ګۍ کړم راته جوړه
افتخار مې د ټولني په لښکر یم
کله ګران وطن زخمي را مجسم سي
یا هم ورک د ښکلو ښو په حشر یم
ازادي د ګران وطن ته هوسېږم
امانزی دا سي شېبو ته منتظر یم

ناروي ۱۳جنوري ۲۰۱۲

# قول

هغه څوک چې مخ ته نه لري غمونه
پیدا کېږي بېخي لږ دا سي وختونه
په رشتیا کې پېژند ل د انسان کېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په د روغ کي تباهي د جهان کېږي
دواړو منځ کي عدالت پر مېزان کېږي
خلک څه کړي په انصاف ګوري کارونه

***

حقيقت وي ترخه وي لکه زهر
ثمره ئې د خوښيو شانته بحر
پټول ئې جوړوي زړګي ته قهر
همېشه به زړه لري قوي دردونه

***

د غټانو په درواغو کي تاوان سته
مشران که په عادت وي پکښې زيان سته
پوهان وايي په هر لوري ئې نقصان سته
دوی به وينې خپل په ژوند کي ضررونه

***

په ظاهره که زاهد ورنه تېرېږه
پرهېزګاره په عمل کي ته ښورېږه
څه چي کړې لر څه د خدايه وبېرېږه
پښېمانۍ ته امانزيه هيڅ به نه وي فرصتونه

ناروي ۲۴ سپتمبر ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پوهه

د پوهي ډېوه بله پښرفتونه په نړۍ کي
د جهان په تکامل کي بدنيتونه په نړۍ کي
مقصدونه جهاني سول د ناټو تر نامه لاندي
شتمني د بل ملک غلا کړه يا مرګونه په نړۍ کي
نام نهاده شعارونه ساختګي ديموکراسي ده
څه چي نغښتي په مرام کي سوه ظلمونه په نړۍ کي
په قوت چي احساسېږي نفاق لويه وسيله ده
جګړه جوړه کور تر کوره پټ رازونه په نړۍ کي
علم ځغلي تر اسما نه د پښرفت خبري ډېري
ورته ګوره امانزيه هدفونه په نړۍ کي

ناروي - ۲۶ اکتوبر ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لراوبر برېښنایي کتابتون

**قدرمنو لوستونکو !**

تاسو کولائ سئ د لراوبر ويبپاڼي په برېښنايي کتابتون کي زيات شمېر ارزښتناک او په زړه پوري آثار په خپل تفريحي وخت کي مطالعه کړئ .

د لراوبر انلاين کتابتون ستاسو لپاره د لاندينيو موضوعگانو اړوند آثار پر ليکه کوي :

- **اسلام او مذهب**
- **ساينس او تخنيک**
- **سپورټ او روغتيا**
- **هنر او ادبيات**
- **دماشومانو لپاره**
- **تاريخ او سياست**
- **بېلابېل آثار**




**www.larawbar.net/library**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**